# د افغانستان د سینما بشپړ تیالی بهیر

## The complete process
## Of Afghan Cenama



لیکوال: پوهنمل عبدالواحد نظری

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغا نستان دسینما دلو مړنی سیمنار په مناسبت
داطلاعاتو او فرهنګ وزارت

# دافغانستان دسینما بشپړتیایې بهیر

پوهنمل عبدالواحد  نظري

دکتاب نوم: دافغانستان دسینما بشپړتیایې بهیر.
لیکوال: پوهنمل عبدالواحد نظری
دپوښ طرح: ولید احمد
دیزاین: پوهنمل عبدالواحد نظری
اول چاپ ۱۳۹۰
ټایپ: سید محمود

## فهرست :

### لمړی برخه:

پوهنمل استاد نظری او افغانی سینما .................................. الف
سریزه .................................................. ث
مځینه.................................................. ۱
پیل ، لومړی دوره........................................ ۷
دوهمه دوره، افغان فلم.................................... ۱۵
لو مړنی فلمی تجربي هنری لنډ فلمونه........................ ۱۷
لومړی مسلکی ډایرکټر اولومړی مکمل افغاني داستا ني فلم .... ۲۰
لومړی تاریخي فلم ، لومړی شخصی پروډکشن.................... ۲۴
دریمه دوره: سینما او سیاست................................ ۲۸
لومړی ګډ فلم............................................ ۳۳
شخصي پرو دکشنونه او خپلواک سینما ګران.................... ۳۵
څلورمه دوره ، سینما خپل رنګ بدلوی........................ ۴۰
لومړی جهادي فلم ......................................... ۴۸
افغانی نیو ریا لستیک فلم.................................. ۴۹
مستند فلمونه ............................................ ۵۲
کارتوني فلمونه........................................... ۵۵

نړی او افغانستان ....................................... ۵۷
بهرنی فلمونه ................................................. ۶۳

## دوهمه برخه:

افغانی فلم جوړونه په نورو هیوادو کی ................................۶۶
خپلواک تلویزیونونه او تلویزیوني فلمون................................ ۷۰
ملی تلویزیون................................................... ۷۲
تلویزیونی مستند فلمونه..........................................۷۹
نړی واله بریا ................................................. ۸۱
ننی ځوان سینما ګران او دیجیتال فلمونه.............................. ۸۷
مستند فلمونه................................................ .. ۹۰
کارتونی فلمون.................................................. ۹۳
ښځي او سینما ............................................. ۹۴
شخضی او تجارتی پرودکشنونه،و او غیر مسلکی سینماګران............ ۹۷
ضمایم: سینمایی افغانی فلمونه،سینمایي مستندفلمونه.......................۹۹
دځینو سینما ګرا نو لنډ ژوند لیکونه..................................۱۱۸
سینمایي البوم ............................................. ۲۶۵

# پوهنمل استاد نظري اوافغاني سینما

له سږ( ۱۳۸۹ ) ل.ل کال څخه پوره نهه کاله وړاندې ( ۱۳۸۰ ) ل.ل کال کې مې له هیواد څخه بهر دکډوالۍ په آواره، غمجنو او سرګردانه شپو ورځوکې د روسیې د مردودې سیمه ایز اسلامي جمهوریت دبراشپوې دقریې په نمناک او ځنګلیز( ۲۲ ) نمبرزون کې په تول ژوندکیې دلومړي ځل لپاره دایران دسینما په هکله یوپنډ کتاب له ښکلو سینمایي عکسونو سره لاس ته راغي، هغه کتاب میې ولوست، خوښ مې شوخو اندیښمن یې کړم، په زړه کې مې مړ ژوانده سره وڅرخیده، له ځان څخه مې ویوښتل:

- آیا زموږ هیواد وال خلاق،هنري او مبتکر استعدادونه نه لري ؟
- آیا زموږ خلک سینما، تیاتر، تمثیل، سرکس، موسیقی او روحي غذا ته ضرورت نه لري ؟
- آیا داسې ورځ به راشي چې موږ په خپل هېواد( افغانستان ) کې دخپلو سینمایي برياوو په اړه کوم کتاب ولرو ؟
- آیا په افغانستان کې به دسینما هنرپرمختګ او تکامل وکړي ؟...

منځ کې نهه کاله تیرشول. له نیکه مرغه خوورځې دمخه ښاغلي پوهنمل استاد ډاکترعبدالواحد نظري صاحب دکابل پوهنتون دښکلو هنرونو دپوهنځي دسینمادڅانګې استاد،دافغانستان دملي راډیو-تلویزیون عمومي رییس رانه دخپل کتاب ( دافغانستان دسینما بشپړتیایي بهیر ) دادیټ هیله وکړه.

داچې نظري صاحب دافغاني سینما او تصویري هنرونو نومیالي، مجرب، وتلی فنکار استاد دی او دمسلکي سینما په برخې کې د دوکتورا ترکچې څانګیزې زده کړې لري، دی ماته ډیر منلی او قدرمن شخصیت دی ځکه مې ورته د ګڼ شمیر وظیفوي مکلفیتونو، فرهنګي بوختیاوو او ادبي مشغولتیا ووسره سره دنه ځواب ورنه کړ او ده سره مې هوکې وکړه...

نظري صاحب دخپل کتاب یوپرنت راولیږه، ماهم په مینه مینه، پوره ځیرتیا او کاملې پاملرنې له نظر څخه تیر کړ. دکتاب تصحیح راته دلو ستلو ښه پلمه شوه.

داکتاب مې په پوره غور له پیل نه ترپایه پورې ټکي په ټکي ولوست. ډېر خوښ شوم او دپاک خداي ( ج ) شکرمې ادا کړ: دابښه ده چې زما ځوانیمرګه هیله نظري صاحب زما په ژوندکې ژوندۍ کړه. په دې معنا چې ده دافغاني سینما او تصویري رسنیو په اړه داکتاب ولیکه او د لوستلو وياړ يې تربل هرهیواد وال دمخه زما په برخه شو.

پوهنمل استاد عبدالواحد نظري زموږ دګران هیواد دځواني او خوارۍ سینما دهنر یومسلکي ډایرکټر، نومیالي سناریست، ویاړمن ملي کادر او نږیوال هنري فنکار شخصیت دی.

زموږ دهیواد سینما په مستقیمه توګه دښاغلي نظري صاحب له نوم، استعداد، کاري ( عملي ) تجربې، نه ستړي کېدونکي هاند او تکل سره نه شلیدونکی پیوند، تلپاتې تړاولري. استاد ډاکتر واحدنظري صاحب زموږ دسینما ګڼ شمېر فلمونه ډایرکټ کړي او سناریوګاني لیکې دي،

زما په ګومان داستاد نظري صاحب داکتاب دافغانستان دسینما بشپړ تیايي بهیر زموږ دټولني په اوس مهال او راتلونکي زمانه کې ډېر ضروري او زیات اړین کتاب دی داځکه چې داکتاب په حقیقت کې زموږ دسینما او تصویري رسنیو ( افغان فلم، ملي تلویزیون، شخصي تلویزیونو، شخصي پروډکشنو او د دوی دلاسته راوړنو ) يوه لنډه او عمومي تاريخچه ده. داکتاب دپښتو ژبې په ټولو کتابونو کې لومړنی او استثنايي کتاب دی چې دافغانستان دسینما توګرافي او دافغانستان دسینما بشپړتیايي بهير پکې څېړل شوی دی.

زموږ دهیواد دلوړو اوځانګیزو زده کړو ( دسینما اوتمثیل دبرخو ) محصلین اوځوان توکم کولی شي چې له دې کتاب څخه ډېر په زړه پورې معلومات ترلاسه کړي اوپه خپلو درسي-عملي-هنري فعالیتو نوکې یې دیوه ډېر مهم اصل ( ضروري موخذ ) په توګه وکاروي. زه ښاغلي ورور ډاکترصاحب استاد عبدالواحد نظري ته ددې کتاب دلیکلو او چاپولو مبارکي وایم. دده په دې سترکار، ابتکار او ویاړکې نه یوازې خپل ځان شریک بولم بلکې هر افغان، افغان هنروال پکې شریک دی. په دې کتاب به هرلوستی افغان د زړه له تله فخر کوي. زه دښاغلي نظري صاحب دلاسترو برياوو په سپیڅلي هیلي خپلي خبرې پای ته رسوم.

په ډېره درناوي محمدعزیز تحریک د تعلیمي نصاب دپراختیار اودرسي کتابونو دتالیف دریاست علمي اومسلکي غړی

١٣٨٩/٣/٩ ل. ل. کال

# سریزه

څرنگه چي ربښتني او حقیقي هنر دانسان دستررروح دتفکر او خلاقیت زیږنده ده او د انسان د روح سره ډیر نږدي او تلپاتي اړیکه لري په همدي وجه دسینما هنر د هغه دجوړښت یاني تصویر، موسیقي او بصري الاتو سره سره، دټولو انسانانو لپاره دپوهاوي او درک وړ دی. دهمدي وجي له مخي دسینما هنر د میلیو نو نو انسانانو د روح او روان سره د اړیکو موندلوپه برخه کي بي ساري توان او قدرت لري. داصلاحي او روزنیزو نظریو په برخه کي، دسینما دهنر څخه استفاده تل ډیره اغیزمنه وه او ده. د سینما راتگ دخبرتیا ورکو لو تعلیم ورکولو او د خلکو دساعتیری په نیت وه. دافغانستان په مذهبي ټولنه کي او دخلکو د ذهني برداشتو نو له مخي سینما د اوږدي مودي لپاره و هغي ته دسپکي او بي لاري کونکي پدیدي په سترگه کتل.

په افغا نستان کي دفلم جوړول له هغي نیتي نه پنځوس کاله ورو سته چي دلومیرد وړونو متحرک فلمونه په ۱۸۹۵م کال په فرا نسه کي دلو مړي ځل لپاره د پردی په مخ وښودل شول، هغه هم پرته له دي چي دفلم جوړولو لپاره د اړتیا وړ تخنیکي پر سونل او وسایل په واک کي ولري. تر ډیره دا فلمونه په غیر حرفوي او اماتوري ډول جوړیدل. په لومړي سرکي د رشید لطیفي په مشري دتیاتره یوه ډله دهغه وخت دهند دلا هور ښارته چي هلته نوموړي صنعت او فلمی ستډیو گانو شتون درلود ځي، ترڅو د ( عشق او دو ستی ) په نامه افغاني فلم جوړکړي.

. په ۱۳٤٤هـ ل کال دلومړي ځل لپاره دمطبوعاتو د مستقل ریاست په تشکیل کي د عکاسي او بیا دفلم اخستلو لوی مدیریت جوړیږی، چي وروسته بیا د افغان فلم موسسه په کار او فعالیت پیل کوي. چي په پیل کي ددولتي غونډواو د وخت دپاچا دسفرونو ته انعکاس ور کوی او بیا ورو سته دهنري فلمونو تولید پیلوي.

پنځوسمه او شپیتمه لسیزه زموږدملي سینما په جوړیدو کي ټاکو نکي ونډه لري. سینماد دولت ترملاتړ لاندي راځي. دولت چي دخپلو تبلیغاتولپاره دسینماپه اغیزو او ځواک پوهیده اویوه شمیر مسلکي پرسونل چي په هیوادکي دننه یي دکار په بهیرکي دکار تجربه ترلاسه کړي وه. او نورو چي په سوسیالستي هیوادو او هندوستان کي دسینما په څانگه کي زده کړي سرته رسولي وې، په منځني حدیو سینما یي مرکز منځ ته راځي، او نورو زیاتو لاملونو دي ته لاره پرانستله چي دافغان فلم په وړه

ستدیوکي هرکال ترڅلورو، پنځو هنري رنګه او تور سپین فلمونو او په لس ګونه مستند فلمونه جوړ شي. په همدې کلونوکي د تلویزیون په پرده هم د کاله څلور پنځه لوړ او لنډتلویزیوني فلمونه، سریالونه ننداري ته وړاندي کیږي. افغاني فلمونو په بهرنیو فستیوالونوکي د ګډون لاره مو مي، جایزي او دیپلومونه ترلاسه کوي. اوحتي افغاني سینما ګران په نړیوالو فستیوا لو نو کي د ژوري هیئت دغړوپه توګه بلل کیږي.

او نن چي بیا دفلم جوړول البته په ویډیویي تو ګه پیل سویدي دی، اویو شمیر فلمونه چي دافغانستان څخه دبا ندي په خارجي هیوادو کي جوړیږي، اویا هم د خارجي کمپنیو له خوا مرسته ورسره کیږي او یا ددوی په مالی مصرف او وسا یلو جوړیږي. ددي ټولو څیرنه، زموږ دسینمایي هویت پیژندني ته موږ نږدي کوي.

هغه څه چي ما ددي کتاب لپاره غوره وګڼل همدا ( ۱۳۵۰ ) او( ۱۳۶۰ ) کلونه دي چي زموږ دملي سینما په جوړیدوکي ټاکونکی ونډه لری. بیا خو په ځانګړي توګه بشپړمه لسیزه چي دافغانستان د سینما دطلایي دوري په نامه یادیږي، همدا دوره ده چي د افغاني سینما د عطف د نقطي په حیث په دي ارزي چي تر مطالعي لاندي ونیول سي. دغه دوره د (اندرز مادر )۱۳۵۲ هـ.ل دفلم څخه چي یو کامل افغاني لوړ فلم دی، چي تولي چار ي یي د افغاني سینماګرانو پرلاس دننه په افغا نستان کي تر سره کیږی،چي تر( دکو څو سرګردان ) ۱۳۶۹ کال پوري ادامه پیداکوی.

دلو مړني فلم ( عشق او دوستي ) ۱۳۲۵څخه تر ۱۳۸۱ کال پوري نور فلمو نو چي جوړ سوي دي، هغه آثار دي چي یا دلومړیتوب له وجي مکث و رباندي سوی دی او یاهم دیوي خا صي دوري او یا دیوه خاص لید او یا ژانر او موفقیت له مخي څیړل سویدي، چي دا فلمونه اکثره په منفرده توګه جوړ سویدي، نه دیوي مکملي دوري په څیر. تلویزیوني فلمونه، په بهر کي دافغاني سینما ګرانو په لاس جوړ سوي فلمونه هم په دي لړکي را ځي.

ددي دوري ټول فلمونه په زړه پوري او د تائید وړ نه دي او اتیا په سلو کي تبلیغا تي، سیا سي فلمونه دي، بلکي دا یو مسلکي پیل دی، چي لازمي هڅي دیو ي مسلکي سینما لپاره پکي ترسره سویدي، دسینما دپرمختګ په مجموع کي( مسلکي پرسونل، سینمایي لوبغاړي ) د سینما دبیان او سینماته د خلکو او دولت دتو جه راګرځولو لوی عا مل وو.

تر او سه چي ددنیا تو جه تر یوه حده زموږ و سینماته را ګر ځیدلي ده هغه هم د ځینو لنډو هنري او مستندو فلمو او یا هم د اسامه د فلم تر نړی وال بری وروسته او په خاص ډول د نوي سیا ست له پلوه ده. خو په خوا شیني باید ووایم چي تر اوسه لا د یوي اکادمیکي، حرفوی او با هویته سینما خاوندان نه یو او نه مو هم ددی کار لپاره مسلکي امکا نات تر لا سه سویدي.

که چیري په افغانستان کي حالات نه واي بدل سوي نو تر ډیره په اتیاومو کلونو کي دي هیلي زور اخیستي و چي د شلمي پیړي ترپایه به حتماًَ یوه با هو یته ملي

او اکادمیکه سینما ولرو. ځکه په دي کلونو کي سینما د دولت تر حمایت لا ندي وه او دولت دخپلو تبلیغاتو لپاره وسینما ته ضرورت درلود، اودبلي خوا دیوه مسلکي پر سونل چي په افغا نستان کي یي تجربه تر لا سه کړي وه اونوروچي دسینما په برخه کي تحصیلات کړي وه منځته را غلي وه. ولي دمجاهدینو درا تگ سره۱۹۹۲م د طالبانو تر را تلو پوري موږ یوازي دیوه فلم شا هدان یو. په دي دوره کي دفلمونو جوړول په خا رج کي زور اخلي، ځکه چي ډیر سینما گران له هیواده څخه وزي، ډیر داسي کسان چي نه تحصیل اونه هم سینمایي تجربه لري، وسینما ته مخه کوي

دبین المللي قواوو په را تگ سره، د طالبانو له پر شاکیدو ورو سته ۲۰۰۲م بیا دا امید پیدا کیږي چي اوس نو باید دنورو هیوادو په مر سته سینما خپله لار پیدا کړي. خارجي سینماگران کا بل ته را ځي، ځیني افغاني سینماگران بیرته هیواد ته را ستنیږي، هغه ځوانان چي په پا کستان او ایران کي یي دسینما په هکله زده کړي کړي دي خپل هیواد ته په را تلو سره د شخصي پرو دکشنو په جوړولو پیل کوي. په هرو ځو ور ځو کي دیوه فلم دافتتاح شاهدان یو، خو دا فلمونه چي زیاته برخه یي دیوي ډلي غیر حرفوي کسا نو له خوا په غیر فني ډول په بي کیفیته CD گانو کي بازار ته را ځي، چي دافغاني فلمونو رنگ نه یوازي بیرنگه کوي، آن په مجموع کي زموږ وسینما ته چي وروسته پا ته ده ډیر زیان رسولي دي... ولي بیا هم ددي ستونزو سره سره په ډیرو هیوا دو او په خپله افغا نستان کي هرکال دلنډو هنري او مستندو فلمو نو فیستوالونه جوړیږي. دکابل پوهنتون دهنرونو دپو هنځي په چوکاټ کي دسینما ددیپار تمنت جوړیدل او داسي نور... په خو شحالي ووایم که په خوا شیني چي زموږ سینما د نورو هنرونو په تناسب لنډ عمر لري،ډیري لوړي ژوري دموضوع د تنوع دژانرو او سبکو رنگیني په کي لږده.ددي لنډو خبرو په پاي کي دي نتیجي ته رسیږو چي په افغاني سینماگرانو کي دا ظرفیت سته چي افغاني سینماته، سینما یي استتیک د پیچلي سینمایي هنري بیان سره اوسینمایي روانشنا سي ور په برخه کړي، آن دیوي اکا دمیکي او حر فوي سینما د جوړیدو زیري له ځانه سره لري، خو په دي صورت چي سینمایي مسئولینو له خوا صادقانه کار ورته وسي، چي دخورو ورو سینما گرانو د را ستنیدو ته لاره هواره کړي. ددولت له خواله مالي او معنوي پلوه په جدي توگه حما یه سي. تر څو د سالم او حرفوي ارزښتو پر بنیاد سینمایي مرکز په را منځته کیدو سره تولو سینما گرا نو ته دکار زمینه دنویو ژمنو او غوښتنو په رڼا کي ترلا سه سي او همداراز موثره تبلیغاتو او سالم نقد او ارزونه به دا امکان ترلاسه کړي چي هر څوک چي دفلم په جوړولو لاس پوري کوي دمسئولیت په احساس سره دا کار تر سره کړي.

د طالبانو تر دوري یا تر عیسوي ۲۰۰۰ کال وروسته لازمه بولم په را تلونکي کي دا سینما چي او س یي ځرک لگیدلی دی، په پوره توگه وڅیړل سي، چي ما یي دلته یوازي ځیني فلمونه چي په بهر او داخل کي جوړ سو ید ي یادونه کړی

ده، خو ددي دوري لنډ هنري فلمونه، مستند فلمونه، نوي ځوان رسالتمند سینما ګران، بازاري سینما او په نها یت کي فستیوا لونه او ددنیا تو جه، چي په دي رساله کي یې امکان نه و.

په دي کي شک نسته چي د افغا نستان د ټو لو سینما ګرا نو، ډا یرکترا نو، فلمبردا را نو، منتا ژو را نو،کمپو زیتورا نو، پرو دکشن مینجرا نو، سونډ مینا نو، دچا پ او پرو سس مسئوولینو، ممثلینو، پرو دیو سرا نو، د کار، زحمت او خلا قیت په پایله کي،افغا ني سینما منځته راځي. په پر نسیپ کي په ټو له دنیا کي د یوه فلم په جو ړولو کي تر ټو لو نه په خاص ډول د ډا یرکټر مو جو د یت ضرور دی چي دیوه فلم دکا میا بی او هنری ارزښت مسئوو لیت ور په غا ړه دی، ولي دده تر څنګ پرو دیو سر، څو ک چي دفلمي کمپنی په را س کي دی او یا هم دفلم پیسي ور کوي هم دفلم دموفقیت مسئوولیت لري، حتی په امریکا او ځینو مشهورو کمپنیو کي کله چي به دشو ټینګ چاري تر سره سوي ډا یرکتر نور پر خپل فلم با ندي واک نه در لود، دده کار خلا صیدی او پرو دیو سر به پخپل زړه او خوښه دفلم مونتاژ او نوري چاري تر سره کولي. ولي په افغا نستان کي یوا زي او یوا زي دیو ډا یرکټر په اړیکو او امکاناتو یو فلم پیل او پای ته رسیږي، دا ځکه چي زموږ سینما تر دا او سه پوري په اماتوري ډول جو ړیږي. نو همدا علت دی چي ددي سینما په منځته را تلو کي دیوه ډا یرکټر رول تر هر بل چا بر جسته او پیا وړی دی، ( تک فردي سینما ). دلته که شخصي پرو دکشنونه هم جوړ سوي دي، یا به حتما دهغه رئیس او مشر خپله ډا یرکټر و او په خا صو حا لا تو کي اکتور و، او ځینو که بیا په دي لا ره کي پانګه هم اچولي ده په دي هیله چي دسینما په رنګینه او خیالي غیر کي ځانته او یا خپلي کورنی ته ځای پیدا کړي او په همدي لړی کي دفلم په جوړولو هم لاس پوري کړی دی. دبیلګي په توګه:

نذیر فلم: محمد نذیر،( اکتور ) آریانا فلم: لطیف احمدي، ( ډایرکټر ) ،ګلستانفلم: مهدی دعا ګوی( ډایرکټر )، شفق فلم: توریالی شفق، ( ډایرکټر )، قیس فلم: سلیمان علم ( فلمبردار ) او دا سي نور....

او په رسمي اداره یا ني افغان فلم کي هم ددي مو سسي مشر په هره دوره کي حتماً یو ډا یرکټر او یا په نهایت کي سینما ګر و:

سلطان حمید ها شم، عبدالصمد آصفي عبدالخالق علیل، عبدالوا حد نظري، لطیف احمدي، صدیق برمک .. ددي یا دوني او تبصري څخه زما مطلب دا دی چي هره سینما خپل ځانګړي خصوصیات لري، زموږ سینما تر دا ا وسه پرخپل هغه لومړني حالت پا ته ده، او دا تر ډیره حده دنورو کار کوونکو، کامره مینانو، ارت ډایرکټرانو، سونډ مینانو، پرودکشن منیجرانو، آن کمپو زیتورانو پرکار با ندي نا وړه اغیزه شیندي، دیوي خوا دا برخي تر ډیره حده خپل لازم مستقل مسلکي رشد ته نه دي رسیدلي او دبلي خوا لکه چي لیدل سویده، دوی د یوه فلم لپاره پخپله برخه کي لکه ډایرکټر خپل کنسپت او هنري پلان نلري او یوازي دشوتینګ پر

وخت خپل خلا قیت او هڅي کار وي. او له همد ي کبله هم دی چي د دوی نو مونه معمولاً د ډایرکټر تر سیوري لا ندي را ځي او همدا راز زموږ سینما تر ا و سه لا تجا رتي سوي هم نده چي ددنیا دتجارتي سینما په شان د ستورو په نامه ونو مول سي او لو بغاړي لا هم تر اوسه په دي نه دي توا نیدلي چي فلم د دوی په نا مه یاد سي. او همدا علت دی چي تر اوسه لا دا سینما د ډا یرکټر په نامه یا دیږي.

دانه وایم چي دا سینما دلنډعمر خا ونده ده،که دلو مړي فلم عشق او دو ستي څخه حسا ب کړو نو نن دا سینما تر شپیتو کالو زیات عمر لري، اوکه د افغان فلم دجوړیدو څخه دا وشمیرو نو دڅلوېښتو زیات کلونه لري. چي دا زیات وخت دی، خو بد بختانه په دي ټولو کلونو کي دیوي خوا دسیستما تیک تکامل زمینه مسا عده نسوه، دبلې خوا سیا سي ناخوالو هم ددي نوی بنسټه هنر پر پرمختګ با ندي لکه د ژوند هره بله برخه ناوړه اغیزي وکړي او هري کودتاه او بدلون دا د سقوط سره مخامخ کړه، دبلي خوا ددي پدیدي سست حرکت، غیر مسلکي پیل او د لازمي حمایې نه در لودل دا سینما دخپل سن په مقایسه، ډیره وروسته پا ته وساتل.

دا دي هم هیره نه وي هغه څه چي ددي سینما مطالعه نوره هم دستو نزو سره مخامخوي په دي سینما کي دزیاتو غیر مسلکي کسا نو شتون، دغیر هنري او بي محتوا فلمو جوړول، دسینما دټولو مرکبو برخو نا متوازن پرمختګ، دبیان، ژانرو او سبکو دتنوع نشتوالی اودلږو فلمو نو درلودل، ما دیته اړ با سي لکه څنګه چي لا زمه ده ونه سم کولای، په تحلیلي تو که دسینما ګرانو او فلمونو مقا یسه دیوه دا سي تحقیقي اثر لپاره تر سره کړم. د افغانستان سینما، دنورو هنري اوتو لنیزو واقعیتونو په څیر، ورو ستیوکي، هم دشکل او هم دمحتوا له مخي کیفي بدلون موندلی دی دربنتیني او ټولنپالي سینما لورته یې مخه کړیده.

ددي اثر عمده مسایل زما دمشا هدي او فلمونه دلاس رسی نتیجه ده، مصا حبي دیخوا نیو سینما ګرانو سره او ددوی په لاس ددوی بیو ګرافي او فلمو ګرا في او ځیني ارقام چي دهر چا او هري خولي څخه اوریدلي، تر سره سویدي. دا لا تر اوسه یو کامل تاریخ نه دی، دا یو بهیر دی، دبلي دغسي دوري، چي دیویشتمی پیری دپیل او په خاصه توګه دموقتی حکومت دجوړیدو نه وروسته پیل سویده،چي لنډه یادونه به یې وسی، په بشپړید و به دا آثر هم بشپړ سي او د مقایسي وړبه وګرځي.

سره ددي چي زموږ دسینما د زیږیدني څخه لږ وخت تیریږي، خو بیاهم دنورو، **نویوهنرونو** سره ګام په ګام دخپل پرمختګ پړاوونه وهي. خو په خوا شینی باید ووایم چي تر اوسه لاد یوي اکادمیکي، حرفوي او با هویته سینما خاوندان نه یو. هغه موضوع چي مخکي له دینه چي افغاني فلمونه د محتوا، جوړښت او تکنیک له پلوه باید وڅیړل سي دا با ید وپوښتل سي چي کوم فلم ته افغاني فلم ویلای سو؟

- هغه فلمونه چي دافغاني سینما ګرانو له خوا دهیواد په دننه کي جوړشوي .

- هغه فلمونه چي دافغاني سینما ګرانو له خوا په دننه کي جوړشوي، ولي تخنیکي کارونه یې په بهر کي تر سره سوي
- هغه فلمونه چي دافغاني سینما ګرانو له خوا په مکمل ډول په بهرکي جوړشوي.
- هغه فلمونه چي دخار جیانو له خوا په افغانستان کي جوړشوي.
- هغه فلمونه چي دافغان سینما ګرانو له خوا دخار جي هیوادو په مرسته په داخل کي دباندنیو لپاره جوړشوي.
- هغه فلمونه چي دافغاني سینما ګرانو له خوادافغاني ژوند څرګند دي -
هغه فلمونه چي دبهرنیانو له خوا په خارج کي دافغا نستان په اړه جوړشوي
( * ) دا خبره ډیره مهمه ده چي دلته معیار څه دي، ډایرکټر با ید افغان وي، پروډیوسر باید افغان وي، موضوع باید افغاني وي که پر سونل باید افغاني وي ... په هر صورت دا هغه معضله ده چي باید وڅیړل سي. دا هم باید دیاده ونه باسوچي یوه اکاډمیکه، ملي او معیاري سینما باید دکومو خصو صیا تو در لودونکي وي.
ددي ستونزو سره سره په ډیرو هیوا دوکي دافغاني فلمونو فیستوالونه ، پولنډ ( څلو یښت کاله دافغا نستان سینما ). د۱۹٦۸-۲۰۰۸ م. دنانټ فیستوال چي زیاته برخه یې افغاني فلمونو ته وقف سوي وه. دلایپزیک

---

( * ) ( دا موضوع باید ډیره دقیقه وارزول سي، ځکه ددنیا په سینما کي ډیر دا سي مثالونه سته: چارلي چاپلین په امر یکا کي فلم جوړوي، دي فلم ته هیڅکله انګلیسي فلم نه سو ویلای، اندري تر کوفسکي روسي ډایرکټر، میلوش فورمن چکي ډایرکټر، رو من پولا نسکي پولنډي ډایرکټر په امر یکا کي فلمونه جوړوي چي پرو ډیوس یې دامریکایانو له خوا کیږي خو دي فلمونه هیڅکله روسي، چکي او پولنډي فلمونه نسو ویلای. امر یکا یان ( کاغذپران باز ) په بل ځاي کي دافغا نستان په هکله فلم جوړوي. امر یکا یان، هندیان ( سوارکاران، خدا ګواه ) په افغا نستان کي د افغانستان په هکله جوړوي ایا دي فلمو ته افغاني فلمونه ویلای سو؟ )

د مستندوفلمونو په فستیوال کي چي یوه خاصه برخه یې دافغا نستان سینما ته وقف سوي وه. په کلن کي دافغاني فلمونو فستیوال، په خپله افغا نستان کي هر کال دلنډو هنري او مستندو فلمونو فیستوالونه دکابل پوهنتون دهنرونو دپو هنځي په چوکاټ کي دسینما د دیپارتمنټ جوړیدل چي پخوا دتیا تر سره یو ځای و.
دکلن دافغاني فستیوال جوړونکي( * ) راته وویل: چي د( خاک وخاکستر ) فلم ۲۰۰٤ م ډایرکټر عتیق رحیمي چي دفرانسي دهیوادله خوا دملیونو په لګښت جوړ سوي و،د فلم وننداري ته دکابل دپارک په سینما کي یوازي یو لیدونکي نا ست و، که څه ددي فلم موضوع افغا ني ده اوشو تنګ یې هم په افغا نستان کي د افغاني لوبغاړو له خواتر سره سوي دي. دا ځکه چي دافلم دخپل جوړښت او استیتیک له مخي دخارجي لیدونکو لپاره په نښه سوي دي. ددي دوري په زړه پوري فلم د ( اسامه ) ۲۰۰۳ ( ډایرکټر: صدیق برمک ) چي دجاپان او ایرلنډ هیوادو په مادي مرسته او د ایراني مسلکي یو ټیم له خوا جوړیږي، دا فلم دخپل سیا سي محتوا په

درلودلو سره په ډير بنه وخت ډيردي پر مخ را ځي، چي متعددي نړی والي ارزښتناکي جا يزي تر لاسه کوي. او دنړي په مختلفو هيوادو کي ننداري ته وړا ندي کيږي خو په کابل کي ډير وروسته هغه هم د محدودوکسانو لپاره بنودل کيږي.
د دي ليکني په پيل کي دډيرو دا سي فلمونو چي ديا دولو وړ نه دي يادونه سويده. ډير مي زړه غواړي چي دډولو فلمونو چي تر نن ورځي جوړ سوي دي يا دونه وکړم، خو فکر کوم چي دا به په دي اثر کي ممکنه نه وي چي پوره رڼا پر وا چول سي، خو بيا هم دنورو لپاره چي په دي اړه تحقيق او

( * ) ( مارتين گرنر الماني ژورنالست، دکلن د افغاني فلمونو دفيستوال جوړونکی، دمصاحبي له لاري )

څيړنه غواړي، کار ډير اسانه کړي. بنايي په دي به هم په بنه توګه ونکړای سم چي واقعي افغاني فلمونه دنورو څخه جلاکړم، چي دا يو ستونزمن کا ردی، خو ددي کار پيلامه، زما خو بنې په دي کي ده چي هغه څه چي ما غو بنتل يا ني دافغانستان سينما، زه يې عيني شاهد يم او تر ډيره زما په مخکي او زما سره تر سره سويده.
زه د افغان فلم ديوا زيني دولتي او لومړنی سټډيو، يو دلو مړنيو رئيسانو او مسلکي ډايرکټرا نو څخه يم او همدا راز ددي ځانګي داستاد په صفت چي د لو مړي ځل لپاره مي ددي هنر تدريس دکابل پو هنتون دهنرونو په پو هنځی کي پيل کړ.
داسي څه به په دي رساله کي ډير نه وي چي ما دنورو څخه را نقل کړي وي، مګر دهري خولي څخه دځينو ارقامو پوښتل. نو دا ټول زما تحليل او څيرنه ده، پر فلم باندي څه ليکل، ضروري دي چي بايد پخپله فلم وليدل سي، ځکه چي لازمي معلومات دفلم په ټايټل کي سته او که تبصره هم وي نو بنه تره ده ليکوال خپله اخستنه ولري، نه دنورو نظر، بيا که ممکنه نه وه او فلم ته لاس رسی نه و، بيا کيدای سي،دنورو څيرني چي دده دنظره سره مطا بقت ولري، را نقل کړي. چي ما هم دا کار کړی دی. دا فغان فلم ارشيف ته په مر اجعي سره چي يوه برخه مي پخوا د تدريس او دندي په خا طر ترسره کړي او بيا د بي بي سي د را ډيو لپاره په ليکلي توګه ( دافغانستان سينما ته يو ځغلنده نظر ) او هغه څه چي اوس پر هغه زياتوم، خو بيا هم د افغاني سينما دپيل لپاره مي دځينو پخوا نيو همکارانو لکه دشمس راد څخه ځو کرښي په سينما ګانو کي دلومړنيو ننداړو په هکله، سلطان استالفي څخه چي دلا برا توار دلو مړنيو کار کونکو څخه دی دلومړني مستند فلم په هکله چي د افغان فلم په سټوډيو که جوړشوی دی دعبدالخالق عليل څخه دده دفلمو ګرا في او خا طرا ت، ځيني خبري دلته را نقل کړي دي. د ( سيمای سينمای افغا نستان ) د موسی رادمنش آثر څخه ځيني ارقام را اخستي دي، او ډير دا سي ارقام چي هلته بيان سوي وو او موثق نه وو دلته داصلاح په نيت اصلاح سوي را وړي

دي ؛ او دځینو فلمونو په اړه مي دهنر دمجلي ځیني تبصري او ځینو انتر نیټي پاڼو څخه هم دځینو نویو فلمونو په اړه ځیني یاداښتونه را اخیستي. او اکثره خپله ځینو سینما ګرا نو خپل ژوند لیکونه، او یا هم فلموګرا في په اختیار کي را کړي دي، چي زه ترینه مننه کوم.

دتلویزیون په هکله هم دا چي درا دیو تلویزیون مشرى را په پر خه سوه زیاته مرسته یې راسره وکړه، چي په دي اړه هم،دتلویز یون د تاریخچي او تلویزیوني فلمونو، چي په اصل کي دافغاني سینما دیوي برخي په توګه، چي تر ډیره زموږ سینمایي فلمونه،تلویزیوني جوړښت لري، ځیني اړین معلو مات ور زیات کړم.که څه هم په دا سي یوه رساله اوکتاب کي لا زمه وه چي د مشخصو سینما ګرانو اودهغودجوړونو اوکړونوله مخي مطالعه او تقسیمات کړو، خودا چي دا سینما تر او سه لا پخپلو لومړنیو پړاوونو کي ده اودلنډ عمر در لو دونکي ده دا غوره وګڼل سوه چي په همدي محدوده کي چي زما په نظرکي دي، دا به بهتره وي چي دخپل کرو نو لوژیک جوړښت له مخي تر مطالعي لا ندي ونیسم.

# مُخینه

دنولسمي پیړی پـه دوهمه څلورمه کي زیات شمیر مختر عینو خپل هاند او هڅي دعکاسي هنر کشف ته وقف کړي اوله همدغه لاري یې دسینما تاریخ د زیږندي څخه مخکي دوره کي، دثبت دتخنیک اود خوځنده تصویرونو دوړاندي کولو په برخه کي زیات شمیر لاسته راوړني دڅیرونکو او مینه والو په واک کي ورکړي. په لومړیو پړاوو نوکي ددي مو ضوع څخه دعکاسي لپاره دزمان له مخي ډیر اوږد وخت پکار وو او موضوع به په دغه ټول اوږده بهیر کي دحرکت نه پرته ثابته پاته کیده. او ددی کار لپاره،که به سړی وو ،په ځنځیرونو به کلک تړل کیده. خو دعکاسي حساسو موادو پرمختګ او دکامري دلنزونوکارونه، دنور ورکولو دمودی واټن په ورو ورو راکم کړ، ترهغه ځایه چي په۱۸۷۰م لسیزه کي بشر بریالی شو تر څودیو عکس اخستل دیوي ثانیي څخه په نسبتاً لږ وخت کي چمتوکړي. اوس نودیوي خوځندي موضوع څخه دتصویر اخستني شونتیا په پوره توګه ترلاسه سوی وه. پـه پیل کي دا هنر ووایم که صنعت یوازي په دي خا طرمنځته را نغي چي دبشرهیله وه په دا سي حال کي لکه مخکی چی موو یل عکاسي منځته راغلي وه، نو ددي فن پوهانو کو شش کاوه چي داعکسونه خوځنده کړي اود انسان دسترګو دهغه خاصیت څخه په ګټه چي تر یوه وخته تصویر ساتي لپاره یې راز راز تجربي تر سره کولي یا دحرکت مختلف انځورونه به یې په لاس رسمول او یا دا سي وسایل جوړ کړل چي تر یوه حده دا احساس ولیدونکي ته پیدا کاوه چي یو څه په حرکت کي ووینې...نوموړو انځورونو په چټکي سره یو په بل پسي دڅو ورو پنجرو او یا یو شمیر هندارو په مرسته دحرکت بڼي ښودلي، ځیني وختونه به دغه انځورونه دیوي دایري په بڼه د صفحي په مخ په ترتیب راتلل او یا به د منظمی پټی په څیر په پرله پسي توګه دیوي استوا نه یی سطحي په خوا او

شا څرخیده. څرنګه چي په دغه سیستم که یوازي له کم شمیر انځورونو څخه ګټه اخستل کیده، نو ځکه ننداري ته وړاندي شوي حرکتونه په طبیعي توګه ډیر ساده او تکراري وه. دهغو ابزارو او سامان آلاتو لپاره چي دنومورړي طریقي په مرسته یې دحرکت شونتیا رامنځ ته کړه ډول ډول او پیچلي وسیلي لکه( زویتروپ ( Zoetrope ) ( پراکسینوسکوپ ) ( Praxinoscop )او ( استروبوسکوپ ) ( Stroboscope ) او نور وه چي د جادویي فانوس سره چي یوازي یو انځور به یې دپردي پرمخ په تیاره کوټه کي ښکاره کاوه یو ځای سول او دخوځنده تصویرونو ابتدایي شکل یې جوړکړ. ددي تولو سره ډیر داسي مخترعین بیله دي چي وخو ځنده تصویرو نو ته لاره پیدا کړي دسینما په منځته راتلوکي ډیره مهمه ونډه لوبولي ده.

په۱۸۷۸م کال کي ادوارد مایبریج ( Edward Muybridge ) دځلور ویشتو کا مرو یو تر بل تر څنګ د اېښودلو په نتیجه کي دیوه ځغلنده آس تصویرونه واخستل. په۱۸۸۲کال کي یو ځناور پیژ ندو نکي فرا نسوي ژول مار ي( J. Etienne Marey ) دمایبریج څخه په الهام اخستلو ددا سي یوه وسیله چي دعکاسي دټوپك په نامه یادیده د حیواناتو د حرکت دمطالعي په خا طر جوړه کړه، ددا وسیله چي تو پك ته ورته وه، په یوه ثانیه کي دوولس عکسونه دیوي ښیښه یې ګردي ورقي پر مخ چي په تو پك کي تاویدل ا خستل. همدا راز ایتین ماري لومړي سړي وو چي دحرکت دا خستلو په خا طر ددا سي موادو څخه ګټه وا خستله چي پا سته او دقاتیدو وړ وه. که څه هم دده مقصد دا نه ؤ چي چه هغه پر پرده ښکاره کړي بلکه دحرکت مطالعه وه، خو دده دا کار دنورو مخترعا نو دالهام سبب سو. ( * )

بلاخره دنولسمي پیړی په وروستیوکلنو کي په مختلفو صنعتي هیوادو کي دیخوا نیو تجربو پر بنیاد یو په بل پسي خپلي کامري او پرو جکتوورنه چي خوځنده تصویرونه یې ښکاره کول، ثبت او نندارېته وړاندي کول. ولي ددي کار عمده ونډه ادیسون او دیکسون and Dickson ) Adeison ) په متحده ایا لاتو او د لو میر وړونو ته په فرا نسه کي ور په برخه سوه. ځکه په امریکا کي ادیسون خپل فونو ګراف( Fonograph )کي د ږغ ثبتول تر سره کړی وو او غوښتل یې چي تصویرهم ور سره یو ځاي کړي. ده د تصویرد ښودلو په خاطر یوه مار پیچه استوانې با ندي تجربه کول چي ورروسته د جورج ایستمن ( Eastman ) چي خپل سلو لو یېدي پټی یې بازارته عرضه کړي وه، څخه په استفادې خپله کامره دکینتوسکوپ په نامه جوړه کړه،چي ترشپږو سوو تصو یر ونو پوري یې ثبتول، ولي دده کینتو سکوپ ( Kinetoscope ) یوازي یو کس په یوه وخت کي لیدلاي سواي. چي دیوه سوري څخه به لیدل کیدي. ددغو سیستمو څخه یو هم دماکس او امیل سکلا دانووسکي( Max and Emil skladanowski ) و، چي په هغه کي ددوو پټیو څخه ګټه اخسته کیده چي یو ځای به یېحرکت کاوه ،

( * ) بوردول، ديويد او تامسون كرستين. ۱۳۸۳ كال ( تاريخ سينما )،ژباړه: روبرت صافاريان پاڼه ۲۸

خواما دسينما او فلم ننداره په نني ډول د تو ماس اديسون ( Tomas Adeison ) دنظرياتو او لو مير د وړونو چي د اختسل سويو تصويرونو پټيچي دجادويي فانوس په زريعه پر پرده باندي دښكاره كيدو په پايله كي وزيږ يدى.

اګوست او لويي لومير( Lumiere Brothers ) خپله د عكاسى ديوي فابريكي خاوندان وو، چي له پلاره ورته پاته وه،خپله لومړنى دستګاه يي دسينما تو ګراف Cinematographe ( )په نوم ونوموله. هغه نوم چي تر اوسه دخوځنده تصويرونو دننداري په نامه مشهوردى. لومړنى ننداره دلومير د وړونو دفلمونو په ۱۸۹۵م كال ددسمبر په ۲۸ مه په پاريس كي پيل سوه. دالو مړني فلمونه لنډ مستند فلمونه وه. ( * )

د شلمى پيړى په لومړي لسيزه كي موږ ددي شاهدان و چي سينما ديوه صنعت په توګه د نړيوالو فني اصولو پر بنياد دنړي دتفريح په يوى وسيلي تبد ليږي. د لومړنيو خوځنده تصويرونو په اخستو كي،كا مري يو ثابت موقعيت او يو اجمالي ليد وصحني ته درلود ولي په تدريج سره د صحني دمختلفو زاويو څخه فلم واخستل شو، شاتونه اوږده سول. دي تكنيك د دراما تيك بيان لپاره دلوبغاړيو په وسيله لاره هواره كړه سوه.

د اديسون او لو مير فلمونه ډير ساده وه او تر يوي دقيقي پوري به يي وخت نيوى، خو كرار كرار دا سي فلمونه جوړ سول چي تر دريو دقيقو پوري رسيدل، تر څو چي په ۱۹۰۳كال كي د ريل غتډه غلا ( The Great Train Robber ) په نامه فلم په جوړيدو سره چي ۱۳ دقيقي و. دسينما تاريخ ديوه نوي پړاو ته پښنه كښيښوده. ځكه چي دسينمايي بيان ځيني مهمي بيلګي لكه موازي مونتاژ، كلوز اپ ( Close up ) او خاص درا ما تيك بيان يي

( * ) بوردول، ديويد او تامسون،كرستين. ۱۳۸۳ كال ( تاريخ سينما )،ژباړه: روبرت صافاريان پاڼه ۳۱

بيان يي در لود. ( * )

تيروخت ته په كتوسره، د سينما توګرافي يا تصوير دثبت وسيلي اصولي اوعلمي تعريف او دهغي ځانګرتياوي په ساده او لنډه توګه په دي ډول بيانيږي. چي يوه كامره، په صحنه كي دموضوع له حركت څخه، دثابتو عكسونو مجموعه دعكاسي حساس فلم، ديوي رڼي ( شفاف ) پټى پر مخ ثبتوي اوديوه پرو جكتور ( نندارېزي دستګاه ) په واسطه دعكسونو دهمدغي مجموعي غټ شوي تصوير په تياره سالون كي ديردي مختله ليږدوي. خو دكامري په دننه كي دراځرګند شوي فلم، حساسيت او سرعت لا يوه ستونزه وه. اوپه همدغه اساس وه چي په ثانيه كي د ۱٦ تصو يرونو معادل سرعت د اديسون اونورو پواسطه داستفادي وړ وګرځيده. دنومړو تصويرونو دثبت او وړاندي كولو لپاره يوډول دنور په وړاندي

حساس فلم د ایستمن له خوا د ادیسون په واک کي ورکړ شو. نوموړي فلم ۳۵ملي مترو په شاو خوا کي پلن و. دا رازفلم د سینما له دراماتیکوامکاناتو نه په ګتي دا شونتیا ترلاسه کړه چي لوړ داستانونه او دهغو د عاطفي اغیزو سره یوځاي دپردي پرمخ ننداري ته دوراندي کیدو جوګه شو. داوږدو فلمونو تولید دعامه ننداري دسترو سالونونو دجوړیدو عامل وګرځید.او دکانسرتونو او تیاترونو پخوانی سالونونه دفلم ښودلو لپاره اماده سول...

سینما دشلمي پیړي هغه زیږنده وه چي ډیر ژر یي د اوو م هنرنوم وګاټه نه یوازي چي نوم یي ترلا سه کړ تول نور هنرونه لکه ادبیات، مجسمه جوړول، تیاتر، موزيك، رسامي، مهندسي او رقص یي پخپل خدمت کي وګمارل او دعصري تخنيك د انکشا فا تو ښځه په ګتی اخستو یي په ډیر لږ وخت کي دپرګنو په زړونو کي ځانته ځاي پیدا کړ او دنوي عصر په لور، په زړه پوري،

---

( * ) نایت، ار تور. ۱۳۸۲ ( تاریخ سینما ) ژباړه: نجف دریا بندري ۱۳۸۲ تهران،پاڼه ۲۲

اغیز من هنر او فن بدل سو. د دنیا په ګوټ ګوټ کي، سینما ګاني جوړي سوي، دفلم جوړولو ستدیو ګاني، اودزده کړي او تر یننګ مرکزونه جوړ سول، ډیرو مینه والو دخپل بخت ازما یلو په خاطر دي نوي هنر ته مخه وکړه او په ډیر لږ وخت کي یي خپله ځانګړي ژبه پیدا کړه، سینمایي وسایلو وده وکړه.ددي هنردلا تنوع په خاطرنوي ابعاد اوپردي پیدا کړي. ( * )

او په افغانستان کي د سینما تاریخ د امیرامان الله خان دواکمني د ۱۹۲۲، ۱۹۲۵ میلادي کلونو یاني له اروپا ښځه هیواد ته د دوی د سفرد را وروسته وخت سره تړاو لري. په همدغو کلونوکي لومړی بي ږغه فلم دپغمان په سلطنتي باغ او دکابل په عسکري کلوپ کي د درباریانو او پوځي افسرا نو لپاره ننداري ته وړاندي کیږي او په ننداره کي یي خپله شاه امان الله خان او علامه محمود طرزي د افغا نستان د ژورنالیزم پلارهم ګدون کوي. ( ** )

---

( * ) بوردول، دیوید او تامسون کرستین. ۱۳۸۳ کال تاریخ سینما،ژباړه: روبرت صافاریان پاڼه ۵۱

( ** ) راد شمس،درا دیو پخوانی همکار دوینا پر بنست ).

# پیل
# لومړی دوره

د( عشق او دوستي ) فلم د رشید لطیفي چي هغه وخت دپو هني ننداري مسوول و. د نشاط ملک خیل او دتیاتر دنورو لوبغا ړو په مرستې لکه عبدالرحمن بینا، احمدضیاراتب زاد، نورمحمدافغان... په ۱۳۲٥ هـ.ل کال کي دلاهور ښار دفلم جوړوني دیوي کمپني په مر ستې ( هما فلم ) کي پایته ورسوه. دافلم ددي په خاطر لاهور ته یووړل شو چي دیوي خوا دفلم جوړولو تخنیکي وسایل او مسلکي پرسونل دلته نه و او بل هلته ښځینه لوبغاړي په اساني موندل کیدي او په کابل کي داکار گران اوناممکن و. په نوموړي فلم کي نشاط ملک خیل دیوه شاعرپه رول کي عبدالرحمن بینا دیوه نظامي کپتان او یو ه پیښوری نجلي ( زیب قریشي ) دمریم په رول کي راڅرګندیدل. او د فلم دایرکټ چاري یي د( هرالد لوئیس ) په غاړه وي. دغه فلم د سینما په تاریخ کي په افغانستان کي لومړني فلم وو، چي دري څلوېښت دقیقي وخت یي دپردي پر مخ نیوی او دهغه وخت سینما کابل او دولایاتو په نورو سینما ګانوکي نندارې ته وړاندي شو. کولاي شو چي دغه فلم دفلم جوړوني لومړنی هسته او پیل وګڼو. او هم دمرحوم لطیفي او بیا په ځانګړي توګه دنشاط ملک خیل زحمتونه چي نوموړی فلم یي په خپله شخصي پانګه او څه ناڅه دنورو په مرسته جوړکړ په قدر سره وستایو.( دا فلم کله چي د افغان فلم دریا ست چاري را تر غاړي وي دیو ه چا څخه، چي پیسو ته اړ و او د ملک خیل دکورنی څخه و، دپیسو په مقابل کي تر لا سه کړ ).

دا لومړنی افغاني فلم تر ډیره تیاتري جوړښت لري او لکه څنګه چي دنامه څخه یي پیدا ده دعشق او دو ستي پر بنیاد جوړ شویدی، خو دجوړښت له خوا ډیر ساده او کلیشه یي دی:

دوه دو ستا ن چي یو یي شا عر او بل یي  کپتان دی او دواړه دیوي نجلی سره مینه لري، خو نجلی خپله بیا دشا عر سره مینه لري، شا عر کله چي دخپل ملگري له خوا مجبوریږي چي دهمدي نجلی لپاره مرکه وکړي دخپل ملگرتوب په پاس غواړي چي د نجلی تو جه دخپل ملگري وخوا ته واړوي....

فلم لکه د اکثرو هندي فلمونو په شان میلو دراماتیک جوړښت لري او په ساز او اواز پیل کیږي او دفلم په اوږدو کي هم دا ساز او اواز ځای کړی سوی دی. خو دخو شحا لي ځای دلته دی چي د لومړني افغاني فلم لپاره افغاني سندري چي د( استاد بریښنا ) له خواکمپوز سوي دي، چي دفلم د ښکلا نقطي هم همدا سندري دي. دشاتو نوکمپوزیشن په ښه وجه ترسره سوي دی او ځینې شاتونه پرسپکتیو او عمق هم لري. فلم دیوه لومړني فلم په صفت تر ډیره حده دمنظمو او حساب شوو شاتونو در لودو نکی دي. چي دا کارتر ډیره حده د دا یرکتر هرالد لو ئیس دکار ښه بیلگه ده. دفلم پرجوړښت او نیمگړتیاوو څه لیکل، چي له نن څخه٦٣ کاله مخکي دهیواد اوضاع اوحالت او دوخت دلازمو فني او تخنیکي شونتیاوو او ذهني، فرهنگي شرایطو په نظرکي نیولو سره باید هغه له پامه ونه باسو.

باید یادو شوو شرایطو ته په پام سره وخیږو. په هرصورت دغه نوي بنست لکه څرنگه چي هیله وه او غوښتنه تري کیده، پراختیا ونه موندله، اوبل څوک هم دفلم دتولید په برخه کي لاس پکار نشول.

دولت هم دفلم جوړوني دغه دلگښت نه ډک هنر سره هومره مینه اوعلاقه



ونه ښودله، له همدي امله خلکو د ایراني، هندي او امریکایي فلمونو ته مخه کړه. نوموړي فلمونه دلیدونکو له خوا لومړی د ښار په یواځني سینما ( دکابل سینما )کي کتل کیده، بیا وروسته د بهزاد سینما چي په باغ نواب کي یي موقعیت درلود او د پامیر سینماته دفلم دننداري لپاره تلل دغه فلمونه د اطلاعاتو او کلتور وزارت دیوهني ننداري ریاست دفلم دتورید دعمومي مدیریت له خوا له بهر څخه دکرایي په بڼه هیواد ته وا ریدیدل. په ۱۳۳۷ کال کی دعکاسي او فلمبرداري لومړنی کورس دامریکا دمتحده ایالاتو د فرهنګي مرکز له خوا دمطبو عاتو دمستقل ریا ست په چوکاټ کي دایر شو. په ۱۳۳۹ کال کی دعکاسی مدیریت د عکاسي او فلمبرداري عمومی مدیریت ته ارتقا وکړه . اکبر شالیزي، سونا رام تلوار، نادر ملیار او شیون چي ددی کورس څخه فارغ شوی وو د یوه امریکایي معلم )کنت وینزل ) تر نظر لا ندي دبامیان او د نورو ښکلو لرغونو مناظرو فلم اخستل د ډیری

--------------------------------

( * ) هغه قرار دادونه چی دسینما دمدیریت په وسیله په هندکی دهندی او امریکایي کمپنیو سره دهندی اوامریکایي فلمونو دراوړلو لپاره په ۱۳۳۱ ل کال کی وتړل سو تر۱۳۳۲ کال تر پایه پوری یي ادامه پیدا کړه تر څو چي د همدی کال په لومړی نیمایي کی،بانک په خپلواکه بیه د اسعارو له ورکولو ډده کوله. موږ مجبور و له یوی خوا پخوانیو قرار دادنو ته اعتبار ورکړو، له آزاد بازارنه اسعار واخلو او له بلي خوا موهڅه کوله چي دغه ستونزی د اواره ولو په خاطر دفلمونو قراردادونه په افغانیو وکړو چي ۱۳۳۳ ل کال کي دغه ستونزه اواره شوه او موږ وکړای شول چي دمطبوعاتو ریاست له خوا دشپږو میا شتو.لپاره په افغانیو فلمونه وارد کړو .

دشوروی اتحاد واستوک انیستورک دسودا ګری کمپی له نماینده تیرکال دفلمونو واردولو تړون وشو. واردشوی فلمونه امریکایي۷۲ فلمونه،هندی ۵۰ فلمونه،روسي ۲۴ فلمونه. سربیره په دی څو اروپایي او مصري فلمونه هم ښودل شویدی. دواردشویو فلمونو په لندیز او کریتیک دسینما دمینه والو لپاره دننداری په نامه دپنځلس ورځنی مجلی خپرول .

هغه تیاترچي پخوا دیوهنی ننداری په نوم یادیده او درادیو دنشراتو یوه برخه وه په نوی تشکیل کی دتیاترود مدیریت په نامه ومنل شو درریاست مجلس سینما اوتیاتر دیوهنی ننداری ( نمایشاتو ) دلوی مدیریت په نامه ومانه . په هیواد کي دفلم اخسیتود صنعت دپیل لپاره دیوه شرکت دپرانستلو پروژه په پام کی ونیوله شوه

---

( * ) : د کابل سینمایي عمومی مدیریت ، دافغانستان کا لنی ، دمطبوعاتو مستقل ریاست ، 1332 هجری شمسی ، ص. 184 -185 .

ابتدايي کامری چی د ( ایمو ) په نامه یا دیدل او په لاس کوکیده پیل کړه په کال ۱۳۳۹ کي دعکاسي او فلمبرداري دعمومی مدیریت په راس کی صمد آصفي چي د عکاسي په رشته کی یي تخصص درلود مقرر شو، اکبرشالیزي دفلم

**اخستلو د مدیر په صفت تعین شو. عبدا لخا لق علیل او اسحق ستارزاده د اکبر شالیزي او سونه رام تلوار د مرستیا لا نو په صفت وظیفه تر سره کوله. په کال ۱۳۳۹ کي چي د سردار محمد داود خان د صدارت دوره وه یو امریکایي د** **هالکم** **په نامه دفلم اخستلو د اداري دمشاور په صفت کابل ته راغی او ځو لند فلمونه لکه , قره قل او غالی دافغانی سینما ګرانو له خوا او همدا راز د افغا نستان دلو مرني پنځه کلن پلان چي د معارف او اردو د انکشاف، دسالنګ پروژه، ګلبهار فابر یکه، د هلمند وادي او دا سي نور وو په خاصه توګه د هالکم او سونا رام تلوار له خوا پیل سوه. په ۱۳۴۰ کال دجوزا په میاشت کي ددي** فلم کار پایته ورسید، چي ۸۰ دقیقی وخت یي نیوی او دا لومړني مستند فلم وو چي په ۲۹ داسد ۱۳۴۰کال کله چي سردار محمد داودخان د حربي پوهنتون دمحصلینو دیپلومونو د توزیع په محفل کي د ډاکتر سهیل د مطبوعاتو د مستقل رئیس په وړاندیز ننداری ته وړاندی سوه د ا فلم ډیر د سردار محمد داودخان دپا ملرني وړ وګر ځید او دده دهدایت سره سم ددی فلم دیونټ بنیړ غړي، اسحق ستارزاده او عبدالخالق علیل، دفلم اخستو او اسحق محمود، نیك محمدیوپل، مجید، ا و عتیق مبارز دعکاسي به بر خه کي. اتحا د شورويي ته واستول سول. ( * )
ترڅوچي د۱۳٤۲ هـ ل د ( فیض محمد خیرزاده ) په نوم یو روڼ آندي شخص چي لوړي زده کړي یي دتیاتر او فلسفي په برخه کي په امر یکا کي

---

( * ) د علیل،عبدالخالق، دراډیویي مصاحبي څخه

پای ته رسولي وي،او د۱۳۳۷ کال را هیسی بید مبطوعاتو په مستقل ریاست کی کار پیل کړی وو دبنکلو هنرونو په نامه دیوي موسسي بنیاد کښیښود او په لنډ وخت کی یي ډیر مستعد ځوانان پر ځآن را تول کړه او دده دنورو هنري اوتعلیمي پروګرامونو ترڅنګ د ( مانند عقاب ) ۱۳٤۳ هـ ل په نوم فلم دجوړیدو په فکرکي شو. ده د فلم سناریو ولیکله اود ډایرکټ او پروډیوس دنده هم دده په غاړه وه. دفلم اخستو چاري یي ( محمداسحق ستارزاده ) ترسره کړي. په نوموړي فلم کي د ظاهر هویدا نه پرته، چي دفلم په یوه صحنه را څر ګندیږي،سید بی بی نقی دمور په لور کی او یوی کوچنی نجلی دشهلا په نامه په مرکزي رو ل کي بر خه اخستي ده. ( مانند عقاب ) یو په زړه پوري مستند فلم دی چي معموله اصطلاح ددي راز فلم لپاره ( هنري مستند فلم ) دی چي هنري اصطلاح دهغو صحنو څخه ده چي ډایرکټ سوي دي.

---

**دفلم اخستلو مدیریت د ۱۳۳۹کال له سنبلی نه د ۱۳۴۰ کال تر سنبلی پوري دغه راتلونکی فلمونه تهیه اوتکمیل کړی دی. دګران وطن د آزادي ( ۴۲ ) کال دجشن رنګه فلم چه طول یي ( ۲۷۰۰ ) فټه په پشتو او انګلیسی.اخباري مستند فلم دیولند دشاغلی صدرا عظم سفر څخه کابل ته طول یي ۱۲۰۰ فټه په پشتو اوانګلیسی.**

**ا خباري مستند فلم طول يي ( ۱۶۲۰ ) فټه پشتو او انگليسی. اخباري مستند فلم د نيپال دپاچا اعلحضرت. مهندراشا دسفر ښخه طول يي۱۳۰۰ فټه په ښښتو او انگليسی.اخباری مستند رنگه فلم دالمان دصدارت دمعاون او دهغه دتجارت وزير ښاغلي ارهارد له مراسمو ښخه. داعلحضرت معظم همايونی له سفر ونو ښخه مصرته،طول يي۲۸۳۵ فته په پښتو،فارسی او يوگوسلا ويا ته،طول يي ۱۶۶۵ فته،په پښتو،فارسی او انگليسی مهند را شاه دسفر ښخه طول يي ۱۳۰۰ فته په پشتو او انگليسی.**

---

[1] عکاسي او فلم اخستل، دافغانستان کا لني، دمطبوعاتو مستقل رياست، دکورنيو خپرونو لوی مديريت، مسؤل مدير: عبدالله "محب حيرت" ۱۳۳۹__۱۳۴۰هـ ل، ص. ۱۵۶

دا ديوي وړي نجلی کیسه ده چي د کلي دهلکانو دخبرو په اور يدو سره دا هم دخپلي کورنی له اجازي نه پرته دکابل ښارته ځي او هلته دهغه کال داستقلال د جشن په زړه پوري مرا سمو او مناظرو په ننداره بوختيږي چي په مستند ډول اخستل سويدي او ور سره ( منتاژ ) يو ځای سوي دي.

دفلم نوم د نجلی دخواست ښخه اخستل سويدی، چي غواړي دگوربت غوندي والوزي او هرڅه دلوړی ښخه ووينی، ددي فلم دچاپ چاري هم په هند کي تر سره کيږي.

د( عشق او دوستي ) او( مانند عقاب ) فلمونه دهيواد دهنري فلمونو دتو ليد او سينمايي هستی د پرمختيا لپاره ښي بيلگي وي چی دوخت دشرا يطو په نظرکي نيولو دنيمگړتيا سره سره ديام او ستايني وړ دي.

تردي وروسته، دخلکو او زمان دغوښتنو له مخي دمطبوعاتو درياست په تشکيل کي دفلم اخستلو او عکاسي عمومي مديريت د افغان فلم موسسي په چوکاټ کي کار او فعاليت ته ادامه ورکوی. دغه موسسه چي لومړی دخبري فلمونو په جوړيدو، د دولتي غونډو د پرانستلو او بهرته د شاه سفرونو ته انعکاس ورکوي چي بيا وروسته دهنري فلمونو توليد ته لاس اچوي. ددي موسسي دلابراتورپه برخه کي امريکا يي، ترکي،فرانسوي اوهندي معلمينو د دريو کلو په موده کي عملي ا و نظري زده کړي ور کوي.

لو مړنی توليدي مستند خبري فلم چي د افغان فلم په لابراتوارکي جوړ سو د۱۳۴۶هـ.ل کال په ژمي کي د افغان فلم دافتتاح نه مخکي جوړ سو چي ديوگوسلاويا د جمهور رئيس مارشال تيتو دسفر ښخه کابل ته و چي په ۲۴ساعتو کي يي ټول مراحل تر سره سول، ددي لنډ فلم مسلکي کارکونکي عبارت وو ( فلم اخستو نکی سونه رام تلوار او محمد اسحق ستارزاده دلابراتوار په برخه کي سليم نورزي، سلطان استالفي، سيد مصطفي، سيدکريم روفي،گل احمدطبيب، منتاژور محمد انور صابري ا و سونډ مين عبدالرحمن صفتي و..

**په همدي ترتيب د افغان فلم ښانگي کرار کرار دهنري فلمونو په توليد کار پيل کړ چي دافغان فلم تر ښنگ يو شمير اشخاصو دفلمونو د توليد امتياز دوخت اطلاعاتو او فرهنگ وزارت ښخه په شخصي توگه ترلاسه کړ. په همدي ترتيب**

دفلم جوړوني هنر او سینما زموږ په هیواد کي خپله لاره ورو ورو او په مقدماتي بڼه تر سره کړه او تولني ته یي د ځوانو سینماګرانو او تازه کاره استعدا دونه وړپه برخه کړل، چي دهغوي په برخه کي ښه لاسته راوړني دي.
د( مانند عقاب ) له فلم نه وروسته بیا دځو کلونوپه بهیر کي هنری افغانی فلم نه جوړیږی خوپه دغوکلونو کي دیوې ملي سینمایي هستي دجوړیدو له پاره په دولتي اوغیر دولتي کچه د پام وړ اقدامات پیلیږي. چي له هغبجملي څخه دځینوسینما یي کورسونو دایریدل، و خارج ته د سینما په برخه کي تحصیلي بور سونو ته دمحصلینو استول، اوله خارجیانو سره دځینو مستندو اوهنری فلمونوکي دافغانی سینما ګرانو برخه اخیستنه ددې اقدا ما تو ښي بیلګي دي.

---

( * ) ( استالفي، سلطان دافغان فلم دلا براتوارمسئول، دمصاحبي له لاري )

# دوهمه دوره

## افغانفلم

په۱۳٤۷ هـ.ل کال د میزان د میا شتی په اوه ویشتمه افغان فلم چی دامریکا یانو په مرسته جوړ شوی و رسماً پرا نستل شو، په دی موسسه کی یوا زي دلنډو اخباری او مستندو۱٦ او۳٥ ملي متره فلمو نو چاری تر سره کیدلی. لومړی دخبري فلمونو په جوړیدو، چي ددولتي غونډو انعکاس و، چي بیاوروسته دمستندو اوهنري لنډو فلمونو تولیدته لاس اچوي...که څه هم د مستندو او اخباري فلمو کاردپخوا څخه را پیل سوی وو،په دي تفاوت چي هغه وخت به فلمونه دچاپ او پروسس لپاره امریکا او هندته استول کیدل او اوس پخپله د افغان فلم په لا برا

تو ارو کي پروسس کيدل. دی کوچنی دستګاه دومره ظرفیت نه در لود، چي په کال کي څوهنری فلمونه پکي جوړسي... دوخت په تیریدو سره دافغان فلم دموسسي دلومړني رئیس سلطان حمیدهاشم او دځینو نورو مسوولو کار کوو نکو، صمد آصفي، اکبر شالیزي، عبدا لخا لق علیل، سونه رام تلوار، اسحق ستا رزاده، چي دلومړیو سینما ګرانو څخه دي دهڅو او کوښښ په نتیجه کي قوت مومي او د هنري فلمونو دتولید لپاره متعهد کیږي. په همدي ترتیب د افغان فلم څانګي کرار کرار دهنري فلمونو په تولید کار پیل کړ. دافغان فلم تر څنګ یوشمیر اشخاصو هم دفلمو د تولید امتیاز دوخت اطلا عاتو او کلتور د وزارت څخه په شخصي توګه ترلاسه کړ چي هغوي هم دفلمونو په تولید پیل وکړ او دا فلمونه هم دافغان فلم په همدي وړه سټډیو کي جوړیدل. په همدي ترتیب دفلم جوړوني هنر او سینما زموږ په هیواد کي خپله لاره ورو ورو او په مقدماتي بڼه تر سره کړه او تولني ته یي ځوان سینماګران او هنرمندان، نوي او تازه استعدا دو نه وړیه برخه کړل، چي دهغوي هنري کارونه زموږ دهیواد دفلم جوړوني او سینما توګرافي په برخه کي ترتیو لو ښه لاسته راوړني بلل کیږي.

د افغان فلم دسټډیو دجوړیدو سره په ۱۳٤۷ کال کی دا فغاني سینما واقعي تاریخ را پیل کیږي. همدا ( ۱۳۵۰ ) او( ۱۳٦۰ )هـ.ل لسیزه ده چي زموږدملي سینماپه جوړ یدوکي ټاکونکی ونده لری. همدا دوره ده چي د افغاني سینما د عطف دنقطي په حیث په تاریخ کي دیوي مکملي دوري په څیر را منځته سوه. چي د ( اندر ز مادر ) ۱۳۵۲ هـ ل کال دفلم څخه چي یو مکمل افغاني لوړ فلم دی، چي تولني چار ي یي تر نګتیف ترکټ او چاپ پوري په افغانفلم کي د افغاني سینما ګرانو پر لاس تر سره سویدي تر ( دکوڅو سرګردان ) ۱۳٦۹هـ.ل کال پوري. چي تر دی ورو سته دفلم جوړولو کار په افغانستان کی دکورنیو جګړو له ا مله په ټپه در یږي. دی مسلکي پیل او لازمو هڅو زمینه دیو ي مسلکي سینما لپاره مساعده کړه، چي دسینما د پرمختګ، تنوع، بیان او سینما ته د خلکو او دولت دتو جه را ګر ځولو لوی عا مل و،

# لومړنی فلمي تجربي هنري فلمونه

دافغان فلم دستډیو دجوړولو سره لومړني فلمونه مستند او اخباري فلمونه وو چي ذکر به یي په خپله برخه کي را سي ولي لومړني سینمایي هنری لنډ فلمونه د ( روزگاران ) ترنامه لاندي په ۱۳۵۲ کال، تور او سپین ۳۵ ملي چي هري برخي خپل ځانګړی داستان درلود، د پردي پر مخ را غلل.

لومړی فلم د ( طلبگار ) په نامه چي سناریست او ډایرکټر ( عبدالخا لق علیل ) و، دی هغه لومړنی ډایرکټر دی چي دسینما په رشته کي یي عالي تحصیلات دهغه زمان په شوروي کي تر سره کړي دی. ښایي د دا راز لنډ فلم جوړول به دده لپاره خاص ستونزمن کار نه و، دده د وینا پر اساس، ( دا فلم دیوه لوړ فلم لپاره په نظر کي نیول سوی وو، خو دهغه وخت درهبري دفیصلي پر اساس، دا ښه وکڼل سول، چي دافغان فلم درئیس په شمول نوروته هم دا زمینه مسا عده سي چي دهنري فلمونو په برخه کي خپل بخت و از ما یي ) دغسي پریکړه سوي وه چي په همدي لنډ فلم اکتفاه وسي. ددي فلم کمره مین ( سونه رام تلوار )،چي دلومړنیو افغاني کامره مینانو څخه و. سوند مین سید علي عالمي، منتاژور: تور یالی الکوزی و.

ددي لومړني فلم کیسه، دنصیر په نوم یو بیکاره او بي تحصیله ځوان ( خان آقا سرور، چي دتمثیل په برخه کي یي په هند کي تحصیلات تر سره کړي ) له خوا لوبول سوی دی، د سیما په نوم د یوي نجلی سره چي محصله ده ( میمونه غزال ) مینه پیدا کوي او دنجلی پلار، دده دلور په خلاف دخپلي لور سوکالي په پیسو او شتمنی کيویني ( رفیق صادق )،چي د استادی لقب لري، او دتیاتر د ډېرو موفقو ځیرو څخه دی ) مرکي ته ور ځي او ځان شتمن او تحصیل لرونکی ښیي او دغلا د تحفي له لاري چي دزرو دمغازي څخه یي غلاکړي او دنجلی دمور( حبیبه عسکر ) چي دا هم دتیاتر دموفقو ځیروڅخه ده ) په دستکول کي اچوي، او هغه په غلا متهموي، او د همدي تحفي په ورکولو غواړي چي د نجلی پلارته ځان شتمن وښیي...

په دي فلم کي ډا یرکټر غوښتي دي، چي دبیځایه روا جونو او دهغو دپایلو آثرات په ټولنه کي وښیي. دلته کوم خاص بیان او سینمایي لید لا نه تر سترګو کیږي، ولي دفلم په یوه برخه کي، سیما نه پو هیږي چي څنګه دخپل را تلونکي ژوند په اړه تصمیم ونیسي، دوي ګوتي دګرا مافون پر ریکارد باندي را ځي او ریکارد په کرار کرار څرخوي. چي په ډېر ښه تو ګه دسیما روا ني حالت بیا نوي...

دوهم فلم ( شب جمعه ) ډایرکټر انجنیرمحمدعلي رونق سناریست او کمره مین صدیق امینزي. سونډ مین: عبدالرحمن صفتي، منتاژور: توریالی الکوزی.

دا برخه یو تیاتري کمیډي ده،کیسه دهغه ځایه پیل کیږي: یوه میرمن چي حمام ته روانه ده، دخپل میره نه غواړي چي دشپي لپاره، چي پلاو او مور یې د دوی کورته را ځي یو چرګ حلال کړي، ده چي هیڅکله چرګ نه دی حلال کړی، چرګ ځیني تښتي... دفلم ډایرکټر په پیل کي دځینو ښکلو سینمایي شا ټونو په اخستو دجمعي دشپي سهارپه ډیره ښه توګه انځوروي چي ښایي په خپل ذات کي لو مړنی وي لکه دحمام ګلخن، یا دڅا ښځه د او بو را یستل، او دکابل دسهار دکوڅو ارا مي او چوپتیا ډیر په زړه پوري دي...
اخترپیکر، مشعل هنریار، غزال ابرا هیمي، فریده شایا ن. او نورو لوبغاړو په دی فلم کی برخه اخستی وه

دریم فلم ( قاچاقبران ) سناریست اوډایرکټر:سلطان حمیدهاشم، فلم اخستونکی: صدیق امینزی، چي په دی برخه کي په هند کي تحصیلات تر سره کړي دي.
په دي فلم کي د مخدره موادو دقا چاقچیانو د ډلو په ښودلو سره، چي دیوي ډلي په رهبري کي یې دپولیسو یوعالي رتبه مامور ( قیوم بیسد )، چي داستادي لقب لري او دتیاتر دلومړیو لوبغاړو او ډایرکټرانو ښځه دی ځاي نیسي ). او دا لومړنی دجنایې، پولیسي فلم تجربه ده، ددي فلم نور لوبغاړي عبارت دي: حیات الله خروش، پروین صنعتګر، عزیزاله هدف، خان اقا سرور او نور دی...

# لومړنی مسلکي ډایرکټر
## او ( اندرزمادر، یا دمور نصیحت )

عبدالخالق علیل په ۱۳۳۷ کال کې د شرعیاتو په پوهنځی کې شامل شو، خو په ۱۳۳۸ کال کی دځینو ستونزو د را منځته کیدو له کبله، د مطبوعاتو د مستقل ریاست دعکاسی په مدیریت کې په کار گمارل کیږي.
مخکې له دې چې نوموړی مقررشی مرحوم استاد برشنا د مطبوعا تو دمستقل ریاست ریېس له خوا دلومړی ځل لپاره دعکاسی اوفلم اخستنی کورس دامریکا دفرهنگی برخی په مرسته په لاره واچول شو چی د دولسمو ټولگیو فارغانوته ادا زمینه برابره شوه چی پدی کورس کې شامل شی. نوموړی دهغی مینی له کبله چې سینما، فلم،کیسی سره یی درلوده په دغه کورس کې دشاملیدو اجازه تر لا سه کوی.
دی دځان به هکله وایی:
هغه وخت زه دشالیزی مرستیال وم. او زما لومړی کار د بامیان د ولایت دتاریخی ځایونو څخه دفلم اخستل و. باید وویل شی چې په ۱۳٤۰ کال کی دقره قل دریاست په وړاندیز دقره قل او غالیو دصادراتو په هکله مو دافغانستان شمال خواته سفر وکړ تر څو دشبرغان او آقچی دغالیو په هکله فلم جوړ کړو.

تردی وروسته دپخوانی شوروی اتحاد ځخه یوه ډله فلم جوړونکی زموږ هیواد ته راغئ چي یو مستند فلم دخروشچف په غوښتنی د ( بلند تر از بلندترین کوه ها ) په نوم جوړ کړی. په دغه فلم کي زه دکارگردان مرستیال وم. په فلم کي د شوروی اتحادله خوا دهغو پروژو په هکله چي په افغانستان کی یي جوړی کړی وی لکه: دسالنگ پروژه، د درونتی لاره، دهرات پولیتخنیک او دکابل دسیلو فلم جوړیده. په ۱۳٤۸ کال کی دکرهنی وزارت په وراند یز می یو مستند فلم د ( حاصل بهتر ) په نوم چی روزنیز فلم و دبزگرانو لپاره جوړکړ. چي دآلمان د لیزیک ځخه تشویقي دیپلوم ترلاسه کوي. او بیا دلوړو تحصیلاتو لپاره و اتحاد شوروي ته ولاړم.

عبدالخالق علیل، لومړی افغاني ډایرکټر دي چي د ماستر ي دیپلوم په دي رشته کي تر لا سه کوي. اوتر نن و رځي یي تر دیر شو زیات هنري سینمایي او مستند فلمونه تهیه او ډایرکټ کړي دي.



( اندرزمادر،یا دمور نصیحت ) د ا دعبدالخالق علیل لومړی لوړفلم دی چي په ۱۳۵۳هـ ل کال کی په تور او سپین ډول په ۳۵ ملي متری توگه ډایرکټ کوی،ددی فلم داستان د ( اسدالله هاتف ) د ( بخاطر یک لحظه هوس ) د داستان

پر بنیاد دعلیل او صمد آصفی له خوا لیکل کیږی. داندرز مادر دفلم سره زما په اند دافغاني سینما واقعي پیل پیلیږي، ځکه تردي فلم د مخه فلمونو یا تر ډیره حده تیاتري جوړښت در لود، یوه او یا بله برخه یي په بهر کي تر سره سوي، او یا هم تجربوي او لنډکارونه وه، نو ځکه زه دا فلم دیوه مسلکي او کامل فلم په نامه یادوم، او د افغنستان دسینما د داستاني( هنري ) فلم یو ښکلی آغاز دی. ددي فلم ټول کارونه په افغان فلم کي د افغاني سینما ګرانو په لا س تر سره سوي دي. او دا فلم لومړی فلم دی چي په پښتو هم دوبله کیږي او په یو وخت کی په دواړو ژبو ښکاره کیږی.

فلم دیو نورمال دا ستان درلودونکی دی، او په تمامه معنا دیو حر فو ي جوړښت څخه برخورداره دی، ولي دکوم خاص هنري بیان څر ګندوی نه دی.ددی فلم دفلم اخستلو چاری صدیق امینزی په غاړه درلودي او تورياليي شفق، د منتاژور دنده درلوده او دی دهغو لو مړ نیو منتا ژوړانو څخه دی، چي په دي برخه کي یي په هندکي زده کړی کړي دی. او دفلم موزیک چاری د استاد هاشم له خوا تر سره کیږی ددي فلم عمده لوبغاړي: نذیر، محبوبه جباري، اسدالله آرام، رفیق صادق زرغونه ارام او سایره اعظم دي.

( دمور نصیحت ) دیوي نجلی شیما ( محبوبه جباري ) د ژوند کیسه ده، چي دیوي ښځي ( زر غونه ارام ) له خوا تیروزي، شیما دسودا اخستلو لپاره مغازي ته ځي او هلته دیوي ښځي سره مخامخ کیږي. هغه په دي بهانه چي ډیره دهغي خداي بخښلي خورته ورته ده، دیته بلنه ورکو ي که چیری ددي د ناروغي مورلیدوته ورسره ولاړه شي، مور به یي ډیره خوشحاله سي. نجلی کورته بیایي چي هلته دیوه شخص له خوا پري تیری کیږي. نجلی دي ته اړوزي چي دځان د منځه وړو په وسیله، دا دننګ لکه له خپلي لمني پا که کړي. د فکر د خرابی د وجي دموټر سره ټکرکوي. کله چي یي نامزد دخارج څخه راځي او ددي دبرخلیک څخه خبریږ ي، ددي دپریشاني او ځګرخونی مانع کیږي.

دا فلم په لومړي سرکي د ( شیشه شکسته ) په نوم و، څرنګه چي دنوي جمهور رئیس سردار محمد داود خان په کودتاکي دتوپ دلومړی ډز په وسیله دسردار عبدالولي، چي دکاکا زوی یي دی، دکور هنداري ماتیږي. ډایرکتر مجبوره کیږي چي ددي نوم دنه توجیه کولو په خاطر یوه اضافي صحنه، چي مور د ناروغي په بستر کي خپلو اولادونو ته نصیحت کوي، ور زیا تو ي او دفلم نوم ( د مور نصیحت ) ایږدي. فلم د( شیشهء شکسته ) نوم دهغه شات څخه تر لاسه کوي،کله چي یرغمل شوي نجلی دځان څخه دفاع په خاطر په تیري کونکي دګیلاس وارکوي، ګیلاس دکړکي په ښیښي لګیږي اوښیښنه توټه توټه کیږي..( * )-

( * ) علیل، عبدالخالق. دفلم ډایرکتر، دمصا حبي له لا ري )

# لومړی تاریخي فلم
# لومړنی شخصي پرو دکشن

( رابعه بلخي )۱۳۵۳تور اوسپين ۳۵ ملي، داستان: لطيف نا ظمي، سناريست: داودفاراني، ډايرکټران: عبدالخالق عليل،داودفارا ني.کمره مين: صديق امينزی، سوندمين: انجنير محمود
عمده لوبغاړي: عبدالله شادان دبکتاش په رول کي، سيما شادان، د را بعه،محمد نذير دحارث داود فاراني دکعب، الفت هيروي دميرک او مشعل هنر يار دالياس په رو لونوکي...
دا پخپل ذات کي لومړنی فلم دی چي ديوي شخصي موسسي نذير فلم له خوا په ۱۳۵۲ هـ.ل کي پيليږي،خو تخنيکي پر سونل يې د افغان فلم کار کونکي دي او دا د افغاني سينما لو مړی تا ريخي فلمي تجربه ده، چي په هغه وخت کي ددا سي يوه فلم جوړول ساده کا رنه وو. دا فلم په ۱۳۵۳ هـ.ل کال کي دپردي پر مخ را ځی. او دا دخپل وخت د ډير مصرف درلودونکی فلم و چي د دري مليونو افغانيو په حدو دو کي پري لګيږي.

ددي فلم کیسه د را بعه بلخي دکعب دلور ددري ژبي دلومړني شاعري دبکتاش نومي غلام سره دمیني او ژوند ترا ژیدي ډرا مه ده،چي حارث ورور یي دا د غلام سره دمیني په تور، په تود حمام کي اچوي، او رګونه یي پري کوي...
که چیري افغاني سینما په دورو وویشو او د افغان فلم دجوړیدو نه مخکي دوره لو مړی وبولو، د افغان فلم دوره دوهمه،نو دریمه دوره دثور تراوښتون



۱۳۵۷هـ.ل وروسته پیل کیږي دلته که څه هم اکثره فلمونه تبلیغي، سیاسي دي، ولي د د ژانرو د تنوع له پلوه، سمبو لیکه ارایه او دسینمایي اکتورانو منځته راتلل، کرار کرار سینما د مسلکي او حرفوي سینما وخواته قدم ږدي چي په دي دوره کي دا فلمونه دموضوع د تنوع له پلوه د یادولو وړ دي:

( روزهای دشوار ) ۱۳۵۳توراوسپین۳۵ملي، ډایرکټر:ولي لطیفي، سناریست: رفیق یحیا یي کمره مین: صدیق امینزي. لوبغاړي: ولي لطیفي، احسان اتیل، حاجي محمدکامران، اصف وردګ، شازیه....

د داود خان دکودتاه ورو سته دا لو مړنی فلم دی، ددي فلم داستان دیوه حاکم کیسه ده چي دنوي نظام درا تلو سره دزاړه حاکم ځای نیسي. زموږ په سینما کي دا فلم دخپل جوړښت له مخي تر یوه حده دیوي سیا سي او تبلیغي سینما دپیل په تو گه نوموړی سو. خو ددي تر څنګ دا هم دیا دولو وړ بولم چي دیوه سینمایي بیان درلودونکی فلم دی. او ددي علت هم دادي چي ولي لطیفي چي د سینما د ډایرکت په برخه کي، او همدا راز رفیق یحیایي چي دسناریو په لیکلو کي عالي تحصیلات په شوروي اتحاد کي تر سره کړي دي دا فلم په ګډه را شروع کوي.

( اخترمسخره ) ۱۳٦۰هـ.ل توراوسپین۳۵ملي، چي یونیم ساعت وخت نیسي.
سناریستان: انجنیر لطیف او روف راصع. ډایرکټر: انجنیر لطیف، فلم اخستو نکی: وحیداله رمق.
لوبغاړي: فقیر نبي، ناصرعزیز، بصیره، سلام سنګي، ابراهیم طغیان او نور.
د ( اختر مسخره ) په فلم کي دتجریبوي او روڼ آندي سینما لومړني بیلګي لیدل کیږي. ددي فلم سوژه او مضمون له نورو جوړو سوو فلمونو سره تر دي وخته څه تو پیر لري، دلته دفلم قهرمان دټولني د ټیټي طبقي څخه غوره شوي دي، چي دنورو د خوشحالیو لپاره دیو ه مسخره په توګه را څرګند یږي اختر دهغه دټولنیز مقام نه پرته چي دده په ټیپیکو ځانګړتیاووکي راڅرګندیږي دیوي ټولني او یوه قشر دمډل اوبیلګي په بڼه رامنځته کوي. داختر دځانګړو عاطفي او رواني حالاتو په نظرکي نیولو سره، لیدونکي هغه دیوعادي شخص په توګه ګڼي، خو دیو ژور لید لوري له مخي کیداي شي دهغه عقدي، محرومیتونه، نیمګړتیاوي او دي ته ورته دهغه نور صفتونه دهمدغو عاطفي ځانګړ تیا وو په محدوده کي وڅیړی.

# دريمه دوره

# سينما او سياست

سينما دخپل اصل او تا ثيراتو له پلوه هميشه دسيا ست دتولنيز ژوند ديوه غښ اصل په توګه په ډيره غټه پيمانه استفاده سويده، او دا هم ددې هنرهغه قوت دي چي دتبليغاتو د يوه غټ اصل په توګه ترينه ګټه اخيستي ده او دا هم تصادفي نده چي سيا سي سينما دسينما يوه غټه برخه جوړوي، نو په هره دوره کي سيا سي او تبليغي سينما وجود لري او در لود ه يې... په افغانستان کي تبليغاتي او سيا سي سينما په اول وار د ( روز هاى دشوار ) ۱۳۵۲هـ.ل ډايرکټر: ولي لطيفي او دڅو مستندو فلمو سره چي د سيا سي ژوند ا و رسمي جلساتو په اړوند پيل کيږي او دثور داوښتون سره سينما نوره هم سيا سي تبليغي کيږي. ( دهکده ها بيدار ميشود ) ۱۳٦۱هـ ل ډايرکټر: عبدالخالق عليل. د هنري، دا ستاني او ګنو مستندو فلمونو په جوړ يدو سره چي ذکر به يې وروسته را سي عملاً تبليغي سياسي سينما په ډير قوت منځته را ځي البته دا هم با يد ووايم چي دا هغه وا قعي سياسي سينما چي داکتو بر دانقلاب څخه وروسته په شوروي اتحاد کي او تر هغه وروسته په نورو هيوا دو کي چي قوي سيا سي جريا نونه منځته را ځي، نده په همدې خا طر دى چي دا سينما ما سياسي تبليغي وبلله.

د۱۳۵۷هجري لمريزکال راپه دي خواه چي دهيوادپه نورو برخو خپله تاکونکی اغيزه شيندي زموږ دملي سينمالورى اوپرمختك هم ترتاثيرلاندى نيسي

داپرمختك په افغانى سينما يي توليداتو خورا مثبته اغيزښيندي اودملي سينمايي توليداتو په پروسه کی نه يوازې لازم پرمختك کيږی، بلکی د افغانی ملی سينمادغوړيدو هڅی کيږی، نوی سينمايي مرکزونه پرله پسي پرا نستل کيږي، همدا غسي دننه او په بهر کي په دي برخه کي دسينما مينه والوته دزده کړی پوره زمينه برابريږی، په همدی کلونوکي چي زموږ دملي سينما ځينی فلمونه په نړيوالوفستيوا لونوکی نندارې ته وړاندي کيږي، اويو شمير فلمونه جايزی هم خپلوي. دثورد اوښتون دلومړيوکلونو ۱۳۵۷،۱۳۵۸کي د( ثورانقلاب ) مستند فلم، اولومړ نی هنري فلم چي لوبغاړی يي پخپله ددغه اوښتون قومندان حفيظ الله امين وو اونوردي.( ۹ ) له دی کلونو ورووسته دافغاني سينماپه تاريخ کي( ۶۰ ) لسيزه دخپلو توليدا توله مخي ځانګړی ځای لري په دی لسيزه کي نه يوازې ځانګړي سينمايي مرکزونه په خپل وار فلمونه جوړوی، بلکي افغانفلم هم په يومجهز سينمايي مرکز اوړی اوپه سيستما تيکه توګه ډير هنری او مستند فلمونه جوړوي.

که چيرى په افغانستان كي حالات نه وای بدل نو تر ډيره په اتياومو کلونو کی دي هيلي زور اخيستی چي تر شلمي پيړی ترپايه به حتماًّ يوه با هو يته ملی او اکاډميکه سينما ولرو. ځکه په دي کلونو کي سينما د دولت تر حمايت لا ندي وه او دولت دخپلو تبليغاتو لپاره دسينما پر قوت اوا ثراتو پوره خبر و، يوه اندازه مسلکي پر سونل چي په پخپله په افغا نستان کي يي دکار په جريان کي تجربه تر لا سه کړي وه او نور چي اکثره يي په سو سيالستی هيوادو او هندوستان کي دسينما په برخه کي تحصيلات کړي،هيواد ته را ستانه سول. او په متو سط ډول يو سينمايي مرکز منځته را غلی و، ډيرو زياتو لا ملو ديته لاره هوا ره کړه، چي دافغان فلم په وړه ستډيو کي به دکاله تر څلورو هنري رنګه او تور او سپين لوړ فلمونه، همداراز په لسګونو مستند فلمونه جوړ سي. په دي کلو کي په تلويزيون کي هم دفلم جوړلو کار په چټکی روان و او هرکال څلور پنځه لوړ او لنډ تلويزيوني فلمونه سر ياڵونه دپردي پر مخ را تلل. افغا ني فلمونو وخارجي فيستوالونو ته لاره پيدا کړه، جايزې او ديپلومونه يي تر لا سه کول.

په دريمه دوره کي چي دثور د اوښتون۱۳۵۷هـ.ل نه وروسته شروع کيږي دلته که څه هم ددی دورى ډير فلمونه تبليغي دي، ولی د تنوع د ژانرو د رنګينی له مخي او همدا راز، دسينمايي اکتورانو،پرو ډيو سرا نو،او آن کمپوزيتورانو او ارت ډا ير کترا نو منځته را تلل دي،

( دهکده ها بيدار ميشود ) ۱۳۶۱ هـ.ل ( ډايرکتر:عبدلخالق عليل )
( ګامهاي استوار ) ۱۳۶۳ هـ.ل ډايرکتر: توريالي شفق،
( تابستان داغ کابل۱۳۶۲ ) ل ( ډايرکتران: ولي لطيفي،على همرا يف
( فرار ) ۱۳۶۳هـ.ل ډايرکتر: انجنير لطيف
( لحظه ها ) ۱۳۶۳هـ.ل ډايرکتر: واحد نظري

( صبور سرباز )١٣٦٤ هـ ل ډایرکټر:انجنیر لطیف
( پرنده های مهاجر ) ١٣٦٥ هـ ل ډایرکټر:انجنیر لطیف
( زمین )١٣٦٦ هـ ل ډایرکټر:جلال پیروز
( رد پا ) ١٣٦٧هـ.ل، ډایرکټر: فقیر نبي،
( شکست محاصره ) ١٣٦٧ هـ.ل، ډایرکټر: فقیر نبي.
( ارمان ) ١٣٦٨هـ ل ډایرکټر:واحد نظري

## مستند اوتلویزیوني فلمونه :

( فرجام ) ١٣٦٢هـ.ل ډایرکټر: سعیدورکزی
( دختر با پیرا هن سپید ) ١٣٦٣هـ.ل ډایرکټر: فقیر نبي
( دلمر په لور ) ١٣٦٣ هـ.ل ډایرکټر: واحد نظري
( وطن پالنځی ) ١٣٦٣هـ.ل، ډایرکټر واحد نظري
( سر بند ) ١٣٦٤هـ.ل ډایرکټر: فقیر نبي
( انقلاب در روند تکامل ) ١٣٦٣ هـ.ل ډایرکټر: واحد نظري
( صبح سپید )١٣٦٤ هـ.ل، ډایرکټر: سعیدورکزی
( قبایل ) ١٣٦٦ هـ.ل ډایرکټر: عبدالخالق علیل
( خانه تاریخ ) ١٣٦٧ هـ.ل ډایرکټر: قادرطاهري

( دهکده ها بیدار میشود ) ١٣٦١هـ.ل ٣٥ ملي، تور اوسپین، ډایرکټر او سناریست: عبدالخالق علیل، فلم اخستو نکی: محمود نوري. لوبغاړي: قادر فرخ، نغمه، ناصرعزیز، عزیزاله هدف، سایره اعظم او نور...
( دهکده هابیدارمیشود ) دتولید او تهیي په کارکي ترډیر ځنډ ورو سته، چي دهمدغي موسسي لخوا دسینما ترپردي رسیدلي دي. چي لومړی انقلابي تبلیغي فلم دی. ( دهکده ها بیدار میشوند ) دهغو ځانګړو علتونو له مخي، باید ددوو اړخونو له مخي وځیړل شي او دنوموړي فلم سوژه اومضمون، د ارایه او تصویري بیان ښخه بیله مطالعه شي.

دفلم سوژه دتولني په ځانګړو مشکلاتو او هغو بدلونونو چي په دغي تولني کي رامنځته شوي په محور را څرخي. دپیښو د رامنځته کیدو ځاي دهیواد یوکلي دي.
دفلم کیسه هم دهمدغو کلو او باندو له منځه دخلکو دیوهي دسطحي اولید لورو له مخي غوره شوي ده. له یوي کورني ښځه چي هلته دکورمشر دمخالفینو

تراغیزي لاندي راغلي او د دولت په خلاف دهغو په لیکوکي دریدلي او دوه ځوانان زامن یي بیا انقلابي نظر لري، او عسکري خدمت ته ځي. مور دخپلو زامنو دلاسه تلو په فکر او واهمه کي ده. دهلکانو ماما چي دقوماندان په توګه دنده ترسره کوي بیا د انقلاب ماهیت درک کړی او هڅه کوي دمخا لفینو په ضد جګړه کي خلک یقیني کړي.
د ( دهکده ها بیدار میشوند ) په فلم کي دداستان طرحه انساني ده او په هغه کي کولاي شو د ودي په حال کي تولنو په دننه کي دنویو بدلونونو ځرک ووینو، خو دا فلم دالقایي قدرت څخه لږ برخمن دی. ( * )

( * ) د هنر مجله، دویمه ګڼه ۱۳٦۱ کال پاڼه ۳۸

# لومړی ګډ فلم

( تا بستان داغ کابل ) ۱۳٦۲هـ ل رنګه ۳۵ ملي ډایرکټر: ولي لطیفي ا و علی همرا یف.
د تابستان داغ کابل،فلم د افغانستان او ازبکستان سینما لومړ نی ګډ محصول دي. دفلم تولي پیبني دهغو مسئلو پرمحور را څرخي چي هلته دانقلاب په رامنځ

ته کیدو سره د ظلم او وګړنیز ضد رژیم تغر مخ په تولیدو وي، دلته ستونزي او مشکلات ناڅاپیز نه بلکي اتکل شوي دي. دفلم دپیښنو ځاي دکابل ښار دي او دهغه لومړي اتل دطبي چارو هغه ډاکتر دي چي په جګړه کي دتپیانو دټپونو د درملني لپاره راغوښتل شوي دي.

دفلم تصویري بیان شعاري او سیاسي نه بلکي واقعي او ریالستیک دي، له همدغه لوري، زموږ د نورو فلمونو په پرتله ددي پرځاي چي دښمن او دهغه غوښتني وړي وښودل شي او لیدونکي ته ددښمن دکمزور تیا طرحه ورکړه شي، د لته د تابستان داغ کابل په فلم کي یوازي دانقلاب دپلویانو په مطلق بریالیتوب نه بلکي کله ناکله دمخا لفینو د بریالیتوب شاهدان هم یو.

د ( تابستان داغ کابل ) په فلم کي دکامري حرکت او لا یتنګ دځا نګړي ښکلا څخه برخمن دی. کمره دپیل څخه تر پایه دوه بُعدي څیروکي دعاطفي حالاتو دمهارولو په لټه کي ده.

دفلم ډایرکټ دیو نیم وړو عیبونو څخه پرته، په ډیرمهارت اوشعوري توګه ترسره شویده چي کیداي شي دکار دیوښني نموني په توګه تر څیر ني لاندي ونیول شي. ( * )

---

( * ) دهنر مجله، خلورمه ګڼه ۱۳٦۳ کال پاڼه ۵۷

# شخصي پرو دکشنو نه
# خپلواک سينما گران

پنځوسمه لسيزه زموږ دسينما په تار يخ کې نه يوازي له دې بابته ځانگړي باب جوړوی چې په اوږدو کې يې پرله پسې سيستما تيکي هستونی ددغه وخت د اقتصادي او فرهنگي ناځيزو امکاناتو په پرتله ديربدی بلکي دگنوسينمايي فلمونو لکه: ( مجسمه هامي خندد ) ۱۳۵۵ ( سياموی اوجلالي ) ۱۳۵۸ ( غلام عشق ) ۱۳۵٦( جنا يتکا ران ) ۱۳۵۸
د بنه شمير سينمايي توليدي مرکزونو لکه: نذيرفلم۱۳۵۲،آريانا فلم ۱۳۵۴،اپارسين فلم۱۳۵۷،شفق فلم ۱۳۵۸ گلستان فلم ۱۳۵۹ ) له لاری جوړيږی.
هغه فلمونه چې ددي پرو دکشنو له لاري جوړيږی، زيا تره تجربوي، او تر يوه حده پوري دهغه وخت سينمايي هستو تر منځ درقا بت په نتيجه کي منځته را ځي، که څه هم دا سينما گران بيله يو دوو تنو نور اکثره هغه کسان دي چې دخپل ذوق له مخي سينماته مخه کوي، او دهمدي پرو دکشنو له لاري لا زمي تجربي تر لا سه کوي او يا هم وروسته عالي تحصيلات تر لا سه کوي، چې د افغا ني سينما دممتا زو سينما گرانو څخه شميرل کيږي.ولي ددي پرودکشنو لو مړي فلمو نه اکثره جنا يي دي چي دهندي او نورو فلمونو تراغيزلاندي جوړيږي، جنايت کاران، غارتگران، خانه ۵۵۵، تو لنيزي عشقي ډرا مي لکه: غلام عشق، مجسمه ها مي خندد، سيا موي او جلالي دي چې د لو مړنيو کارو په صفت چې دي صنعت ته رونق ور کړي، دتوجه ور دي. ددي جملي څخه يوا زي را بعه بلخي فلم دخپل تاريخي جوړ ښت له مخي نه يوازي چي يو دقدر وړ جرئت و بلکي دهغه وخت دزياتو مطرح سينما گرانو گډ کار شميرل کيږي. ولي دا بايد

هیر نکړو چي دا پرو دکشنونه هیڅ راز تخنیکي وسا یل په واک کي نه لرل او ددي پرودکشنو ټول کارونه دافغان فلم له لاري تر سره کیږي.
او ددي تر څنګ په لسهاوو نویو پرودکشنو په را تلونکو کلونوکي دفعالیت اجازه ترلا سه کړیده، چي دفلمونو په جوړولو بوخت دي.

**نذیرفلم**:نذیرفلم تاسیس ۱۳۵۲کال ددي پرودکشن لومړنی محصول د ( رابعه بلخي ) فلم دي چي:عبدالخالق علیل، او داود فارا ني له خوا یی ډایرکټ تر سره کیږی او ذکریي په تاریخي فلمونوکي را غي ددي لومړنی سینمایی موسسی( پرودکشن )دموسس او خاوند محمد نذیر مرګ ددي باعث کیږي چي نذیر فلم تر رابعه بلخی وروسته دبل فلم دتهیي چاری تر سره کړی.

**آریانا فلم**: موسس انجنیرلطیف چی په ۱۳۵٤کال کی تاسیس شو. ددي پرودکشن لومړنی محصول د ( مجسمه ها میخندد ) په نامه فلم و چي په۱۳۵۵هـ.ل کال کی دپردی پر مخ راغئ، ددی ۳۵ ملي متري تور اوسپین فلم سناریو د انجنیرلطیف له خوالیکل کیږی او دتوریالی شفق له خوا ډایرکټ کیږی او همدا راز د ( غلام عشق ) ۱۳۵٦ هـ.ل ۳۵ملي متر، تور اوسپین، ( ډایرکټر: توریالي شفق )،او دفلم اخستلو چاری بیا هم انجنیرلطیف تر سره کوی او همدا راز د ( سیاه موي و جلالي ) رنګه فلم دیوي فلکلوریکي کیسي پر بنیاد. دعباس شبان له خوا ډایرکټ کیږی او تردی وروسته ځینی تبلیغاتی فلمونه او دګناه په نامه فلم پیل کیږی

## عبدالطیف احمدي:

په ۱۳۲۹ هـ ل د کابل د پولي تخنیك څخه فارغ او په ۱۳۵٤ کال کی د آریانا فلم په موسسه کی دفلم په جوړولو پیل وکړ. دده په قول دده له خوا جوړ شوی فلمونه هیڅکله یو بعدی او شعاري نه و بلکي دهیواد د فضا کلي بڼه ځرګندوی.دي خپل ټول فلمونه لکه فرار، صبور سرباز، پرنده هاي مهاجر،ګناه،حماسه عشق، اختر مسخره، شرین ګل وشیر آقا سریال فلمونه دهیواد دتاریخ یوه برخه بولی.
او په هغوکی یي دوخت،پیښی، حالات او بهیرونه په ښه ډول انځور کړی دي،چی هریو یي ځانته سینمایی پانګه جوړوی او ځانګړی ارزښت لری. انجنیر لطیف دافغانی سینما یو هڅاند دایرکټر دي،که څه هم ده خپله سینمایی لاره( کریره ) د فلم اخستلو څخه پیل کړی ده،خو ډیر ژر یی دسناریو په لیکلو او بیا دخپلی کمپنی دفلمونو ډآیرکټ پخپله په غاړه وا خست، او دده پروډکشن لومړ نی

فعاله او منظم سینمایي مرکز و، چې دهغه وخت.زیات سینما ګران پکې را ټول وو،تر څو چې دګناه دفلم په جریان کې یې داقتصاد ستونزو له کبله افغان فلم ته مخه کړه او پرو دکشن یې، منحل کړ.

دی دځان به اړه وا یې: د‹ فرار› فلم چې د لومړی ځل لپاره دثور د اوښتون په پیل کې ما جوړ کړ، دا فلم چې هر وخت ولیدل سی د حوا دثو بیا نو ونکی دی او د تاریخ دیوی بر خی ځر ګندوی په یوه مشخص زمان کې دی، همدا را ز د صبور سر باز فلم او پرنده هاي مهاجر په اړه ما احساس وکړ که چیری سینما ته په دی ډول ادامه ورکړم، زموږ د سینما څخه به دا سی معلومه سی چې موږ د یوې جنګي او نظامي سینما وخواته راوان یو، چي یوازی د مستندو حوا دثو بیان په هنری داستاني شکل کوی موږ دهنري پرورش څخه په سینما کی یو څه فاصله اخلو او اوس با ید موږ.د نړی په سینمایي خط دا سی کارونه تر سره کړو چې نړیوال مارکیټ ته لاره پیدا کړو.او د افغان فلم رئیس و.

دده د صبور سرباز او پرنده های مها جر فلمونو دماسکو په فیستوال کی جایزی تر لا سه کړی دی

**شفق فلم**: تاسیس ۱۳۵۸:ددي پرودکشن لومړنی محصول د ( جنا یتکا ران ) تور اوسپین ۳۵ملي متري ) په نامه فلم دی چې په۱۳۵۸ هـ.ل کال کی دتور یالي شفق له خوا یې ډایرکټ سوی دی او دفلم اخیستو چارې یې د انجنیر لطیف پرغاړه وی او همدا راز ( عشق من میهن من ) ( سناریست او ډایرکټر: توریالي شفق ۳۵ ملي متري توراوسپین فلم دي دفلم اخیستو چاری یې دسلیمان علم پرغاړه وی او د ( ګامهای استوار ) فلم دیادونی وړ دی

## توریالي شفق:

توریالي شفق دهرات په لرغونی ښارکي زیږیدلی له لوړو زده کړو وروسته دهندوستان په تحصیلي بورس کی دغه هیواد ته ولاړ دهند په پونه انستیتوت کی یي دسینما په څانګه کې ماستري واخیسته. په ۱۳۵۳ کال کی دنذیر فلم د پرودکشن په جوړولوکی برخه درلوده او ۱۳۵٤ او ۱۳۵۵ هـ ل کلونوکی دآریا نا فلم د موسسه په جوړولو کی ونده اخیستي ده. دمجسمه ها میخندد اوغلام عشق فلمونه یي جوړکری اومونتاژکریدي.شفق فلم: تاسیس ۱۳۵۸، ددي پرودکشن لومړنی محصول ( جنایتکاران ) ۱۳۵۸هـ.ل او ( عشق من میهن من ) ( ډایرکټ کړل: دخپل کار په سینما کی د منتا ژور په صفت پیل کړ او دلو مرنیو سینما ګرا نو څخه دی،چې دافغانی سینما په منځته را تلو کی یې پوره ونډه درلودله او همدارازدبهرنیو پرودکشنو ښه همکار و، اوډیر شا ګردان یې په دی لا ره کی روزلی دی.

اپارسین فلم: تاسیس۱۳۵۷هـ ل، ددي پرودکشن دامتیاز خاوند چی د آغا صاحب په نامه مشهور وو اولومړنی محصول ۳۵ ملي تور اوسپین د ( غار تګران ) ډایرکتر:عباس شبان ) په نامه فلم وو.
دی پروډکشن هم نور ونه سوای کولای چی بل فلم جوړ کړی

ګلستان فلم: تاسیس ۱۳۵۸ هـ ل، ددي پرودکشن موسس مهدی دعا ګوی او دامتیاز خاوند یی فیض محمد و لومړی محصول یي ( خانه ۵۵۵ ) ۳۵ ملي تور اوسپین فلم دی چی. دمهدي دعاګوی له خوا یي ډایرکټ تر سره سوی دی. که څه هم دی پرودکشن،ډیره موده بل فلم جوړ نسوای کړای، خو په ۲۰۰۲ مکال کی د فیض محمد دکورنی یو بل غړی په استرالیا کی د( ګمراه ) ( ډایر کټر واحد نظری ) په نامه فلم جوړ کړ.

قیس فلم: ۱۳٦۲هـل کال کي د سلیمان علم له خوا تاسیس او تر اوسه یي یوازي یوفلم ۳۵ ملي متر توراوسپین د تلاش په نامه ( ډایر کټر: عباس شبان ) تهیه کړی دی

# څلورمه دوره
# سینما خپل رنګ بدلوي

( لحظه ها ) ۱۳٦۳هـ ل ۳۵ ملي تور اوسپین. سناریست او ډایرکټر: واحد نظري، فلم اخستو نکی صدیق امینز، موسیقي: استاد هاشم. په دي فلم کي لوبغاړي: قادر فرخ، ذکیه داماچ، عبدالله صمدي، عزیزالله هدف، مرتضی بایقرا. په ښه توګه خپل رولونه تر سره کوي.
د ( لحظه ها ) فلم دخپل جوړښت او د محتوا له مخي د افغانستان په سینما کي یو نوی کار وو، دا فلم چي دافغاني سینما لو مړني رو ښانفکرانه فلم نومول سوی دی. فلم دخپل ابسترکت او سمبولیک ارا یي سره په افغاني سینما کي یو نوی باب پرا نستی. دفلم کیسه دیوه ځوان چي ددولت سره دمخالفینو دډلي دجملي څخه دی، ژوند انځوروي، چي د دولتي قواوو سره په یوه جګړه کي ټپي کیږي او د ژوند په وروستیو شیبو کي ددولتي قواوو له خوا ژغورل کیږي، او دتداوي په

لړکي دی دخپلو کړو څخه پښیماني کوي.که څه هم دفلم کیسه یوتبلیغي داستان دی، خو دفلم محتوا د ژوند دوروستیو شیبو لکه څنګه چي لهنامه څخه یي پیدا ده یو رواني نماديک بیان دی چي ممکن هر انسان په خاصو حالاتو کي دخپل تیر ژوند دیادونو
جاج ا خلي، فلم دخپل ابسترکت سور یا لستي بیا ن سره په افغاني سینما یي ماحول کي ډیر تاوده بحثونه را وپا رول، ځکه دا راز بیان دډیرو لپاره نوی او نا



اشنا و، نه دا راز فلم تر دي دمخه جوړ سوی و اونه هم په سینما ګانو کي ښکاره سوي و، دفلمونو توريد چي دتجارانو په لا س کي و دا راز فلمونه چي دلیدونکو لپاره بیګانه وه، نه وا ردول.دی فلم دوارنا دفیستوا ل څخه عالی پیلوم تر لا سه کړ ( * )

( * )( ۷ )شینواري، سوله مل. د۱۳٦۷ کال، اواز مجله مقاله ( دافغاني سینما یي بهیر جاج )

## عبدالواحد نظري:

د ۱۳۳۲ هـ ل کال په کندهار ښارکی زیږیدلی دی. دلومړنیو زده کړ و نه. په ۱۳۵۲ هـ ل کال کی دکابل پو هنتون دحقوقو او سیاسي علومو په پوهنځی کي شامل شو. په ۱۳۵۳ هـ لکابل کي دسینما او تلویزیون د ډایرکټ په برخه کی دبلغاریا هیواد ته ځي اوپه ۱۳٦۱ هـ ل کال کی د دوکتورا معادل دیپلوم سره هیواد ته راستنیږی.

نظري په ۱۳٦۱ هـ ل کال کی لومړی په تلویزیون او بیا په افغان فلم کي د ډایرکټر په توگه، وروسته له ۱۳٦٥ نه تر ۱۳٦۸ کال پوري دافغان فلم دریېس اوله ۱۳٦۸ نه تر ۱۳۷۱ هـ ل پوري دسینما گرانو د ټولنی د رییس په توگه دنده سرته رسولی ده له ۱۳٦٤ کال نه راهیسي دهنرونو په پوهنځی کی دلومړی ځل لپاره دسینما تدریس پیل او تر اوسه داستاد په توگه ادا دنده تر سره کوی. او سر بیره پر دی دافغا نستان دملی را ډیو تلویزیون عمومی رییس هم دی

هنري جوړوني یې دتحصیل په دوران کي دنورو لنډو مستندو او هنري فلمونو ترڅنگ تلویزیوني فلمونه لکه ( ستاسوپه هیواد کي مگرخرنسته ) او ( دري شپې دیو زرو یوي شپې څخه ) دیادوني وړده د سینما په برخه کي دلنډو مستندو فلمونو د ( وطن پالنځی ) په ۱۹۸۳ کال او انقلاب دتکامل په پړاو کي ۱۹۸٤ کال کي، لوړ هنري فلمونه یې د( لحظه ها )هیه ۱۹۸٤ او د ( ارمان ) ۱۹۸۸ کال، او تلویزیوني فلمونه لکه ( کاغوشچي )۱۹۸٤، ( دلمرپه لور ) ( ۱۹۸۲ افغانستان بیله شور ویانو څخه ) مستند ۱۹۹۰ او( دکونډي زوی ) لومړنی کمیډي سریال په ۱۹۹۱ کال کي په دروبرخوکي دسینما مینه والوته وړاني کړل او لومړنی تلویزیوني تیاتر( رییس ) او ( نجلی ) په نامه دده دجوړونو څخه دي.

په مهاجرت کي یې د( گمراه )۲۰۰۲، او( هجرت ) فلمونه ۲۰۰٤ هنري لوړ فلمونه چي دسینما دمینه والو لپاره ډیر دي پرمخ راغلي دي.

واحد نظري لومړی افغاني سینماگر دی چي په ۱۳٦٤ کال کي د وارنا په بین المللي سینمایي فیستیوال کي د ژوري غړی په صفت بلنه ترلاسه کوي.

ده دافغانستان دکلتور دغوره کارکونکي لقب په ۱۹۸۸ کال کي ترلاسه کړ او زیات شمیر جایزي د ډیپلومونه، مډالونه تقدیرنامي او ستاینلیکونه ډیري نوري مطبوعاتي اوهنري جایزي دهیواد په دننه او خارجي فیستیوالونو کي ترلاسه کړي دي. پوهنمل واحد نظري د ۱۹۹٥ کال راهیسي دالمان د ډایرکترانو دټولني غړیتوب لري.

( فرار ) ۱۳۶۳هـ.ل، رنګه ۳۵ملي. سناریست او ډایرکټر: انجنیر لطیف، فلم اخستونکی:قادرطاهري،منتاژور: حکیم مرزي. لوبغاړي: ناصرعزیز، عادله ادیم، فریبا، شکیلا، انوررضا زاده. اسدالله آرام، سلام سنګي

په دي فلم کي د ثور دبدلون په لومړیو ورځو کي دیوي کورنی دغړو تشویشونه په ډاګه سو یدي، چي څنګه له نا امنی څخه ځان په هر ه بیه چي وي وباسي او دقاچبرانو په وسیله امنو هیو ادو ته دتلو په لا ره کی د ډېرو ستونزو او نا خوالو سره مخامخ کیږی.

( صبور سرباز )۱۳٦٤ هـ.ل رنګه ۳۵ملي. سناریست او ډایرکټر: انجنیر لطیف، فلم اخستو نکی: قادر طاهري.منتاژور: قدیر رشیدي لوبغاړي: ناصر عزیز، عادله ادیم، ابراهیم طغیان، صبور طوفان، ولي تلاش، ناصرعزیز، ابرا هیم طغیان، حشمت فنایي او نور.

د انجنیرلطیف د فلمونو په لړي کي د ( صبور سرباز ) فلم ترټولو لوړ اثردي، دفلم داستان دڅو ځوانانو د ژوند په بنسټ چي نوي د افغانستان وسلهِ وال پوځ دلیکو سره یوځاي کیږي. پیښي او حادثي په خلکو ځانګړي اغیزه کوي.دصبور ملګري په خپله خوښه دوسلهِ وال پوځ سره یوځاي کیږي، خو صبور دپریشاني ویري او ډار سره لاس او ګریوان دی. هغه خپله تیاره راتلونکي په خد مت کي نه، بلکي په خپلو ګومانونو او خیالونوکي ویني. دصبور په رول کي ( صبور توفان ) په ښه توګه دد ي ډارن عسکر حالات تصویرکړي دي...

( پرنده های مهاجر ) ۱۳٦۵ هـ.ل رنګه ۳۵ملي، سناریست: سرور انوري، ډایرکټر:انجنیرلطیف،فلم اخستونکی:قادر طاهري، منتاژور: حکیم مرزي

ښایي دا به پخپل ذات کي لومړی فلم وي چي په پا کستان کي دکډ والی ژوند انځوروي، او دمهاجرو په خیمو کي د افغا ني ژوند، د عشق او نفرت یوه په زړه پوري ډرا مه ده.

په دي فلم کي دپخوا نیو لوبغاړو قادر فرخ، صبور طوفان،ناصر عزیز،عادله ادیم، اسدالله ارام تر څنګ دوه تازه کاره لو بغاړي نعمت آرش، او صابره هم دسینما پر پردي را ښکاره کیږي.

**( مسافر )**

**۱۳٦٥ هـ ل ۳٥ملي،توراوسپین.سناریست:بشیررویگر،ډایرکټر:سعیدورکزی،فلم اخستو نکی: قادر طاهري.**

**دا فلم دیوه ځوان ښوونکي داستان دی چي دهیواد یوه لیري کلي ته دکار لپاره استول کیږي،ولي دده دتولي میني سره چي دخپل هیواد له اولا دو سره دیوه معلم په صفت یي لري، ولي بیاهم دکلي دخلکو د مخالفتو سره مخا مخ کیږي، چي دده دتاثر موجب ګرځي، خو را تلو نکی ده ته دزړه قوت ور کوي... لو بغاړي: نصیر القاص، امین رحیمي، هما مستمندي، کریم نا یل..**

**( مردهاره قول اس ) ۱۳٦٦ هـ.ل رنګه ۳٥ملي.کیسه: اکرم عثمان، سناریست او ډایرکټر:سعید اورکز ي، فلم اخستو نکی: قادر طاهري، دفلم دمتن موسیقي د عبدﷲ شادکام له خوا جوړه سویده.**

**لوبغاړي: عادله ادیم، سعید ورکزي،خورشید، اکرم خرمي، امین رحیمي، ولی تلاش....**

**د ( مرد هاره قول اس ) هنري فلم، چي د ډاکټراکرم عثمان له ارزښتناک اثر**



**څخه اقتباس شویدي، د ژوري محتوا اوهنري، فرهنګي، او ټولنیزو ارزښتونو لرونکي فلم دي. دغه اثر دلرغوني کابل، د بالاحصار په زړه کي دسیمي د**

اوسیدونکو د رسم او رواج یو ارزښتناک انځور دی. یو ځوان په دي خاطر چي دنجلی ورور ده ته د ورورګلوی لاس اوږدوي، دی دخپلي وعدي د پر ځای کولو په خاطر دخپلي میني ښځه باید تیرسي. دکابل دزاړه ښار په زړه کی یوه په زړه پوري کیسه،چی ځینی برخي او رنګونه يې دقادر طاهري له خوا په ډیرمها رت سره دسینمایي پټی پر مخ حک سوی دی.

( **حماسه عشق** )۱۳۶۷هـ.ل۳۵ملي رنګه. سناریست او ډایرکتر: لطیف احمدي، فلم اخستونکی: وحیداله رمق، منتا ژور: حکیم مرزي، ارت ډایر کتر: عثمان علیم.

په دي فلم کي دعشق، اتلوالي، زور او ځان ځاني کیسه په افغا ني معیار ونوکي د ډیردی پرمخ را غلی ده، د دو چاپ انداز و کیسه ده چي یو يې غواړي زوی يې هم د ده غوندي اتل و اوسي، او دده رقیب چاپ انداز چي دده سره دمقابلي توان نه لري، کله چي دده دزوی دمیني ښځه دخپلي لور سره خبرېږي، دهغه ښځه دغچ اخستلو لپاره دنورو کارونو تر څنګ خپله لور دپیشي سره په جوال کي اچوي... دا فلم دافغاني ملي لوبي بز کشي ډیر ښکلي تصویرونه دپردي پر مخ را وړي دي.

لوبغاړي: نعمت آرش، صابره، قادر فرخ، اسدالله ارام، یاسمین یارمل، او دا سی نورو په دی فلم کی رولونه تر سره کړی دی...

( **ارمان** ) ۱۳٦۸ هـ ل، رنګه ۳۵ ملي رنګه. سناریستان،احد ژوند او وا حد نظري، ډایرکتر: واحد نظري، فلم اخستو نکی: قادر طاهري. متاژور: قدیر رشیدي، دفلم موسیقي د شاد کام له خوا کمپوز سویده. د افغا ني سینما په تاریخ کي دا لومړنی په پښتو ژبه فلم دی. په دی فلم کی عبدالله صمدي، مرتضی بایقرا، عادله ادیم، پلار جانمحمد، عبادالله پتنک، شاه محمود شارق، زلیخا فخري عثمان علیم، فرید فیض مر کزی رولونه لوبولی دی...

دا فلم دانقلاب دسپاهیانو دیوه ګروپ څوا نانو کیسه ده، چي دهیواد یوه لیري کلي ته ځي چي هلته دهغه کلي سوځول سوی مکتب بیا جوړکړي، دوی دتولي بي تجربه ګی او دځوا نی داحساساتو سره سره د خپل ځان په بیه دا د معرفت مرکز، ددي ویجاړ شوي هیواد د اولادونو پر مخ پرا نیزي.

# لومړی جهادي فلم

( په ۱۹۹۲ م کال کی مجاهدینو ته د واک سپارولو وروسته مجاهدین کابل ته را ځی، کابل دمجاهدینو دخپل منځوی جګړو میدان ګر ځی، ډیر سینما ګران دکابله ښخه وځي، اوکابل دمختلفو تنظیمونو تر منځ ویشل کیږی، یوازی څو محدود سینما ګران، چی دمجا هدینو سره تړاو لری په کابل کی چی یوا زینی سینمایی مر کز دی یوازی دیوه فلم په جوړیدو بر یالی کیږی چی د ( عروج )په نامه دی، چي په رنګه ۳۵ملي.پټی با ندی په ۱۳۶۹هـ.ل کی دپردی پر مخ راځی ددی فلم سناریست: صدیق برمک او ډایرکټر: یی نورهاشم ابیر، او دفلم اخستو چاری یی د سید موجود حسیني پر غاړه وی، اوعمده لو بغاړي یی همایون پا ئیز، ولي تلاش، اسدالله تاجزی، جمیل کریم پور.او نور وو.
فلم دیوه ځوان ژوند ښیي چي دروسي قواوو او دهغو دپلویانو دظلم او تیري په نتیجه ددوی پر ضد اسلحه پورته کوي.

# افغاني نیو ریا لیستیک فلم

( دکوڅو سرگردان ) ۳۵ملي تور او سپین،دا فلم په ۱۳٦۹ هـ.ل کال کی پیل کیږی، ولی ډیر وروسته دپردی پر مخ را ځی، ځکه دکا بل د جگړو له کبله ددی فلم پرنت وره کیږی، ددی فلم ډایرکتر: احد ژوند، فلم اخستو نکی: نور هاشم آبیر دی.او لوبغاړي یی: عزیزاله هدف چي په ډیرښه ډول یی خپل رول لوبولی دی، همدا راز ذبیح اله انیل، سویتا، نیک محمد ؟ اجمل، او نور دی...او دا دوهم فلم دی چي په پښتو ژبه دی.

دکوڅو سرگردان د لس کلن جمالوکي کیسه ده چي دټولنیزو ناخوالو او نه گالونکو ربړونوکي لاس اوپښني وهي. هغه په خپلو خیالاتو کي د ډوبیدو وروسته خپله مړه مور په خوب ویني چي هغه سپین آس ترینه غواړي چي دهغي قبرته یي ور ولي تر څو هغه بیرته کورته ورسره راسي. ماشوم دسپین آس په لټه ژوند کوي اوسپین آس دموړقبر ته وروليي، خو.... په یوه زماني مقطع کي دافغانستان دبي دفاع وگړو سمبولیکه څهره سپین آس دی چي پر ټولنه باندي دسولي او ارامي د را مسلط کیدو په مفهوم راغلي دي. فلم یو خاص ریالستیک بیا ن لري، چي کیدا ي سي دا ایتالوی د نوي ریا لیزم تر څنگ د افغاني نوي ریالیزم صفت ورکړو.

## عبدالاحد ژوند:

د ۱۳۳۰ کال دهلمند په ولایت کی زیږیدلي داقتصاد لیسانسه دی نوموړی په ۱۳٦۰ هـ ل کال کی د راډیوافغانستان د ډرام او دیالوگ په څانگه کی دنده پیل کړه د ۱۳٦٤ کال نه یي په افغانفلم کی دنده درلوده. دسناریو د بورد غړی و. ده د واحد نظري په ډایرکت د ارمان په نامه دلومړنی پښتو فلم لپاره سناریو لیکلي او په ۱۹۸۵م کال کی یي د عبدالخالق علیل په ډایرکت د الماس سیاه په نامه فلم سناریو او داستان لیکلي دی په ۱۹۹۲ م کال کی یي د ډایرکت چاري یي خپله وراندی بیولی او دکوڅو سرگردان دد ه سینمایي لوړیښتو فلم دي.

همدا را ز ددي دوري ځیني نور فلمونه عبارت دي:

( گناه ) ۱۳۶۳ هـ.ل تور اوسپین ۳۵ ملي. سناریست،فلم اختسو نکی ا وډا یرکټر: انجنیرلطیف، لوبغاړي: سلام سنګي،فرید فیض، فقیر نبي...

( بابا ) ۱۳٦۵ هـ.ل تور اوسپین ۳۵ ملي سناریست او ډا یرکټر: جانمحمد حیدري، فلم اخستونکی: نورهاشم ابیر، لوبغاړي: سلام سنګي، جان محمد پلار، اسدالله ارام،ولي تلاش او نور.

( بیګانه ) ۱۳٦٦هـ ل ۳۵ ملي رنګه. لنډ فلم، داستان: محمود دولت ابادي، سناریست او ډایرکټر: صدیق برمک،فلم اختسونکی،فاروق سعد ( ددیپلوم کار ) دشوروي اتحاد سره په ګډه توګه.
لو بغاړي:سلام سنګي، ابرا هیم طغیان، عادله ادیم،ظاهر ګرندی، ابرا هیم طغیان...

( خاکستر ) ۱۳٦۷ هـ.ل ۳۵ ملي، رنګه، سناریست او ډایرکټر سعید ورکزی، فلم اخستونکی: قادر طا هري، منتاژ: قدیر رشیدي.
په تر ا فیکي حا دثه کي دیوه ځوان دمعیوب بیدلو په پایله کي دبد ګما نیو او اختلا ف را پیدا کیدل.
لو بغاړي: عبدالله صمدي، هما مستمندي، امین رحیمي،...

( زمین )۱۳٦۷هـ.ل۳۵ملي،تور اوسپین ډایرکټر:جلال پیروز،فلم اخیستو نکی: صدیق امین زی، لوبغاړي: وکیل نیکبین، حشمت فنایي.....

( شکست محاصره ) ۱۳٦۷ هـ.ل ۳۵ ملي رنګه سناریست: بشیررویګر، ډایرکټر: فقیر نبي، فلم اخیستو نکی: وحیدالله رمق، منتا ژور: قدیر رشیدي.. لو بغاړي: قادر فرخ، سلام سنګي،ناصر عزیز، عزیز الله هدف.

( رد پا )۱۳۷۰ هـ.ل ۳۵ ملي، تور اوسپین.سناریست: عظیم جسور، ډایرکټر: فقیر نبي، فلم اخیستو نکی: سید موجود حسیني، منتا ژور: قدیر رشیدي، لومړی افغانی جنایی فلم.
لوبغاړي: قادرفرخ،فریدفیض،فریده همرا،اسداله ارام،جانمحمد حیدری..

# مستند فلمونه

مستند فلمونه لکه دداستاني فلمونو په شان په یوه ټولنه کي مهم دي، آن په ډېرو حالاتو کي چي دیو ي ساختګي کیسي پر بنیاد ترجوړ شوی هنري فلم عادي مستند فلم ښه دی، ځکه مستند فلمونه دیوي ټولني دواقعي تصویري تاریخ یوه غټه برخه جو ړوي.که څه هم دا فلمونه فرما یشي، تبلیغاتي او یاسیا سي وي، ځکه په هر د اسي فلم کي که په کامله توګه هم فرمایشي او تبلیغاتي وي بیا هم ډیر دا سي څه پکي شته چي د واقعي ژوند دیوي بر خي څرګندوی وي.زه دلته نه غواړم چي مستند فلم تعریف کړم، په هغه اندازه چي هنري فلموته په دي دوره کي توجه وه مستند فلمونه هم په هر کال تر شلو پوري رسیدل. دهغو فلمونو تر څنګ چي د اوښتون د کلیزو، د عالي رتبه هیاتو دسفرو په اړه خارج او په داخل کي دحزبي کنفرا نسونو اوحزبي اودولتي کارونو دانعکاس تر څنګ،نورو په زړه پوري موضو عاتو ته چي د دیني، ټولنیزو او ملي موضوعاتو ته وقف سوي وو اکثرو دي فلمونو تر ډیره حده ګزارشي بڼه در لوده او نه سو کولای چي هغه واقعي مستند وبو لو، ښه به دا وي ددي فلمونو زیا ته برخه مستند خبري وبولو، او آن د ډېرو ډایر کتران لا هم معلوم نه دي. دځینو مستندو په زړه پورې فلمونو یادونه ضرور ده لکه:

( مارشال تیتو درکابل )۱۳٤۷ هـ.ل ډایرکټر سلطان حمید، دا فلم لکه مخکي چي مو هم یا دونه وکړه یو مستند خبري فلم دی، دا فلم په دي خاطر د تو جه وړ دی چي لهیوې خوا لو مړی فلم دی چي دافغاني سینما ګرانو په لاس دافغا ن فلم په نوي جوړه سوي ستو دیو کي جوړ سوی دی، او بل دا چي ددي فلم ټولي چاري په څلورویشتو سا عتو کي تر سره کیږي، تر څو دفلم یوه کاپي پخپله مار شال تیتو ته دده دسفر په پای کي ور کړي.

( اسکان بشر ) ۱۳۵۲هـ.ل، ډايرکټر: عبدالخالق عليل، دا فلم د کليوالو د ژوند په هکله دي چي څنګه ددوي داوسيدو مخه په لو يو ښارو کي ونيول سي او په کليو او بانډو کي دکار زمينه ورته پيدا سي. .

- )بزکشي( ۱۳۵۹هـ.ل ډايرکټر:محمود نوري، داپه زړه پوري مستند فلم دبز کشي د په زړه پوري لو بي په هکله دی.

( پرورشگاه وطن ) ۱۳۶۳ هـ.ل، ډايرکټر: واحد نظري،دا مستند فلم د جنګ او بد بختيو په کلو نو کي دهغو ما شومانو چي خپلي کورنی، مور او پلار يي له لا سه ور کړي دي، ژوند، خا طري او حالات په ډير عاطفي تو ګه پکي ځای سوي دي.

( قبايل ) ۱۳۶۳هـ.ل ډايرکټر: عبدالخالق عليل، دا فلم دافغا ني قبايلو د ژوند او تا ريخ په هکله دپه زړه پوري محتوا در لودونکي دي.

( مارياي پراشوتيست )۱۳۶۵ هـ.لډايرکټر: سيد موجود، د افغا ني مار يا چي لو مړنی ښځينه پرا شو تيسته ده، فلم ددي پر اتلولی باندي جوړ سوی دی.

( خواب طلايي )۱۳۶۶ دا دهمايون مروت د ديپلوم کار دی، چي دا فغان فلم په مرسته جوړ سوی دی، او په طنزيه توګه، دښاري ژوند او په خاص ډول دښاري سرويسونو په هکله دی.

( خانهء تاريخ ) ۱۳۶۷فلم اخستونکی او ډايرکټر: قادر طاهري. دا فلم زموږ د خلکو د ژوند او ابادېو تر څنګ دفرهنګي ميرا ثونو او تا ريخي اثارو په هکله دی چي څنګه دجنګ په دوران کي د همدي وطن دخلکو له خوا په بيرحما نه توګه لهمنځه ځي او يا هم تخريبيږي. چي عاطفي بعد يي ډير دردونکی دی.

( انقلاب در روند تکامل )۱۳۶۳هـ.ل ډايرکټر واحد نظري، په دي فلم کي په کرونو لو ژيکه توګه د ثور د بدلون لا سته را وړني ځای سوي دي ( دافغان فلم دارشيف څخه )

# کارتو ني فلمونه

کار توني سينما چي د رسا مي او نقاشی ښخه پکي ګټه اخستله کيږي په اصل کي دسینمادمنځته را تلو نه مخکي دي، یا په بل عبارت لو مړنی متحرک فلمونه همدا انيميشن او کا رتو ني فلمونو ته ور ته تخنیک ښخه وه. د( پلا نو ) دفناکسيتيسکوپ او دهغه بشپړ وريانت زويتروپ او همدا راز پرا کسينو سکوپ دا ټو لو دهمدي تخنیک ښخه استفاده کوله، چي نن دکار تو ني فلمونو په جوړيدو کي تر ي ګټه اخستل کيږي.
دشلمي پيړی د پيل نه مخکي ملي يس دخپلو فلمو لپاره دکامري د حرکاتو او دعکسونو د ايښولو يو د بل تر څنګ، استفاده کوله. دا لړی همدا سي اوږديږي، او په زړه پوري تجربي په دي اړه په نورو هیوا دو کي تر سره کيږي تر څو غتي کمپنی لکه ( والت دیسني ) په دي برخه کي امر یکا تر نورو برلا سه کوي او په ۱۹۲۳ م کال کي د( الیس دعجا یبو په خاوره کي ) او د ( مکي موس ) په جوړيدو سره دا ژانر ډيره وده کوي. ( * )

( * )دیوید رابینسون،( تاریخ سینمای جهان )،ژباړه: همایون عباس پور او ابراهیم ابوالمعالي دنګاه انتشارات، ایران. پاڼه ٤٧٩

په افغا نستان کي په۱۳٦٦ کال کي دلو مړي ځل لپاره دافغا نستان دتکړه کارتو نست: هژبر شينواری په ابتکار د خپلو نژدي همکا رانو سره يو ځای، پر وين پژواک او حسن صامدي... سره ديوه لنډ فلم چي د( تمرين ) په نا مه يا ديدی، په افغان فلم کي پيل سو. دوی په ګډه ددي يو ه دقيقه يي فلم لپاره په زر هاوو رسمونه رسمکړي وو، چي د ډير تود استقبال سره مخامخ سو. حيات اله حياتي د ددي لومړني انيميشن دفلم اخستو چاري پر غاړه در لودي او اسداله بديع يي دموسيقي د تهيي په برخه کي همکاري در لوده.

ددي فلم په ادامه دهمدي کوچني یونټ له خوا پر یو بل فلم چي تر پنځو دقیقو پوري يې وخت نیوه کار پیل سو.

یو بل دکار تو ني فلمو څخه چي په وروستیو کلنو کي جوړ سو د )محسن حسیني( فلم دی.چي په ۲۰۰۶ کال کي جوړ سو او دشپږو دقیقو په حدو دو کي وخت نیسي چي ډیر په زړه پوري فلم دی چي دجنګ دبد بختیو په هکله جوړ سوی دی.او څو جایزي يې په داخل او خارج کي تر لا سه کړي دي ( * )

په دي وقفه کي څو نور فلمونه هم جوړ سول، چي زیا تره تبلیغا تي محتوا لري، لکه انتخا با ت، د موټرو دسرعت دخطراتو او دا سي نورو مو ضوعاتو په اړه جوړ سویدي.

( * ) ( حسیني، محسن، کارتو نست دپناه دفلم جوړونکي دیاد دا ښت پر بنیاد )

# نړی او افغا نستان

و افغاني سینما ته هغه وخت تو جه زیاته سوه چي دلته دسینما دروازي و تړل سوي او سینما مسلکي کار کونکي له وطنه څخه وتو ته مجبوره کیږي او ډیر يې هلته خپل کارونه دسره نیسي، دبلي خوا دا غمیزه دخارجي سینما ګرانو پام هم د افغانا نو وخواته را اړوي، دیوي خوا دافغانستان غمیزه او دافغانانو مبارزه دمتجاوزینو په وړاندي ددوی لپا ره نوي موضوع ده، او دبلي خوا هغه کدوال

چي ددوی ښارونو او هیوادو ته ور ځي، دهغو ژوند او نا خوالي سینما گران دیته هڅوي، چي دهغو په هکله فلمونه جوړ کړي، دا هم باید هیر نکړوچي دافغانانو دحوادثو ډک تاریخ اوښکلي او زړه وړونکي طبیعت، کلتور او عنعنا تو هم لا له په خوا نه نړیوال سینما گران دیته هڅولي دي چي یا افغانستان ته را شي او یا هم په نورو هیوا دو کي دا افغانستان په اړه فلمونه جوړکړي. ځینې هغه فلمونه چي پهدي هکله جوړ سویدي لکه:

( سوارکاران ) ۱۳۵۰ دکلمبیا فلم له خوا سناریست: ( دالتون ترامبه ) دایرکتر: جان فرانکن هایمر، دعمر شریف، جک پالانس، او لاي تایلرینگ... په گډون. دافغانستان دملي لوبي ( بـُزکشي ) په اړه جوړ شوی. په فلم کي دیو سوار کار ژوندیي راوړی چي په بزکشی کي یي ښېنه ماتیږی او په مسابقه کي ماته خوری. خو بل وار زیار باسی چي بیرته لوبه وگټی

( ما موریت در کا بل )۱۳۴۲هـ ل شوروی اتحاد
دشوروی د سفیر راتگ وکا بل ته او دده دسترگو لیدلی حالات په دي فلم کي انځور سوی دی.

( ملاقات بامردان برجسته ) ۱۳۵٦هـ ل دایرکتر: پیتر بروک.
دا فلم تر پردی نه را ځی.

( دهرماتما ) ۱۳۵۲ هـ ل دایرکتر: فیروزخان.هندوستان.
دیو هندوستانی سیاح یا گرځنده ځوان په هکله دی چي دهند څخه افغانستان ته راځی او پر یوی کوچی انجلی مین کیږی خو دهغی وصال ته نه دسیږي.

( اندوه افغان )١٣٦٤هـل دایرکتر: زلمی کا سي،جرمني.
دا لومړی چي دافغانی مهاجرو په هکله په پاکستان کي دافغاني کډوالو دژوند او ستو نزو په اړه جوړیږی.

( بایسکل سوار ) ۱۳۶۴ دایرکتر محسن مخملباف، ا یران
دفلم کیسه دیو افغان دنسیم په نوم چي میرمن یي دکډوالی په ژوند کي ناروغه کیږی او دعملیات له پاره دپیسو موندلو لپاره د بایسکل څغلولو ) مسابقه کی گډون کوی.

( جمعه ) ۱۳۷۸ هـ ل دایرکتر: حسن یکتاپناه ا یران )

جمعه افغانی مهاجر چی دلبنیاتو یوه فارم ته کار کوی، دده دعاشقی او ماجر اووته دمستو خرڅو نکی له لور سره،وقف سوی دی.

( **باران** ) **۱۳۷۹** هـ ل ډايرکټر مجيد مجيدی ايران
ديوې ځوانی مهاجری نجلی کیسه ده چی دپلار تر بیکاره کیدو ورو سته دیوی پیښنی په تر ځ کی غواړی چی دهلک په کالو کی دپلا ر تر کار لا سه کوی.

( **خدا گواه** ) ډايرکټر: موکل انند، هند
بادشاه خان چې په افغانستان کې د بزکشي د لوبې پر مهال له ښکلې بينظيري سره ليده کاته ترسره کوي، خو مخکې له دې چې نوموړي له بينظيري سره واده وکړي بادشاه خان مجبوره دې چې هند ته لاړ شي او د بينظيري د پلار د قاتلانو ځخه بدله واخلي.

( **كندهار** ) ۱۹۹۸ ډايرکټر محسن مخملباف، ايران
د نفس په نامه ديوي خبريالي کيسه بيانوي کوم چې خپل هيواد ته بيرته راګرځي. ترڅو د طالبانو تر ولکې لاندې سيمې کندهار کې خپله خور وژغوري.

( **په دې نړۍ کې** ) ډايرکټر: اندريو ايتن. انګلستان
جماالدين ترابي چې په پيښور کې زيږيدلي او د خپلکډوال ملګري سره يواځي د ايران، ترکي او فرانسي له لاري انګلستان ته سفر کوي
( **له طالبانو څخه تېښته** ) ډايرکټر: يوجال چتوپاديا. هندوستان.
دغه فلم د کابلي والا ښځه" د واقعي داستان چې سوشيمتا بينرجي ليکلي دي جوړ شوي دي. پروډيوسران: اشوک کيمکا او ويجي نوپاني.

( **سرگرداني سترګي**) ډايرکټر: کيوين رينولد.
د اختطاف کوونکو يوه ډله چي د افغانستان د تيري جګړي په دوران کي آزاد ګرځي. دغه سري تېښتونکي ډله د هغو پوليسو څخه سخته ويره لري کوم چي د کابل د وګړو د ساتنې په موخه ګمارل شوي دي.

( **The Beast** ) ۱۹۸۸ م ډايرکټر: کيوين رينولد. امريکا
د فلم داستان د روسانو پر وړاندي د افغانانو د پاخون او د جګړي پر سترا تيژي جوړ شوي دی.

( نیلوفر در باران )۲۰۰۲ م ډایرکټر: همایون کریمپور،فرانسه.
( باران )۲۰۰٤ ډایرکټر: مجید مجیدي. ایران
دغه فلم د هغه ځوان پرکیسه جوړ شوي چې په یوه ساختماني ساحه کي کار کوي او خپله دنده د یوه افغان کارګر له خوا چې په غیر قانوني ډول ګمارل شوي دي له لاسه ورکوي. دغه هلک په سخت کار مجبورېږي

( اکادمي زیبایي کابل ) ۲۰۰٤ ډایر کټر:Liz Mermen په امریکا کې.
دغه فلم د هغو افغاني ا صله امریکایي ښځو د یوي ډلي کیسه بیانوي چې په کابل کې زیږیدلي او د هیواد څخه بهر تللي دي ددغه فلم په لړ کې دوي کابل ته سفر کوي او هلته سینګار ځای جوړوي.
( خاک و خاکستر )۲۰۰٤ ډایرکټر: عتیق" رحیمي" فرا نسه
زوړ سپین ږیري دستګیر او دهغه نوي پنځه کلن کوښ لمسي یاسین دسکرو د هغه کان پر لوري خوځیږي چیري چې د دستګیر زوي مراد کارکوي، دستګیر غواړي ووایې چې هغه له هغی پیښــــــي نه خبر کړي چې د تیر بمي برید له امله ددوي دکورنی ټول غړي له منځه تللي دي.

( رقاص آتش ) ۲۰۰٤م ډایرکټر: جواد واصل،بریتا نیا

( القریم ) ۲۰۰٦: ډایرکټر: اجمل یورش او افندي یعقوب.
کریم او نصیر دوه افغاني الاصله امریکایي ځوانان دي چې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د ۱۱ په حادثه کي په کوینز کي، کله چې تعصب او کرکي ښارونه نیولي وو. پر دي فکر کوي چې دوي او د دوي په شان نور مسلمانان چې د ظلم او تیري قرباني شوي دي څه وکړي.

( کاغذ پران باز ) ۲۰۰٦م ډایرکټر مارک فو ستر،امریکا
او داسي نور دي چې په بین المللي سطح د توجه وړګر ځي او په مختلفوفستیوالو کي له هغیجملي څخه لکه د ( نانت ) د دریمي نړي دفلمونو فستیوال په فرا نسه کي ۲۰۰٤کال چې زیاتره برخه یې افغاني سینما ته وقف سوي وه.
د جرمني د کلن په ښار کي فستیوال ۲۰۰۵ چې دشلو په حدودو کي لوړ او لنډ افغاني فلمونه پکي ښکاره سوه او یوازي د افغاني فلمونو ننداري ته وقف سوي وو.
په دي مر حله کي سینما خپله ژبه پیدا کوي، خو دا بیان تر یوه حده دخارجي مسلکي یو نتو په کومک ترسره کیږي. چې افغاني سینما ګرا نو ته د هنري بیان

دتحقق امکان میسره کوي. ولي په دي کي شک نسته چي موږ دخپلي سینما و اتوریته ته دنورو په سترګو کي ډیر لیواله یو، خو داهم باید هیر نکړو چي زموږ فلم باید هم په دننه په هیواد کي هم همدا اتوریته دخپلوخلکو په سترګو کي پیدا کړي تر څودنورو مبتذله فلمونو چي همدا اوس په هیواد کي دپردي پر مخ را ځي نه یوازي ښه بدیل بلکي زموږ دوا قعي هویت او ژوند څر ګندوي وي.

# بهرني فلمونه

په افغانستان دانوی صنعت او ددي هنر او کارلپاره دپخوا څخه هم داسي څه نه وه موجود چي هغه دیوي مستقلي سینما او فلم جوړولو پرصنعت معین تاثیرات ولري. نو معلومداره خبره ده چي په اول ځل دنورو د اثارو تر تاثیر لاندي سینما منځته راغله. چي د لومړي فلم په جوړولوکي دهغه ټوله دشوټنګ ایډیټنګ او درلیز کارونه په هندکي ترسره کیږي او دغه سینما په منطقه کي په هغه وخت کي دیوي

منظمي سينما درلودونکي وه، او دا هم تصادفي نه وه چي زموږ لومړي تياترستان چي دفلم جوړولو شوق ورسره پيدا سوي و دهغه وخت هند ته ځي.
په لومړيو کلونوکي دنورو سينمايي فلمونو تاثيرات پرافغاني سينما باندي ډير کم محسوس دي ځکه دا هغه وخت دي چي دنوري دنيا فلمونو ندرتاً افغانستان ته راتلل او يوازي هندي فلمونه په ډيره پيمانه دکابل سينماګانو دپر دي پرمخ ښکاره کيدل. خو دافغانستان په سينما کي دفلمونو دلومړنيو توليداتو په برخه کي مو دهند سره دبلدتيا وياړ درلود،چي ( عشق اودوستي ) دافغانستان دلومړني فلم په توګه، دهمدي هنديانو په مرسته جوړشو، او اوس زموږ دسينما په تاريخ کي، دلومړني افغاني فلم په نوم ياديږي، ديادوني وړده چي دهنديانو مستقيم اويا غير مستقيم حضور په ( عشق او دوستي ) سره نه خلاصه کيږي. هغه کسان چي دکلونو له مخي زيات عمرلري د ( درماتما ) په فلم کي چي په افغانستان کي يې شوټينګ تر سره شوي او دهند ي لوبغاړي فيروزخان حضور ښه په ياد لري اوکلونه را وروسته بيا د ( اميتابچن ) سره چي د ( خداګواه ) په فلم کي يې ديوه افغان رول اجرا کړي دی، زيات معرفي سول. نوځکه ويلاي شو چي افغانستان د ډيرپخوا راهيسي دهندي فلمونو اوهندي فرهنګ سره بلد و، او دا چي زموږ شپاړس ګونو سينما ګانو، چي په هره او نی کي يبيو فلم ښکاره کا وه، او يا دا چي په يوا زيني تلويزيون کي په مستمره تو ګه هندي فلمونه ښکا ره کيدل، او يا هم هندي فلمونه چي په بيساري تو ګه په کستونو کي هيواد ته را تلل.
همدا راز دامريکا يې او اروپا يې سوپر فلمونو جوړول ( سوار کاران ) ( ماركوپولو ) ( ملاقات بامردان برجسته )او ښکاره کول په افغانستان کي. په دي کي هم شک نشته چي دلومړنيو سينما ګرانو را تګ افغانستان ته چي په نورو هيوادو کي يې تحصيل پاي ته رسولي و هيڅ امکان نلري چي هغه هم دهغه هيواد دسينما څخه نه وي متاثره سوي. فيض محمد خير زاده دامريکا څخه راځي. دده فلم او ترديد ځايه دهغو کورسونو دايرول پرلومړينو فلم جوړونکو به بې تاثيره نه وه، او بيا وروسته دهند او شوروي څخه دسينمايي زده کړو څخه، هم ځينې ډايرکټران راځي نو په دي شکل نتيجي ته رسيږو چي دشوروي دسينما دتاثيراتو څخه زموږ سينما ښايي يوه اندازه متاثره شوي وي. زموږ د هغه سينماګرو چي زده کړي يې په خارج کي نه دي کړي او په داخل کي دخپل شخصي ذوق اوعلاقي سره دفلم په جوړولو لاس پوري کړيدي. حتماً ددي سينما ګانو څخه متاثره شويدي اولومړي فلمونه يې حتماً هغه فلمونو نه دي چي دمستقل افغاني رنګ درلودونکي وي، او دارنګ ممکن هم نه و چي داسي ژر منځته راسي. او داهم بايد هير نه کړو ترڅوچي زموږ سينما لکه څنګه چي لازمه وه شکل نيولي دي سينما بيا خپل ځاي خالي پريښوي او په داخل کي فلمونه نه جوړيدل او سينماګران چي نوروهيوادو ته چي مهاجر شوي وه، هلته په ډيروکمو امکاناتو د دولت دحمايي څخه پرته، دفلمونو په جوړولو لاس پوري کړ، دافلمونه هم په هيڅ صورت هغه

فلمونه په مجموع کي نه وه چي زموږ زړه په خوشحاله کړي، دافلمونوو دافغاني سینمایې هویت درلودونکي نه دي. ځکه چي محدود او ناچیز امکا نات، دلازمي بودجي نه درلودل، او هغه بیره چي ممکنه هغه پیسي چي پرفلم مصرفیږي بیرته ترلا سه نسي دسینما ګرانو او بیاد متعهدو سینما ګرا نو لاسونه تړلي وو.

اوهغه سینماچي د نړیوالو پرودکشنو له خوا چي دپوره امکاناتو در لودونکي وه هم جوړشوي وه، زموږ دا هیله یې ترسره نکړه چي ملي باهویته سینما جوړه کړو، دیوي خوا هغه چاچي ددي فلمونو لپاره پانګه اچولي وه خپل خواهشات هم درلودل، ځکه چي نور خو لیوني نه وه چي دبل دهدف لپاره هپلي پیسي په خطرکي واچوي بیله شکه هغه ته خپل تجارت هم مطرح وي یعني تردا اوسه پوري چي ډیر فلمونه دلته نه جوړیږي اوکه جوړیږي هم دشخصي پرودکشنو تولیدات چي په هیڅ صورت دیوي افغاني سینما په څیر، چي افغاني رنګ او بوي ولري او ددي خلکو د کلتور څرګندوي وي د پردي پرمخ نه دی راغلي او هغه پخوانی دفلم جوړولو، بهرنی زړي نسخي پکي کارول شویدي چي هغه دنورو دکلتور بیلګي دي چي تراوسه هم ادامه لري.

# دوهمه برخه
# د افغاني فلمونو
# جوړونه په نورو هیوادو کي

دطالبانو درژیم دړنګیدني دافغانستان دملی سینماپه خوځښت او درنښت هم ستره اغیز وښیندله، لکه څنګه چي مخکي مي دي موضوع ته اشاره وکړه چي دلته دسینما دروازي و تړل سوي اود سینما مسلکي کار کونکي له وطن څخه وتو ته مجبوره کیږي او ډیریي هلته خپل کاروته له سره نیسي او یا هم هغه ځوانان چي هلته لو یږي او یا هم په دي برخه کي تجربي ترلاسه کوي، او یا هم په دي ځانګه کي تحصیلا ت تر سره کوي دافغاني سینما دا نغری چي دلته په هیواد کي سوړ دی هلته په بهرکي بیا تر یوي اندا زي تودیږي. ددي دوري ځیني فلمونه چي ښایي په یا دیدو و ارزي دادي.

( **د هغې له سترګو څخه** ) ډایرکټر میثاق کاظمي فلم دیو هندي مسلما ن فوځي افسر ( یومیش مشرا ) کیسه بیانوي. چې له ډیرو کلو وروسته خپل کور ته ځي تر څو دهغې ښځې سره واده وکړي چې مینه یې ورسره درلودله. خو هغه میرمن په کلیسا کي راهبه شوي وي، د مینې د لاسه ورکولو سره د مشرا عقیده پر خدای هم له منځه ځي...

( **په غلطو لاسونوکي** ) ۲۰۰۱م ډایرکټر: ولي رزاقي.
دا فلم دوو دوستانو داستان دی چې هر یو یې په امریکا کي دا مریکایې خیالي ژوند ته درسیدو لپاره خپل تصورات لري.

( **اختطاف** ) ډایر کټر: معرفتشاه، په روسیه کي.
د اختطاف چیانو دیوي ډلي تعقیب دپولیسو له خوا ښودل کیږي.

( **افتاب بی غروب** ) ډایرکټر:جوانشیر حیدري، په تاجکستان کي.
دغه فلم د افغان مشهور سندر غاړي احمد ظاهر د ژوند په هکله دی.

( **درسر زمین بیگانه** ) ډایرکټر: آصفي، په امریکا کي.
د ا فلم چې په ښکلي ډول خوریوګرافي شوي دی، دیوه افغان ځوان اړیکي دخپلي نامزدي سره ښیي چې دپلار له خوا ور ته غوښتل سویده.

( **چلنجر** ) ۱۹۹۸ م پرو دیوسر:قیوم سلیمان خیل، جرمني
( **سایه آتش** ) ۲۰۰۰ م ډایرکټر: سعید اورکزي، په امریکا کي.
دغه فلم د مینې، معصومیت او زړه ماتوني او د کورنی اړیکو پر اساس جوړ شوي دي..

( **حقیقت گمشده افغانستان** ) ۲۰۰۳ ډایرکټر: یاسمین ملک نصر. په امریکا کي.د طالبانو له دوري وروسته د جګړو ورانیوته په یوه صادقانه کتنه ده.
د فلم ډایرکټره افغانستان ته سفر کوي او د زیات شمیر افغانانو سره مرکي کوي
( **گمراه** ) ۲۰۰۲ م سناریست اوډایرکټر: واحد نظري پرودیو سر: فهیم فیض. په استرا لیا کي.
ددوو وروڼو داستان دی، مشر ورور چې پخوا مهاجر سوی دی، په ډیر زحمت پیسي پیدا کوي، او خپل کشر ورور را غواړي، چې هلته تحصیل وکړي، خو هغه په عیاشي بو ختیږي.

( **هجرت** ) ۲۰۰٤م سناریست او ډایرکټر: واحد نظري، پرودیو سر ستوری منګل. په هالنډ کي.
د یوه ځوان دمهاجرت او کډوالی کیسه ده، چي په ډیر زحمت ځان اروپا ته رسوي تر څو خپله را تلونکي تضمین کړي، خو دستونزو سره مخامخ کیږي.

( **په یوازیتوب کي ژړا** ) ۲۰۰۵ م ډایرکټر: سعید اورکزي. په امریکا کي.
د میني هغه دوه ګوني کیسه بیانوي چي پکي یوه ته هوسایي او امتیازات او د بل لپاره غم او درد ور په برخه دي.

( **دختر افغان** ) دایرکټر: یوسف رویان، په انګلستان کي
په دي فلم کي هڅه سویده دیوي افغاني نجلۍ تر بیه په یو غربي هیواد کي وښیي

( **رویا** ) ډایرکټر: حشمت خان، په هند کي. کمیډي فلم دیومیانه ساله دخپل راضي حسود سړی په هکله دی چي خبل دوستان اوګاوندیان انتقاد کوی ، په پاي کي خپله بربادی په خوب کي وینی کله چي ویښ شی نوتول یوخوب وی اوبس

( **حادثه** ) ۱۹۹۹ م دایرکټر: نذیر مردمي، په امریکا کي.

# خپلواک تلویزیونونه

# او تلویزیوني فلمونه

نن رسنۍ په ګڼ شمیرهیواد ونوکي دخلکو پرشخصي او تولنیز ژوند باندي دخورا اغیزمني وسیلي په څیر شمیرل کیږي. ښایي اطلا عاتي برخه یې، چي دتصویري رسنیو اصلي برخه جوړوي، خو دتلو یز یون تفریح او سرګرمي بیا د نړۍ دتولو خلکو لپاره د ځانګړي توجه وړ ده.
مخکي له دي چي دافغانستان دتلویزیون تاریخچه په ګوته شي په دي هم باید پوه شو چي دتلو یز یون د جوړیدو او دهغه د وسایلو د برابرولو چاري څه وخت پیل او بیا څنګه پشپړي شوي؟
درادیو افغانستان ریاست د جاپان د( کني ماستو ګوشي ) شرکت د جاپان ۹۵۰ ملیونو وړیا مرستي په لګښت په ۱۳۵۵هـ.ل کال کي دزمري په څلیرویشتمه نیټه دتلویز یون دتخنیکي وسایلو دبرابرولو او د تلویزیون دخپرونو د ودانۍ د جوړولو په موخه یو تړون لاسلیک کړ.
ددغه تړون پربنسټ په ۱۳۵٦کال کي د افغانستان دتلویزیون د ودانۍ د بنسټ ډبره د رادیو افغانستان دستدیوګانو د ودانۍ ترڅنګ کیښودل شوه او سل ملیونه افغانۍ لګښت یې د دولتي بود جي څخه تمویل شو.
په ۱۳۵۵کال کي د آسمایي غره په څوکه دترانسمیتر د درولو لپاره د دري نیم کیلو مترو په اوږد والي سړک د ۱۳۵٦ په لومړیوکي بشپړ شو.

په ۱۳۵٦کال کي دتلويزيون دترانسميتر او دستديوگانو د ودانۍ چاري بشپړي شوي اوهغه تخنيکي وسايل اوتجهيزات يې چي دجاپاني کمپنۍ لخوا برابر شوي وو په سټديو گانو او اړوند ځايو نوکي مونتاژ او ودرول شول.
دتلويزيون د باندي دخپرونو دثبت لپاره تلويزيون گرځنده سمباله ( او بي وان ) NEC دستگاه وپيرودل شوه او وروسته دمستقيمو نشراتو دثبت او خپرونو په مقصد د ( بوش ) سمباله دستگاه په څه دپاسه دوه نيم مليونه مارکه وپيرودله شوه. او تلويزيون دهغه مهال دتکنالوژي په پرمخ تللي ( پال سکم ) سيستم عيار شو.

# ملي تلويزيون

دافغانستان تلويزيون د سردار محمد داوود خان دجمهوري رياست په وروستۍ مياشت د ۱۳۵۷ كال د وري د مياشتي په دوهمه نيټه خپلي امتحاني خپروني پيل كړې كه څه هم دتلويزيون تر جوړيدو دمخه دافغانستان تلويزيون مسلكي روزل شوي او نشراتي او فني كدرونه نه در لودل خو د خپرو نو دپيل نه څو مياشتي پخواني كابو شپيته تنه فني اونشراتي كاركوونكي دلنډ مهاله كورسو نو او تلويز يوني خپرونو دبرابر ولو لپاره بهرنيو هيوادو ته واستول اوله زده كړو وروسته يې دجاپاني سلا كارانو په مرسته دخپرونو دثبت او جوړولو چاري په مخ بيولي.
دتلويزيون په امتحاني خپرونوكي ذوقي، علمي او سپورتي مطالب او كارتوني فلمونه شامل و. دغه خپروني د ۱۳۵۷ هـ.ل كال دغويي تراوومي پوري رواني وي چي دكابل ښار څخه دباندي له ۳۰ نه تر ۶۰ كيلومترو پوري ليدل كيدي.
دثور له اوومي وروسته دتلويزيون خپروني دلنډي مودي لپاره وځنډيدي شوي او دهمدي كال دهيواد د آزادي دبيرته اخيستو په ورځ دزمري په ۲۸ نيټه په رسمي توګه تلويزيون پرانستل شو.په پيل كي دتلويزيون دوه ساعته تعليمي خپروني درلودي، خو د وسايلو په بشپړولو سره د تلويزيون په خپرونوكي بيلا بيلي تولنيزي، اقتصادي، اطلاعاتي اوهنري خپروني زياتي شوي.
په۱۳۵۸ هـ.ل كال كي دتلويزيون خپروني څلوروساعتو ته ور سيد ي په ۱۳۵۹هـ.ل كال كي پنځو ساعتو او شلو دقيقو او په ۱۳۶۰هـ.ل كال كي پنځو ساعتو او پنځه څلويښت دقيقو ته ورسيدي.
په ۱۳۶۲هـ.ل كال كي د وخت شوروي اتحاد په مرسته دمارس ګرځنده دستګاه ودرول شوه او د ۱۹۸۰كال د المپيا لوبي په مستقيمه توګه وښودل شوي.
دشمشاد دستګاه په درولو سره د سپوږمه كيو له لاري تلويزيوني خپرو نو او دتلكس او تلګرام دمخا بري لاره اواره شوه.
په ۱۳۶۲ هـ.ل كال كي يوشمير ولايتونو ته دشپي لخوا دتلويزيون خپرو نولمن وغزيدله چي په لومړي پړاوكي كندهار، ننګرهار، هرات، غزني، خوست فراه او غور پكي راغلل.
په دوهم پړاو كي يعني په ۱۳۶۵هـ.ل كال كي دكونړ، هلمند، بغلان او بلخ كي دتلويزيون خپرو ني پيل شوي.
دملي راديوتلويزيون خپرونو د تجربه لرونكو كدرونو په لرلو سره تر۱۳۷۱هـ.ل كال پوري خپلي خپروني په ښه كميت اوكيفيت خپرولي خو په هيواد كي د ۱۳۷۱هـ.ل كال دغويي داتمي له بدلون نه وروسته دهيواد ونورو اقتصادي، تولنيزو او سياسي برخو په شان فرهنګي برخي اوله دغي جملي څخه چاپي د اوريدو او ليدو رسنيو هم سخت ګوزار وخوړ او په تيره بيا د طالبانو په دوره كي تلويز يون دخپرونو دجوړولو او دكدرونو دكډه كيدو او تښتي له امله دتلويزيون

خپروني دسختو ستونزو او محدودیتونو سره مخامخ شوې او زیاتي خپروني په ټپه و دریدلي.

دراديو تلویزیون یو زیات شمیر تکړه په کارپوه، مسلکي او وتلي لیکوال ژورنالیستان او هنرمندان دځانونو او اولادونو د له منځه تلو له ویري خپل هیواد پريښود او دهجرت او خواریو ژوند ور په برخه شو.دطالبانو د واکمنی نه وروسته په ۱۳۸۲ هـ.ل کال کي د انالوگ پخواني سیستم په دیجیتال بیتاکم بدل شو په همدي کال دهندوستان په مرسته دتلویزیون خپروني دستلایت په وسیله دیوزیات شمیر آسیایي هیوادو ته ورسیدي او په ۱۳۸۲ کال کي دسپوږمه کی له لاري دتلویز یون امتحاني خپروني پیل شوي.

د ۱۳۸۵ هـ.ل کال دحمل په دوهمه نیټه دتلویزیون خپروني پنځلس ساعتوته لوړي شوي د ۱۳۸٦ هـ.ل کال دچنگاښ په ۲۸ نیټه د تلویزیون خپروني دسهار له شپږو بجو پیل او دشپیتر ۱۲ بجویې دوام ومومند دهمدي کال دسلواغي له لومړي نیټي ATV نشرات څلیرویشت ساعتوته ورسیدل د همدي کال دافغانستان ملي تلویزیون اوس دهیواد په دننه کي په۳٤ ولایتونو کي خپروني لري اوپه یو شمیر آسیایي، هیوادو اروپا او امریکا کي دتلویزیون خپروني دلیدو وړ دي. دتلویزیون دنوي جوړولو،سمبالتیا او کدرونو د روزلو په برخه کي دهند جرمني، فرانسي، جاپان او یوشمیر نورو هیوادو مرستي دیادوني وړدي.( ۱۰ )

دطالبانو ترماتي وروسته اوپه افغانستان کي دنوي راتوکیدلي ژوند دغوتیوپه بیاغوړیدوسره، ددولتي تلویزیون تر څنگ شخصي تلویز یو نو نو یو په بل پسي په ډیره چټکی خپل ژوند ته لاره پرانستله.

دولتي رسنی په افغانستان کي یوازي ملي راډیو تلویزیون او تعلیمي تلویزیون، چي ددولت له خوا تمویلیږي، او ټول زور یي دافغاني کلتور او هویت څرگندو نه ده، ملي راډیو تلویزیون په هیواد کي لومړنی رسنی ده چي تر او سه یوازي پرتعلیمي او ملي منا فعو فکرکوي او ددي تلویزیون ټول فلمو نه، سریالونه، تلویزیوني تیاترو نه او خپروني ددي څرگندوی دي او دتلویزیوني هنري او مستندو فلمو نو او سر یا لونو یوازینی تولیدونکي دی

شخصي رسنی عبارت دي له تجارتي او سیا سي رسنیو څخه. ددي رسنیو منځته را تگ تر ډیره حده دسیالی دمختلفو سیا سي ډلو تر منځ اویا هم ژبني او تجارتي منا فعو داصولو لپاره یو په بل پسي په ډیره کمه موده کي منځته را غلي چي دا اوس یي شمیر تر شلو رسیږي ددي راز تصویري رسنیو اصلي مقصد تر ډیره دا نه وو چي دپر گنو کلتوري، ذوقي او معلو ماتي اړتیاوي په نظر کي ونیسي او یا خلک مصروف وساتي بلکي تر هر څه دمخه سیاسي سیالی، دمخالفینو تو رول اویو نوی تجارت و، چي اکثره یي د خارجي هیوادو او سازمانو له خوا حما یه او کمک کیږي، چي تر او سه یي یوازي یو- دوو دفلم او سریالونو په بر خه کي تولید در لو دلی دی. تر ډیره یي له خا ر جي پرو دکشنو

هم په پرا خه پیمانه ګټه اخستي ده. چي اکثره یي تر جمه یا دو بله هم نه لري. چي ځیني لومړني شخصي، تجارتي تلویز یونو نه عبارت دي له:
آریانا: دامتیازخاوند:احسان الله بیات
- آیینه دامتیازخاوند:یار محمد
- شمشاد دامتیاز خاوند: فضل الکریم فضل
- طلوع: دامتیاز خاوند: احمدجاهد محسني
- افغان: دامتیازخاوند: احمدشاه افغانزی
( د را ډیو تلویزیون، دجواز د اداري دثبت له دفتر څخه ).
( ددي تلویزیونو بشپړ لست په ضمیمه کي را ځي )
دغو تصویري رسنیو په ډیر شوق اوعلاقي سره په تفریح او سرګرمیو لاس پوري کړ، اودغه سر ګر مي، دهندي اواروپا یي سریالونو او بهر نیو خپرونو او سندرو په خپریدو، یو ځواکمن او پیا وړي پیل درلود.
دافغانستان په شخصي تلویزیونوکي دهندي سریالونو دبنکاره کولو لپاره دهندي فلمونو بي ساري اوسرسا مو نکي مسا بقه ده چي هر تلویز یون غواړي تر بل تر مخه سي تر ځو لیدونکي په خپل انحصارکي ولر ي، او تراوسه شخصي تلو یز یون دسریالونو او فلمونو دتولید اوجوړیدو لپاره فکر نه دی کړی او نه یي هم دتبلغاتو او پیسو دلاسته راوړلونه پرته دخپلو مخاطبینو او دکار دښه کیفیت په هکله فکرکړی دی؟

ځیني هنري، مستند فلمونه او سر یا لونه چي په ملي تلو یز یون کي تر ادا او سه جوړ سویدي:

( اشک ولبخند )۱۳۶۲ هـ.ل ډایرکتر: سعید ورکزي
( فرجام ) ۱۳۶۳هـ.ل دایرکتر: سعید ورکزي.

( صبح سپید ) ۱۳۶٤، هـ.ل ډایرکتر: سعیدورکزي.
فلم یوکارګری او بزرګری فلم دی چي د ثور د ۷ نبتي په هکله جوړ شوی دی

( دختربا پیراهن سپید )۱۳۶۴ هـ.ل ډایرکتر: فقیرنبي
دیوی نجلی په هکله دی چي د وسلوالو کسانو له خوا بر مته کیږي او په پای کي نجلی ځان او هغوی له منځه وړی.

( سربند ) ۱۳۶۳هـ.ل ډایرکتر: فقیرنبي کلیوالی ژوند ښکاره کوی کلیوال پر ډیرو ستونزو دکلي سربند جوړوی

( ناوې ) ۱۳۶۴سناریست: واحد نظري، ډایر کتر: رحمت خوستی ؟

( دلمرپه لور ) ۱۳٦۳ هـ.ل سناریست او ډایرکتر واحد نظري لنډ فلم، په پښتو ژبه.سمبولیک او رواني فلم،دیوه یتیم ماشوم ذهني انځور دی، چې دروانو اوبو پر مخ دخپلو بد بختیو وینو او جنګ تصویر ویني

( مجبور )۱۳۸۴ هـ.ل. ډایرکتر: عارف بي ریا.
یوانتباهي فلم دی چې دښځو پر وړاندې دتاو تریخوالی، زورزیاتی او دوخت ځخه وړاندې دودونو په هکله دی.
( دین ) ۱۳۸۱ ډایرکټر: عارف بي ریا دافلم دتاریخي آثارو دقاچاقو په هکله جوړشوی.

( قاب ) ۱۳٦٦هـ.ل ډایرکتر:نصیرالقاس. ( قاب ) فلم دیوی انځوګری انجلی په هکله د ی چې دیو ه ځوان سره چې د نوموړی انځورونه نقد وی اشنا کیږی.

( دکونډي زوی )۱۳٦۹هـ.ل لومړی افغاني سریال، سناریستان: کاتب پا ځون، منان ملګری، واحد نظري، ډایرکتر: واحد نظري. موزیک: ګل زمان، شاه محمود نوروزی، دکونډی دزوی دخیالونو، هوسونو، هیلو او محرومیتونو کمیک او ریال تصویر.

( سایه سیاه ) ۱۳۸٦هـ.ل ډایرکتر:امین رحیمي دتو لنیزو نا خوالو په پایله کی دیوه ځوان کیسه ده، چې غواړي په نا بلدی کې د خپلی خور سره واده وکړی.

( عشق پیري )۱۳۸٦ سریال، ډایرکتران: غفار ظلام، محمد کبیر رحیمي، بریال. کمیدی سریال دی چې یو ځوان د خپلی ښځی بي تفاو تي دیته اړ باسی چې پر یوی بلی ښځی چې ډیره مهربانه ده مین سی.
( ملي راډیو تلویزیون دمستندو او هنري فلمونو ارشیف )

( راز های این خانه ) سریال. ډایرکتر: رویا سادات

## تلویزیوني مستند فلمونه:

( افغا نستان بدون شورویها ) ۱۳٦۹ سناریست: ډاکتر ظاهر طنین،ډایرکټر: واحد نظري، لومړی مستند فلم چي اویا دقیقي ؤ. او د روسانو د وتو په در شل کی د افغا نستان هیلو او نا هیلیو یو عینی ژوندی انځور دی.

( آبدات تاریخی شهرکابل )۱۳۸۲ ډایرکټر عزیزروف

( دیروز امروز ) ۱۳۸۷ ډایرکټر:امین رحیمي دهغو خاطراتو په هکله چي دهیواد دجګړی، ویجاړی او بیا آ بادی او بیا رغاونی په هکله جوړ شوی دی.

( **درسوګ باباي ملت** ) ۱۳۸۷هـ ل ډايرکټر محمدعارف بي ريا مستند فلم دی دملت بابا په هکله چې د ځوانی حکومت داري او دمړينی دمراسمو څخه فلم اخستل شوی

( **افغانستان نن** ) ۱۳۸۸سناريست او ډايرکټر: واحدنظري.
د اوسنی افغا نستا ن يو روڼ تصوير، چې دجنګ او ورانی څخه پرته انځور سوی دی ( * )

---

( * ) ( ملي راډيو ټلويزيون دمستندو او هنري فلمونو ارشيف )

ددي راز فلمونو بشپړ لست په ضميمه کي را ځي.

# لومړی نړیواله بریا

## اسامه:

دیوي ۱۲کلني نجلی مور.چی له کا ره شړل سویده دخپلی لور ویښتان لنډوی او دهلک په څیره یې کارته استوی. کله چې دطالبانو له خوا دښار ټول هلکان ددینی واجباتو اوپوځی اصولو د زده کړي لپاره یوې مدرسي ته استول کیږی، دنجلی، راز رابرسیره کیږی، او همدا راز کله چې هلکان حمام ته بیا یی ترڅو دغسل کولو لاری چاری هغوی ته ور زده کړی، او په پای کی دنجلی راز هغه وخت را برسیره کیږی چی لمونځ غلطوی. چادري یې په سر ور اچوي لومړی بنځینه بند یخاني ته اچو ل کیږی او بیا دقاضي دشرعی حکم له مخی سپین ږیری ملاته ورکوله کیږی او دده دنورو میرمنو سره یوځای کیږی.

اسامه دطالبانو له پرزیدو وروسته لومړی افغانی فلم دی چی دیوه جاپاني اویوه ایرلندی شرکت په همکاری دګډ محصول په توګه جوړ سوی دی. فلم دیونسکو دفرهنګی سازمان له خوا دفلینی پلاک یاد جایزه.او دګلډن ګلوب جایزه چی دهالیوود دبهرنیو مطبوعاتو داتحادیی له خوا ورکوله کیږی او همدا راز دکا نا دا په مونترال کی اصلیجایزه د )فیلم نو و رسانه نودفیستوال ) تر لا سه کره

صدیق برمک پس له طالبانو دواکمنی څخه د ( جنگ تریاک ) فلم جوړکړی.
چې په څو نړیوال فستیوالونو او د روم په جشنواره کې یې هم جایزه گټلی ده.

## صدیق برمک:



په ۱۳۴۱کال کي دپنجشیر په ولسوالی کي زیږیدلی دی. لو مړنی زده کړی د کابل د نادریي په لیسه کی او لوړ تحصیلات یې د سینما د دایرکټ په برخه کی په پخوانی شوروي کی ۱۹۸۲-۱۹۸۷ ترسره کړیدي.
ده ډیرو فلمونو سنا ریو گاني لیکلي لکه: افراطي ( لند فلم ۳۵م )۱۹۸۴ من ( لوړفلم )۱۹۸۷، ( سایه ۳۵ م )۱۹۸۸، آغاز دیگر( لوړفلم ) ۱۹۸۹ ( عروج لوړ فلم ۳۵م ) ۱۹۹۱ ( بلوط لوړفلم ) ۱۹۹۵ ( گرگ ها و بره ها ) لوړفلم ) ۱۹۹۸
او همدا راز هنری او مستند فلمونه جوړ کړی دی:
بلیارد ( لنډ فلم۸ م ) ۱۳۶۰ سناریو او دا یرکټ، دیوار ( لنډ فلم۳۵م ) ۱۳۶۳ سناریو او دا یرکټ، دایره ( لنډ فلم۳۵م م ) ۱۳۶۴ سناریو او دا یرکټ بیگانه ( سناریو او دا یرکټ ۳۵ م م ) اسامه ( لوړفلم ۳۵م )۱۳۸۱ سناریو او دا یرکټ « جنگ تریاک ( لوړفلم ۳۵م ) ۱۳۸۷ سناریو او دا یرکټ، فاجعه اي پژمردن ( تلویزیوني فلم ) ۱۳۶۷، حدیث فتح ( تلویزیوني ) ۱۳۷۰ پرونده تجاوز ( تلویزیوني )۱۳۷۶

**دو ه واره دافغان فلم د رئيس په توګه د ۲۰۰۲ـ ۲۰۰۴ په توګه کار کړی او د بر مک دسينما يی موسسې مسوول.**

**( جنګ تر ياک )** **۱۳۸۸:**سناريست او ډايرکټر صديق برمک،
فلم اخستونکي: ګيورګي دزالايف، مونتاژ:ميشل هکسون....
ديو هليکوپتر تر رالويد وروسته دوو امريکايي سرتيروژوند چي دخپل ژوند دساتلو په خاطرخپلي وروستي هلي ځلي کوي او ديوي کورني سره چي په يوه زاړه ټانک کي ژوند کوي مخامخ کيږي. برمک په دی فلم ديوه سمبوليک او ګروتسک طنزي ديد سره وينو، چي له يوی واقعی زاويي دافغاني اوسنی ژوند دځينو ځانګړتياوو سره اشنا کوي.

**( خاک وخاکستر )** ډايرکټر عتيق رحيمی
**په فلم کی دخلکو په ژوند باندی دجنګ اوجګړی د ډارونکی سيوری انځور ښودل سوی دی. په دغه فلم کی دستګير چی دکورنی ټول غړی يې په جګړه کی له لاسه ورکړی دخپل کاڼه لمسي سره غواړی دخپل پلارنی کلی دورانی اومصيبت کيسه خپل يوازنی زوی ته چی دډبرو د سکرو په کان کي کارکوی ورسوی،**
**دخاک اوخاکستر سناريو دايرانی سناريست: کامبوزياپرتوی د( خاک و خاکستر )د داستان له مخی ليکلی دی.**
**دفلم اصلی داستان عتيق رحيمي په يو څه بدلون دخاکستر اوخاک په ۱۹۹۹ کال کی خپور کړ وروسته په فرانسوی وژباړل شو.**

**( سه نقطه )** سنار يو او ډا يرکټ، رويا سادات،

ځوانه میرمن دخپل میړه له وژل کېدو وروسته دکلي دود او دستور دېته دبیا واده کولو اجازه نه ورکوي. دغه میرمن له لوړې ښځه دخپلواولادو دبچیدو لپاره دقبیلی خان ته پنا ه وړی، خو خان ګل افروزی ته دنیشه یي توکو د وړلو وراندیز کوی، دا دمجبوریت له مخی دغه کارته ملاتړی.

**( بچه‌ءکابلی )** افغانی فرانسوی ګډ فلم ډایرکټر برمک اکرم. سناریو ( ژان



کلودکاریر لیکلی ده. نوموړی فلم دیوی افغانی ښځی په هکله دی چې په ټکسي کی خپل ماشوم پرېږدی.دټکسی موټروان ددی په لټه دښار ټولی کوڅی اوبازارونه لټوي.

**( سیبي از بهشت )** همایون مروت

یوسپین ږیری سریله یوه لري کلي ځخه دخپل ځوان زوی دمو ند لو لپاره کابل ته راځی اوخپل زوی چې یي یوتعویذلیکونکي ته سپارلی ترځوهغه دینی زده کړو په مدرسه کې شامل کړي. دی هیله مند و چې زوی ې یو روحانی سړی شي. که ځه هم دی په دین او روحانیت نه پوهیږی غوښتل یي چې زوی یي دده په ځیر نه وي اوله نوروسیالانو یوګام پورته وی. خو تعویذ لیکونکی کلیوال زلمی ځان وژونکوته سپاری.

**( تار وزخمه ) سنار یو او ډآ یرکټ، رویا سادات،**
. فلم اخستونکي: بشیر عاصم

د ( تار و زخمه ) فلم چي ۴۵ دقیقي وخت نیسي،د جبري ودونو پر ضد د مبارزې یوه لوړه هنری هڅه ده، چي د یوې ترکمني افغان نجلي ( میرمنې ) ژوند په کې په ډېره شاعرانه اوهنري تو ګه انځور شوی دی. چي دژوند دناخوالو او دغالي اوبدلو سره رنګ اخلي او دا رنګ ټوله فلم ته رنګ ورکوي. ددي فلم ټول لوبغاړي دمحل خلک دي.

# نني ځوان سینما ګران او دیجیتالي فلمونه

**( نجات ) ډایرکتر صبا سحر: فلم پر جنګ، مهاجرت، فقر او دښځو پر مسا یلو را څر خي.**

**( همسایه ) سناریست داود وهاب ډایرکتر زبیر فرغند:**
**دغه فلم په ظاهرکی دیوې رښتیني پیښی پربنسټ جوړ شوی دی. ویل کیږي په ۱۳۷۷ کال کی ایرانی چاروا کو مشهد ته نژدی دسفید سنګ په کمپ کی په زرهاوو افغاني بندیان وژلي دي،**

**( هیس ) سناریو:سیدمعیدالحق موحدی،ډایرکتر:سیدفهیم ها شمي. حیات دطب دڅو محصلینو سره دعلمي ازموینو لپاره دشپي دقبرونو دلوڅولو او مړو دهډوکو د را ایستلو لپاره هدیری ته ځی حیات چي په روحي ناروغی اخته کیږي چی وروسته دلیونیا نو کوډلی ته وړل کیږي**

( من اسپ می خواهم نه زن ) ډایرکټر همایون پائیز.
یوه امریکایي فلم جوړونکي ډله لس کلن ماشوم زال او ځونور وکسانو ځخه غواړي تر ځو له دوی سره په فلم کي رول ولوبوي. زال کله چي دفلم اخستلو له پاي نه بیرته خیمي ته راګرځي اوپلاریی پرې زیری کوي چي ده ته یي له یو مهاجر چي سخت مجبور و د ۱۰۰ ډالرو په مقابل کې یوه وړه نجلی او دده مشر ورورته یي آس اخیستي دی. خو لس کلن زال دآس لیوني دی ا و ښځه نه غواړي.

( ګلچهره ) لنډ فلم ډایرکټر: عبدالرشید عظیمي.

( مدرسه ) داسد سکندر په دغه فلم کی موضو ع په ایران کی د افغانی کډوالو په کړو وړوپوري تړلي ده. دیوې افغانی مهاجری کورنی چی غواړی چي لوریي مکتب ته ولاړه شی. خو دکوچنی لور او دمور اوپلار هیله یې نه تر سره کیږي

( عکس یادګاری ) ډا یر کټر عظیم رشیدی
په افغانستان کی دجنسي تیریو رواني او ټولنیزي آغیزي په کي انځور کړې شوی دي.

( ګرګ ګرسنه ) اسد صلاحی دفلم ډایر کټر دخپلو شخصی تجربو پر بنیاد لیکی. داستان دمځکی د مافیا اوجنګ سالارانو په اړه دی، چي ځنګه کلیوال دخپلو مځکو ځخه بی بر خي کوي.

( اشک خون ) ۱۹۹۰ م ډایر کټر: سید رحیم سعیدی. ) د یوه بیکاره ځوان کیسه ده چي ځنګه مخدر ه موادو ته مخه کوی.

( چرخ ) ډا یر کټر: سلیم شا هین

( لذت شوق ) داستاني،ډایرکټراو سناریست:قادر آریایي، کامره: میرویس آرش،هندوکش فلم

# مستند فلمونه

( امید ) مستند د ۱۳۸۵ کال، ۱۲ دقیقې ډایرکتر، سناریست او منتاژ: محمدهارون همدرد کامره: شفیغ ضرغام

( درجستجوی یک ارزو ) ۱۳۸۵،سلواکیا،مستند، ډایرکتر: صحرا کریمي

( بیست وپنج در صد ) مستند،ډایرکتره: دیانا ثاقب کامره: ملک شفیعي

( تارتو،پودمن ) مستند۱۳۸۷،کال، ۲۰ دقیقې ډایرکتر اوسناریست: ارزو برهاني، منتاژ: موسی موسوي کامره: احمدسیرنورزاد

( در سودای استخوان ) مستند ۱۳۸۵کال /۱۸ دقیقې

ډایرکټراو منتاژ: رحمان عالمي سناریست: حکیمه عالمي اوموسی زکی زاده، کامره: موسی زکی زاده

( افغانی پربښتي ) مستند ۱۳۸۷کال /۲۳ دقیقې ډایرکټراوسنار یست: نعمت کاظمي، منتاژ: دیانا ثاقب کامره: محمد شفیع ضرغام

( بدو روبینا بدو ) ډایرکټر: دیانا ثاقب

( پامیر ) ډایرکټر ملک شفیعي، کامره:محمد حیدری

قومی او ژبنی اړخ لری، فلم دهغو خلکو په هکله دی چې په پامیر او د بدخشان په ولایت کې ژوند کوی. ځکه په دغه ځای کې په اووه ژبو خلک خبري کوي، باید وویل شی چې دټولو ژبو سرچینه اریایي ژبه ده.

فلم جوړونکي هڅه کړی ده چې په ډيري هوشیاری سره دخلکو ریښتنی اوعیني ژوند د دود او دستور اړخ په پام کې نیولو سره په فلم کې ښکاره کړي.

( گذرگاه ) ډایرکټر: حسین دانش ( گذرگاه ) مستند فلم

دافغانستان ددریو وروستیو لسیزو کړني او کړاوونو په روانه اولنده توگه بیانوي. گذرگاه د مجاهدینو او طالبانو د واکمنی دوره ښیي او په ژوندیو تصویرنوکی ددغی دوری تاوتریخوالی،وحشتونه او ډاروني ننداري ته وړاندی کوی: ډله ییزی وژنې، دمخالفینو تعقیب له ښځو سره کړني او نور.

( لالا هندو ) ۱۳۸۷ډایرکټر: حسن ناظری

فلم دافغانستان میشتو هندوانو تاریخ ته کتنه ده. فلم جوړونکی په دی مستند فلم کې هڅه کړی ده هغه مسلمانان چې دهندوانو په وړاندی تبعیض لری انتقاد کړی. په وروستیوکی هغه هندوان چې دځینو کسانو لخوا مهاجرت ته اړشوي دي او بد چلند ورسره شوی....

( در دهکده که ناقص العقلم می نامند ) ډایرکټر او سناریست: الکا سادات

## کارتونی:

( پناه ) محسن حسیني ۲۰۰٦ کال کې جوړ سو او دشپږو دقیقو په حدو دو کي وخت نیسي دجنگ دبد بختیو په هکله جوړ سوی دی.او څو جایزي يې په داخل او خارج کې تر لا سه کړې دي.

( عطر ) 100 ثا نیی

( هیتلر ) 6 دقیقی

( آخرین فریاد ) ۱۳۸۵ ډایرکتر علي رضا سجادي٥ دقیقي او ١٥ ثانیي

# ښځې او سینما

دافغا نستان په سینما کي دښځو ستو نزه لکه ددنیاد هري بلي سینما په شان ده، خو په دي تفا وت چي دا ستو نزه لا تر او سه زموږ په سینما کی پر خپل حال پا ته ده. دا دیوي خوا چي زموږ تولنه یوه سنتي او مذهبي تو لنه ده چي ښځه تر او سه لا دا حق نه لري چي په هنري کا رونو کي، چي د خلکو تر ستر گو تر او سه لا لا زم در نښت نه لري، بلکي به تو لنیزوکا رو نو کي لا هم ډیر دښځو د کار سره علا قه نه لري. په هرصورت دښځو نه ګډون او نه شتو ن به تو لو هنري پدیدو کي یو ستونزمن کار و، به تیا تر کي به دښځو رول دنارینه وو له خوا لو بیده. دسینما د لومړنیو ور ځو ښځه کولاي شو د حبیبه عسکر، میمونه غزا ل،خورشید سایره اعظم، زلیخا فخري، زر غونه ارام، محبوبه جباری غزا ل ابرا هیمي،مزیده سرور، پروین صنعتګر سره پیل سوه چي دا لوبغاړی، تولي دتیا تر لوبغاړي وي. په دو همه او دریمه سینما یي دوره کي مو ږ کولا سو چي یو تعداد سینما یي لو بغاړو شا هدان و او سو، چي تیا تر ی سا بقه یي نه در لوده، لکه عا دله ادیم، بصیره خا طره، نغمه، ذکیه داماچ، انیسه

وهاب، هما مستمندی، عاقله، ذکیه کهزاد...په دی دور ه کي لا موږ یوا زي ښځینه لو بغاړي لرو. په را ورو سته دورو کي، خصو صاً د طالبانو له وتو نه ورو سته بیا موږ د مستقلو ښځینه، پرو دیو سرا نو، ډایرکټرانو، او آن سینما یي ستو رو شا هدا ن یو چي په نړیواله سطحه دتمجید وړ گرځي لکه ستوري منگل، صبا سحر، ما رینا گلبهاري، یاسمین یارمل، رو یا سادات، دیانا ثا قب، امنه جعفري، صدیقه تمکین، برښنا بهار....

که څه هم دښځو ستو نزه تر او سه لا پخپل حالت پاته ده، ډیری ښځي او نجوني چي استعداد او علا قه لري، خو دیو ی خوا دا چي زموږ سینما تر او سه لکه څنگه چي لا زمه ده دخلکو په زړونو کي دیوه هنر په تو گه ځان تثبیت کړي او دبلي خوا دکورنی دنه موا فقي او یا هم ټولنیزو او ا منیتي ستو نزو له له کبله دا جرئت نه لري چي دسینما ډگر ته را ووځي. ډیرو ددی لوبغاړو څخه په یوه یا دوو فلمونو کی تر ظاهریدو وروسته دسینما سره د واده یا نورو لا ملو له کبله لا ره جلا کړیده او ځیني بیا په فلمونو کی په ډیرو فرعی رولونو کی را څر گندې سویدي. خو ډیرو ددی لوبغاړو څخه په دی وتو انیدل چی په سینماکې له ځانه ډیر په زړه پوری فلمونه په یاد گار پریږدی، لکه عادله ادیم، اوخورشید چی د وهمی او دریمی دوری په ډیرو فلمونو کی ښې وځلیدې، ستوری منگل، چی نه یوازی لو بغاړی وه بلکه دفلمونو پروډیوس ته یی لا س وا چا وه. یا سمین یارمل، او صبا سحر چی د ډایرکټری تر مقام یې ځان ورساوه، رو یا سادات، د هنری فلمونو دیانا ثاقب دمستندو فلمونو په بر خه کی دقدر وړ کارونه تر سره کړی دی، او همدا راز مارینا گلبهاري چی دطالبانو دواکمنۍ له نسکوریدوسره سم د ( اسامه ) په فلم کې دستوری په څیر میدان ته را وزی، او دیته پېغورونه دنړۍ پام ځان ته راگرځوی او د دهلي دسیول دفلمونو فستیوال ته لاره پیدا کوی او نړیوالي جایزی تر لا سه کوی.

ځینی نوری ښځینه لو بغاړی هم سته چی تر او سه دا سی څه ددوی څخه ندی لیدلی، چی د یا دولو وړ وی.

دښځو ونده په فلمومو کښتر اوسه لا ډیر ستونزمن کاردی. خوفلم جوړونکې تل په دی هڅه کي دی چې خپل فلمونه دښځو په مرسته په هره بیه چی وی د دوی په ونډه جورکړی. اوله دی کاره څخه لاس وا نخلی.

.

# شخصي اوتجارتي پرودکشنو
# او غير مسلکي سينما گران

دبين المللي قواوو په را تگ سره، دطالبانو له پر شا کيدو ورو سته بيا ادا امید پیدا کيږي چي او س نو بايد دنوروهيوادو په مرسته سينما خپله لار پيدا کړي. خارجي سينماگران کا بل ته را ځي په دا سي حال کي چي يو شمير سينماگران بيرته هيواد ته را ستنيږي، ځيني ځوانان چي په پا کستان او ايران کي دسينما په هکله زده کړي کړي دي هيواد ته په را تلو سره د شخصي پرو دکشنو په جوړولو پيل کوي. د افغان فلم دستگاه ځرخ بيرته په حرکت نه را ځي، يوازي در وازي يې خلا صيږي. ځيني لند هنري او تبليغي فلمونه دخارجي انجوگانو دکارو دتبليغ لپاره دهغو په مالي مرسته او حمايه جوړيږي، چي زيا تر ه دتلويزيوني کا مرو څخه استفاده کيږي. که څه هم دهغو ا شخاصوله خوا چي شخصي فلمي کمپنيو اجازه يې اخستي ده، په کابل که په هرو ځو ور ځو کي يو فلم افتتاح کيږي، خو ادا فلمونه د غير حرفوي کسا نو له خوا بيله دي چي سينما ته ديو هنر په ستر گه وگوري زيا تره دسينما څخه دکاذب شهرت او دڅو پيسو د تر لا سه کولو په خاطر چي په غير فني دول په بي کيفيته سي دي گانو کي بازار ته را ځي دافغاني

**فلمونو رنګ یې نه یوازي بیرنګه کړي دي، آن عادي لیدونکي یې لا دافغاني فلمونو دلیدو څخه په شا کړي دي چي په مجموع کي زموږ وسینما ته چي وروسته یا ته ده ډیرزیان رسولي دي او حتي هغه فلمونه چي پوره هنري دي او س لیدونکي نه لري، دیوي خوا افغان لیدونکي پر خپله سینما باور نه لري، چي دوي دیوه دووساعتو لپاره مصروفه کړي او دده استیتکي اوملي غوښتنو ته جواب ووایې دبلي خوایې په ډیرو دي فلمو با ندي سر نه خلا صیږي.**

**هغه پرودکشنونه چي تر او سه ددي کرښو تر لیکلو پوري دکار جواز تر لا سه کړی دی: سحر فلم، آریانا فلم، هندوکش فلم، رویان فلم، شاه رخ فلم، برومند فلم، فرغند فلم، افغان زمین فلم، جوان شیر فلم،کوهدامن فلم،قرن بیست و دوم و برمك فلم، هفتم فلم، سینمای دیدي نو....**

**( داطلاعاتو او فرهنګ وزارت،فرهنګي معینیت، دجواز ادا داري د ثبت ددفترڅخه )**

**( ددي پرودکشنونو بشپړ لست په ضمیمه کي را غي )**

# ضمايم.....

## سينمايي افغاني هنري فلمونه

( عشق او دوستي ١٣٢٥ ) هـ.ل سناريو: رشيد لطيفي، نشاط ملک خيل، ډايرکټر: هرالد لويپس لاهور ( هما فلم ) فلم اخستونکی: وي ار ترا.لوبغاړي: عبدالرحمن بينا، لطيف نشاط، احمد ضيا راتب زاد، نور محمد افغان، زيب قريشي

مانندعقاب١٣٤٣هـ.ل سناريست ډايرکټر: فيض محمدخيرزاده،: فلم اخستو نکی:سونه رام تلوار، لوبغاړي: ظاهر هويدا، زرغونه آرام
( روزگاران ) کال ١٣٥٢ش چي ددرولنډو فلمو څخه جوړ سوي و چي اوهري برخي خپل ځانګړی داستان درلود:

( طلبگار ) ١٣٥٢ په نامه سناريست ا و ډايرکټر عبدالخالق ( عليل ).کمره مين سونه رام ( تلوار )،سوند مين: سيد علي عالمي، منتاژور: توريالي شفق. لوبغاړي: خان اقا سرور، رفيق صادق، ميمونه غزال، غلام يحيي، شورانگيز- حبيبه عسکر او نور

_( شب جمعه ): ډایرکتر: انجنیر محمدعلي ( رونق ) سناریست او کمره مین: صدیق امینزي. سوند مین: سیدعلي عالمي، لوبغاړي: مشعل هنریار، فریده شایان، اختر پیکر...

_( قاچاقبران ) سناریست ا و ډایرکتر: سلطان حمید هاشم.کمره مین: صدیق امینزي، سوند مین: سیدعلي عالمي، منتاژور، سلطان حمید هاشم، حبیب کاویاني، عبدالرحمن صفتي.
لوبغاړي: حیات الله خروش، پروین صنعتګر، عزیزالله هدف، خان اقا سرور اوقیوم بیسد
( اندرز مادر ) ۱۳۵۳ کال ډایرکتر: عبدالخالق علیل کمره مین: صدیق امینزي، منتاژور: توریالي شفق، سوند مین:سید علي عالمي. لوبغاړي: نذیر، محبوبه جباري، اسدالله آرام، رفیق صادق ا و سایره اعظم.

( روز هاي دشوار ) ۱۳۵۳هـ ل ډایرکتر:ولي لطیفي سناریست: رفیق یحیایي توریالي شفق، کمره مین: صدیق امینزي.، سوند مین: سیدعلي عالمي، منتاژور: توریالي شفق. لوبغاړي: ولي لطیفي، احسان اتیل، حاجي محمدکامران، اصف وردګ، شازیه، او توریپیکي،

( رابعه بلخي )۱۳۵۳هـ ل ډایرکتر:عبدالخالق علیل او داود فاراني، کا مره مین: صدیق امینزي، سوندمین: انجنیر محمود، منتاژور: توریالي شفق، مکیاژور: نجیب الله سلطاني.
لوبغاړي: عبدالله شادان، سیما شادان، نذیر، داود فاراني او الفت هیروي..
( مجسمه ها میخندد ) هـ ل ۱۳۵٤توراوسپین۳۵ ملي متري عادي آریانا فلم. ډایرکتر: توریالي شفق، سناریست او فلم اخستو نکی:انجنیر لطیف، منتاژ: توریالي شفق، سوند مین: خیرمحمد محمود. لابراتوار: سلطان استالفي، سیدمصطفي اسدي،فاروق نیکزاد، خواجه احمد شاه. لوبغاړي: ذکیه کهزاد، عبدالله، وعبدالله وطندوست.

( سیاه موي جلالي ) ۱۳۵۸:اریانا فلم، رنګه ۱٦ ملي متر فلم اخستل شوی او بیا ۳۵ ملي بلو اب شو ډایرکتراو سناریست: عباس شبان، فلم اخستو نکی: انجنیرلطیف،سوندمین:شیرشاه ابوي،منتاژور: قدیر رشیدي. لوبغاړي: ستوري منګل،فقیرنبي،عزیزالله هدف ایوب معصومي، فتح الله پرند، بصیره اومحمدجان.

( غلام عشق ) ۱۳۵۷هـ ل سناریست:داود فاراني، داستان: توریالي شفق، فلم اخستو نکی: انجنیر لطیف، سوندمین: سیدعلي عالمي. منتاژور: قدیر رشیدي. لوبغاړي: شاه جهان جهانګیري، مینا، عبدالله، اکرم خرمي، فتح الله پرند اومحمد جان ګورن

( غارتگران ) ۱۶ ملي رنګه. سناریست ډایرکټر: عباس شبان، فلم اخستو نکی: عمر مقدم. لوبغاړي: هاشم، علي جوادي، اکرم خرمي، محمد جان ګورن، سلیمان علم اونیك بین.

( جنایت کاران ) شفق فلم ۱۳۵۸. سناریست او ډایرکټر، توریالي شفق، فلم اخستو نکی انجنیر لطیف سوند مین: عبدالرحمن صفتي. منتاژور: قدیر رشیدي، لابراتوار: سلطان استالفي، احمد شاه اوسید مصطفي. لوبغاړي: ابراهیم طغیان، ناهید، محمدجان ګورن.تورپیکي، نوریه، ایوب معصومي، شاه محمود موسي رادمنش اوسلام سنګي.

( خانه ۵۵۵ ):ګلستان فلم ۱۳۵۹. سناریست ا وډایرکټر: مهدي دعاګوي. فلم اخستونکی: انجنیر لطیف، سوندمین: عبدالرحمن صفتي،منتاژور، حکیم مرزي. لابراتوار:سلطان استالفي، فاروق نیکزاد، احمد شاه، سیدمصطفي ـ محمد ناصر باقر، لوبغاړي: فرید ( فیض ) عاقله امیرزاد، ذکیه ( داماچ ).

( عشق من میهن من ): ۱۳٦۲. تور اوسپین ۳۵ ملي. پروډیوسر، سناریست او ډایرکټر:توریالي شفق، فلم اخستو نکی: سلیمان ( علم )، سوند مین: عبدالرحمن صفتي، منتاژور: توریالي شفق، لابراتوار: سلطان استالفي، احمدشاه فاروق نیکزاد، سیدمصطفي رشیدي. لوبغاړي: ابراهیم طغیان،ذکیه داماچ،عبدالله وطندو ست، اکرم خرمي، موسي رادمنش، عزیز فروغ، تیمورحکیمیا ر، عادله ادیم، فتح الله پرند.

( دهکده ها بیدار میشوند ) ۱۳٦۱. فلم ۳۵ ملي تور اوسپین. ډایرکټر او سناریست:عبدالخالق علیل، فلم اخستو نکی: محمود نوري، منتاژور: قدیر رشیدي، سوند مین: عبدالرحمن صفتي، لابراتوار: سلطان استالفي، احمد شاه سیدمصطفي رشیدي، پرود کشن منیجر: کبیردراني لوبغاړي: قادر فرخ، نغمه، ناصرعزیز، عزیزاله هدف، سایره اعظم، نجیب الله سلطاني، اکرم خرمي، یاسین خموش.

( ګناه )۱۳٦۳هـ.ل۳۵ ملي تور اوسپین. سناریست او ډایرکټر: انجنیر لطیف، فلم اخستو نکی:انجنیر لطیف، منتاژور:حکیم مرزي، سوند مین: عبدالرحمن صفتي، لابراتوار: سلطان استالفي، احمد شاه، سید مصطفي رشیدي، فاروق نیکزاد. لوبغاړي:سلام سنګي،خاطره بصیره،فقیرنبي،فیض، نصیر القاس، معرفت شاه، حشمت فنایي، تورپیکي، اوکریم نایل.

( اختر مسخره )۱۳٦۰ هـ.ل: افغان فلم تور اوسپین۳۵ ملي وخت یو نیم ساعت. سناریست، انجنیر لطیف او روف راصع، ډایرکټر، انجنیر لطیف- سوندمین: سیدعلي، منتاژور: قدیررشیدي،کمره مین: وحیدالله رمق، پرودکشن منیجر:واحدي،لابراتوار:سلطان استالفي،احمدشاه،سید مصطفي رشیدي، فاروق

**نیکزاد.لوبغاړي فقیر نبي، ناصرعزیز، بصیره، سلام سنګي، ابراهیم طغیان، معرفت شاه...**

**( تا بستان داغ کابل۱۳۶۲ ) هـ ش ( ډایرکټر:ولي لطیفي او علي همرا یف**

**( ګامهاي استوار ) ۱۳۶۳ افغان فلم تور اوسپین ۳۵ملي. ډایرکټر، توریالي شفق، سناریست: توریالي شفق، منتاژور: قدیررشیدي، فلم اخستو نکی: محمود نور ی- سوند مین، عبدالرحمن صفتي، لابراتوا ر:سلطان استالفي، فاروق نیکزاد، احمدشاه سیدمصطفي رشیدي..**
**لوبغاړي: ابراهیم طغیان، عاقله ایمزاده، عادله ادیم- حبیب زړګي، شاه محمود، اکرم خرمي فتح الله پرند، موسي رادمنش، تیمور حکمیار، جیلاني، فتح الله پرند.**

**( فرار ): افغان فلم. رنګه ۳۵ملي ۱۳۶۲. سناریست او ډایرکټر: انجنیر لطیف، فلم اخستو نکی: قادر طاهري، منتاژور: حکیم مرزي، سوند مین: عبدالرحمن صفتي، لابراتوار: ازبك فلم، پرو دکشن منیجر: عاطف،لوبغاړي: ناصرعزیز، عادله ادیم، انوررضا زاده، معرفت شاه، خورشید اسدالله آرام او سلام سنګي.**

**( لحظه ها ) ۱۳۶۳ هـ ل ۳۵ ملي تور اوسپین. سناریست او ډایرکټر: واحد نظري، فلم اخستو نکی: صدیق امین زی، سوند مین: عبدالرحمن صفتي، منتاژور: قدیر رشیدي، پرودکشن منیجر: فضل احمد، لابراتوار: سلطان استالفي، فاروق نیکزاد، خواجه احمدشاه، لوبغاړي: قادر فرخ، ذکیه داماچ، عبدالله صمدي، عزیزالله هدف، مرتضی بایقرا، عبادالله پتنګ،**

**( ستاره ): ډایرکټر او سناریست:جلال پیروز،تور اوسپین۳۵ ملي، وخت ٤٥ دقیقي**

**( زمین ):ډایرکټر:جلال پیروز، فلم اخستونکی:صدیق امینزي، منتاژور: قدیررشیدي، عبدالرحمن صفتي، لابراتوار: سلطان استالفي، احمد شاه، فاروق نیکزاد، پرودکشن منیجر: فضل احمد، لوبغاړي: ذکیه داماچ، قادر فرخ، عزیزالله هدف او الفت هروي.**

**( مرد ها ره قول اس ) ۱۳۶۳ افغانفلم، رنګه ۳۵ملي عادي. داستان: اکرم عثمان، سناریست اوډایرکټر: سعید ورکزي، فلم اخستونکی: قادر طاهري، سوندمین: عبدالر حمن صفتي، پرودکشن منیجر: فضل احمد، منتاژور: حکیم مرزي. لوبغاړي: عادله ادیم، سعید ورکزي، خورشید، اکرم خرمي، امین رحیمي، ولي تلاش**

( بهارمیشود ۱۳٦٤ ) هـ.ل کال:ډایرکټر:رفیق یحیایي،ولی لطیفی فلم اخستو نکی: وحیداله رمق منتاژور: حکیم مرزی.. لوبغاړی: رفیق یحیایې،ولی لطیفی،وزیر محمد نگهت

( صبورسرباز ): ۳۵ ملي رنگه ۱۳٦٤ افغانفلم. سناریست او ډایرکټر: انجنیر لطیف. فلم اخستو نکی: قادر طاهري، منتاژور: قدیر رشیدي.پرودکشن مینجر: عاطف. لوبغاړي: ناصر عزیز، عادله ادیم، ابراهیم طغیان، همایون پائیز، صبورطوفان اوسلام سنگي، اسدالله آرام، زرغونه آرام، حشمت فنایي، سایره اعظم، جان محمد حیدري

( پرنده های مهاجر ) ۱۳٦٥ هـ.ل سناریست: سرور انوری،ډایرکټر: انجنیر لطیف رنگه ۳۵ملي، فلم اخستو نکی: قادر طاهري،سوند مین: عبدالرحمن صفتي، منتاژور: حکیم مرزی.پرودکشن حیدری. لوبغاړي: عادله ادیم، قادرفرخ،

( مسافر ) ۱۳٦٥هـ ل ۳۵ ملي تور اوسپین. سناریست ډایرکټر: سعید ورکزی، فلم اخستو نکی: قادر طاهری او سید موجود حسینی، منتاژور: قدیر رشیدي..لوبغاړي: نصیر القاص، هما مستمندي، کریم نایل، امین رحیمي، فتح اله پرند، عارف الدین.

( شکست محاصره ) ۱۳٦٦ هـ.ل کال: بشیر رویگر ډایرکټر فقیر نبي، فلم اخستو نکی:وحیداله رمق، منتاژور: قدیر رشیدي.

( غیرت )۱۳٦۷هـ.ل کال: ډایرکټر عباس شبان،

( بابا ) ۱۳٦۷ هـ.ل کال ډایرکټر:حیدري، فلم اخستو نکی: نورهاشم ابیر،، منتاژور: حکیم مرزی.پرودکشن: محسنی. لوبغاړي: سلام سنگي، هما یون پائیز، ولي تلاش. اسداله ارام،

( بیگانه ) هـ ل ۳۵ ملي رنگه. سناریست او ډایرکټر: صدیق برمک، ( ددیپلوم کار ) لوبغاړي: سلام سنگي، ابرا هیم طغیان، عادله ادیم، ظا هر گرندی

( ارمان )۱۳٦۸ هل رنگه ۳۵ملي متر.سناریستان: احدزوند، واحد نظري، ډایرکټر:واحدنظري، فلم اخستونکی: قادرطا هري، منتاژ: قدیر رشیدي. سوند مین: نورالله ملتغت، منتاژور: قدیر رشیدي.پرودکشن مینجر: عاطف. موزیک: شادکام

لومړی په پښتو ژبه فلم..لوبغاړي: عبدالله صمدي، مرتضی بایقرا، عادله ادیم،پلارجان محمد،فرید فیض، عبادله پتنک، عثمان علیم، میر ویس پتنگ
( سفر ) ۱۳٦۷ هـ.ل تور اوسپین. سناریست او ډایرکټر سعید ورکزی، فلم اخستو نکی: قادر طاهري، منتاژور: قدیر رشیدي. لوبغاړي: سعیدورکزی، فریده همرا، امین رحیمي، حنان زمریال

( خاکستر )١٣٦٧ هـ ل ٣٥ ملي، رنګه، سناریست او ډایرکتر سعید ورکزی، فلم اخستونکی: قادر طا هري، منتاژ: قدیر رشیدي. سوند مین: عبدالرحمن صفتي، منتاژور: قدیر رشیدي.پرودکشن مینجر: میر ابو بکر عاطف. لو بغاړي: عبدالله صمدي، هما مستمندي، امین رحیمي،

( رد پا ) ١٣٦٧هـ ل ٣٥ ملي، سیاه وسپید.سناریست عظیم جسور، ډایرکتر: فقیر نبي، فلم اخیستو نکی:سید موحود حسیني، منتا ژور:قدیر رشیدي، لو بغاړي: قادر فرخ،فرید فیض،فریده همراه...

( حماسه عشق )١٣٦٧هل ٣٥ ملي رنګه. سناریست او ډایرکتر: لطیف احمدي، فلم اخستو نکی: وحیداله رمق، سوند مین: نورالله ملتفت، منتاژور: حکیم مرزی.،پرودکشن محسنی. لوبغاړي: قادر فرخ، حبیب زرګی، اسدالله آرام، یاسمین یارمل...

( عروج ) ١٣٦٩ هـ ل. رنګه ٣٥ملي سناریست:صدیق برمک ډایرکتر: نورهاشم ابیر، فلم اخستو نکی: سید موجود حسیني سوند مین: قاسم، منتاژور: قدیر رشیدي.پرودکشن مینجر: عاطف. لوبغاړي.-همایون پا ئیز، ولي تلاش، اسد تاجزی، کریم پور او نور

( دکوڅو سرګردان ) ١٣٦٩ هـ ل ډایرکتر: احد ژوند ٣٥ملي تور او سپین، فلم اخستونکی: نور هاشم آبیر، سوند مین: قاسم، منتاژور: قدیررشیدي. پرودکشن مینجر: عاطف. لوبغاړي: اسداله انیل، عزیز اله هدف، نیک محمد سویتا، او نور

( د هغي له سترګو څخه ) ډایرکتر میثاق کاظمي

( په غلطو لاسونوکي ) ٢٠٠١ ) ډایرکتر: ولي رزاقي امریکا کي
( اختطاف ) ډایر کتر معرفتشاه، په روسیه کي..
( افتاب بي غروب ) ډایرکتر جوانشیر حیدري، په تاجکستان کي..
( درسر زمین بیګانه ) ډایرکتر آصفي، په امریکا کي..
( چلنجر )١٩٩٨ م پرو دیوسر:قیوم سلیمان خیل، جرمني
( سایه آتش ):٢٠٠٠ ډایرکتر سعید اورکزي، په امریکا کي
( ګمراه ) ٢٠٠٢ م سناریست اوډایرکتر: واحد نظري پروډیو سر: فهیم فیض. په استرا لیا کي.
( حقیقت ګمشده افغانستان ) ٢٠٠٣ ډایرکتر: یاسمین ملک نصر. امریکا.
( هجرت ) ٢٠٠٤م سناریست اوډایرکتر: واحد نظري پروډیو سر ستوری منګل. په هالند کي..لوبغاړی:
( په یوازیتوب کي ژړا ):٢٠٠٥ ډایرکتر: سعید اورکزي. په امریکا کي

( دختر افغان ) ۲۰۰۲ ډایرکټر: یوسف رویان، په انګلستان کي
( رویا ) ۱۹۹۵ ډایرکټر:حشمت خان، په هند کي.
( حادثه )۱۹۹۹ م ډایرکټر: نذیر مردمي، په امریکا کي.
( پروفیسور ) ۲۰۰۹ډایرکټر تنویر دظاهر هویدا
اسامه: ۱۳۸۱سناریست او ډایرکټر : صدیق برمک
( جنګ تر یاک ):۱۳۸۷ ډایر کټر صدیق برمک
( خاک اوخاکستر ) ډایرکټر عتیق رحیمی سناریو دایرانی سنار یست کامبوزیاپرتوی دفرا نسی محصول
( سه نقطه ) سنار یو او ډآ یرکټ، رویا سادات،
.( بچه کابلی ) افغانی فرانسوی ګډ فلم ډایرکټر برمک اکرم، سناریو ( ژان کلودکاریر لیکلی دی.
( سیبي از بهشت ) ډایرکټر همایون مروت
( من اسپ مي خواهم نه زن ) ډایرکټر همایون پائیز
( ګلچهره ) لنډ فلم،ډایرکټر عبدالرشید عظیمي
( نجات ): ډایرکټر صبا سحر:
.( قانون ): ډایرکټر صبا سحر:
( ګرګ ګرسنه ) اسد صلاحی
( اشک خون ) ۱۹۹۰ میلادی «. سعید رحیم سعیدی

# سينمايي مستند فلمونه د ۱۳۵۲ ـ ۱۳۶۸

۱۳۵۲:۱ ـ اعلان کابل پلاستیك۲ـ اعلان آر ایشگاه
۱۳۵۷ : ۱ـ رهايي محبوسين مركز ولايات ۲ـ برافراشتن بيرق ملي و دولتي۳ـ سفر هيئت عاليرتبه حزبي ودولتي به اتحاد شوري ٤ـ دام مرگ
۱۳۵۸ : ۱ـ سالگرد انقلاب ثور ۲ـ كنفرانس صلح و همبستگي اسيا و افريقا ۳ـ سرشماري نفوس ٤ـ رهايي محبوسين سياسي ٥ـ بزكشي ٦ـحيوانات باغ وحش
۱۳۵۹ : ۱ـ برافراشتن بير ق ملي و دولتي ۲ـ دومين سالگرد انقلاب ثور ـ آموزش در روند انقلاب ٤ـ انقلاب در روند تكامل ٥ـ تجاوز متوقف ٦ـ جشن جوانان ۷ـ عيد قربان ۸ـ سفر هيئت عاليرتبه حزبي و دولتي به اتحاد شوري ۹ـ كنفرا نس سراسري زنان ۱۰، شكست سكوت
۱۳٦۰ : ۱ـ همبستگي توده ها با انقلاب ۲ـ سومين سالگرد انقلاب ثور ۳ـ روز دهقان ٤ـ جبهه وسيع ملي پدر وطن ٥ـ سفر هيئت عاليرتبه حزبي و دولتي به چكوسلواكيا ٦ـ شئون اسلامي ۷ـ نقش زن در جامعه ۸ـ كنفرانس صلح و همبستگي آسيا و افريقا ۹ـ سفر هيئت عاليرتبه حزبي و دولتي به بلغاريا ۱۰ـ كنفرانس سرتاسري حزب دموكراتيك خلق افغانستان ۱۱ـ دستگيري از بينوايان.
۱۳٦۱ : ـ ماشه ها به امر كي كشيده ميشود۲ـ شمه از دست آورد هاي انقلاب ۳ـ چهارمين سالگرد انقلاب ثور ٤ـ پل دوستي ٥ـ صنايع دستي. سفر عاليرتبه حزبي و دولتي به آلمان دموكراتيك ۷ـ تضمين آزادي دين و مذهب ۸ـ سفر عاليرتبه حزبي و دولتي به مجارستان ۹ـ نداي صلح ۱۰ حج بيت الله شريف ۱۱ـ جوانان ۱۲ـ بازديد كارمل از ولايت هرات ۱۳ـ نقش كارگر در جامعه.
۱۳٦۲ : ۱ـ پنجمين سالگرد انقلاب ثور ۲ـ كنفرانس دول غير منسلك در دهـل ي ـ بازديد ببرك كارمل از قندهار ـ سفر عاليرتبه حزبي و دولتي به منگوليا ٥ـ اسامبله صلح جهاني پراگ ٦ـ حزب و مردم باهم اند ۷ـبيستمين سالگرد پوليتخنيك ۸ـ بازديد كارمل از شهر كابل ۹ـ ځارندوي نوين ۱۰ـ سواد آموزي.
۱۳٦۳ : ۱ـ سواد هستي ماست ۲ـ سواد مشعل زندگيست ۳ـ جرگه علما و روحانيون ٤ـ ششمين سالگرد انقلاب ثور ٥ـ در راه پيروزي ٦ـ كنفرانس افسو دركابل ۷ـ پرورشگاه وطن ۸ـ كمبينات خانه سازي ۹ـ فستيوال دوستي افغان و

شوري ۱۰- اقوام و قبایل ۱۱- تصویر ها سخن میگویند ۱۲- حزب دموکراتیک خلق افغانستان پیشاهنگ عمل انقلابي ۱۳- *یکروز در حربي پوهنتون*.

۱۳٦٤: ۱- مبارزه با مرگ ۲- مبارزه بر ضد حریق ۳- هفتمین سالگرد انقلاب ثور ٤- ۲۵ مین سالگرد کارخانه جات جنگلك ٥- ۲۰ مین سالگرد ح د خ ا ٦- فستیوال ما با تو هستیم ۷- دهه زن ۸- لویه جرگه ۹- انتخابات ارگان هاي محلي ۱۰- سفر کارمل به کشور پولیند ۱۱- کانال ننگرهار.

:-جرگه وطن ۲-جوانان ۳-کوپراتیف ذکرالله شهید ٤- ترانسپورت ٥- بامیان ٦- کودکان ۷- هرات ۸- عودت شش غند قواي شوري ۹-کنفرانس کشور هاي نا منسلك در زمبابوي ۱۰- اردو

۱۱- همبستگي ۱۲- ماریاي پراشوتیست ۱۳- سفر هیئت حزبي و دولتي با اتحاد شوري ۱٤- بیانیه نجیب الله با ارتباط مصالحه ملي.
۱۳٦٦:۱- متشبثین خصوصي ۲- زنان افغانستان ۳- افغانستان معاصر ٤- افتتاح پوهنتون نظامي و سیاسي ٥-سفر عالیرتبه دولتي به عراق ٦- جبهه ملي ۷- آشتي ملي ۸- صلح در پرتو اسلام ۹- فستیوال جوانان در هاوانا ۱۰- اردوي انقلابي ۱۱- کنفرانس سراسري ح. د. خ. ا ۱۲- آرزو ۱۳- لویه جرگه۱٤- خواب طلایي.
